خراسان غږ

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندویه اداره وړاندې کوي

دروا غجن امير المؤمنين !

د تصوف بنیاد نړولو سره شرافت حاصلول

د تصوف دصوفیانو د شرکي عقایدو ، خرافاتو او نورو بې لاریو په اړه د علمي ، تحقیقاتي او معلوماتي سلسلې شپږمه برخه چې د صوفیانو د مشهورو کتابونو څخه ددوی په عقیده کې د شرک په ګوته کول او پرې مدلل او مستند رد.

ملا یعقوب په خپل کفر اعتراف وکړ

تاسې به په دې مقاله کې د کفارو د ګټو او سرحداتو د دفاع او د بایډن د ملېشو د مسؤل ملا یعقوب هغه اعترافات ولولئ چې خپله يي په خپلو کفري کړنو کړي ...

امریکا په خپل فکر هدف ته رسیدلې

د وحې په خاوره کې صلیبي حمله

د سعودي د طاغوت په کوربه توب د اسلامي دولت په خلاف د نړۍ د ټولو کفارو د ایتلاف اصلیت او حقیقت، د عربو په جزیره کې څه تیرېږي او ددغه ایتلاف پایلې به څه وي دا حر څه په همدې مقاله کې.

طالبان جنسي لیوان

په دغه مقاله کې به تاسې د طالب ملېشو د عیاشیو ، فحاشیو، بداخلاقیو، بې لاریو نشو، تمشو او خرمستیو په اړه هر اړخیز بحث ولولئ، طالب ملېشې وپیژنئ او په خلاف يي هر اړخیزه مبارزه خپله کړئ.

دیوبندیان څوک دي ؟

که غواړئ د دیوبندیانو له شرکي عقائدو او ددوی له نورو ګمراه افکارو او اخلاقو څان خبر کړئ نو دغه علمي او تحقیقاتي لړۍ تعقیب کړئ.

24 ګڼه

یکشنبه 22 ذو الحجه 1444هـ

مؤسسة العزائم الإعلامية

يې وړاندې کوي

سرليک

خراسان غږ مجله ۲۴ مه گڼه ذو الحجه ۱۴۴۴ هـ

سرمقاله:

03 دروازغجن أمير المؤمنين (!)

سياسي برخه:

12 د تصوف بنياد نړولو سره شرافت حاصلول (6)

24 امريکا په خپل فکر هدف ته رسيدلې

31 ملا يعقوب هم په خپل کفر اعتراف وکړ

42 طالبان جنسي ليوان

46 د وحې په خاوره کې صليبي حمله

51 ديوبنديان څوک دي؟ (4)

ديني برخه:

61 د الله د نصرت او تمکين اسباب (3)

لنډه کيسه:

77 الله يې ارمان پوره کړ!

دروغجن

أمير المؤمنين (!)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين محمد وآله وصحبه أجمعين أما بعد: فقد قال الله عز وجل: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ [التوبة: 119].

دا دی یو څل بیا د طالب مشرکینو لوی طاغوت "هبة اخونزاده" ته منسوب یو پیغام د لوی اختر په مناسبت په لیکلي بڼه خپور شوی چې په دغه پیغام کې د جعل، تزویر او دوکې څخه کار اخیستل شوی او ټول حقیقتونه په کې تر خاورو لاندې شوي، دغه پیغام چې د یو څو ټکو نه په کې کار اخیستل شوی؛ په لنډه توګه یې دلته رانقلوو او بیا پرې د الله په مدد سره بحث کوو، دي لپاره چې امت مسلمه په حقیقت اګاه شي: په دغه پیغام کې دا راروانې خبرې شوي دي:

۱ـ د طالبانو صوفي اییزم او دیموکراتیک نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکړل شوی دی،

۲ـ د دیني شعائرو د لوړتیا او د دیني مراکزو د پراختیا او تقویې خبره شوې،

۳ـ د افغانستان د استقلال، خپلواکۍ او د اشغال خاتمې ته اشاره شوې،

۴ـ د ښځو د بې حجابۍ او ګمراهۍ مخنیوي ته اشاره شوې،

۵ـ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضې د عملي کولو ادعا،

۶ـ د نورو په کورنیو چارو کې د مداخلې نه کولو ټینګار،

۷ـ د دیني احکامو لکه حدود، قصاص.. د عملي اجراء ادعا،

۸ـ په فلسطینیانو د اسرائیلي ځواکونو ظلمونه غندل شوي،

دغه یې د پیغام مهم ټکي دي چې په دې سره یې اسلامي امت ته د خپلې اصلي څیرې د بدلون کوشش کړی دی، نو راځئ وس د دغه خبرو حقیقت او شرعي جائزه واورئ بإذن الله:

***

د اسلامي نظام شرعي تحلیل:

دوی چې خپل نافذه نظام ته د اسلامي نظام نوم ورکوي دا په کوم اساس ورکوي ایا رښتیا هم د دوی نظام اسلامي دی؟ او که نا دوی د اسلامي نظام په تعریف کې ګمراه شوي او هغه چې اسلام نه دی، اسلام یې ګڼلی دی، نو دې باره کې مونږ اسلامي نظام تاسو ته د علماؤ په اصطلاح کې درپیژنو او د هغې شرعي دندې او وظیفې او د هغې د مشر شرعي اوصاف یا شرطونه تاسو ته درپیژنو نو بیا به د طالب ملیشو ځیني کارونه چې په نظام او ارکانو کې یې شتون لري؛ د شرعي نظام سره پرتله کړو او وبه ګورو چې دوی په خپله دعوه کې څومره ریښتني یا دروغژن دي. هسې خو ټول نافذه طاغوتي نظامونه د اسلامي نظام دعوه کوي چې طالبان یې هم ورسره مني او د اسلامي نظامونو په سترګه ورته ګوري او حاکمانو ته یې د مسلمانانو خطاب کوي او د ښو اړیکو وړاندیز ورته کوي، خو دا خبرې یواځې په دعوو نه ثابتیږي بلکې ددې دعوې نه مخکې څه کارونه پکار دي چې کله هغه ترسره شي نو بیا به ورته د اسلامي نظام نوم ورکول صحیح وي چې خلاف به یې بغاوت وي.

نو د اسلامي نظام تعریف ته راځو:

إمام ماوردي رحمه الله وایي: الإمامة موضوعة لخلافة النبوة في حراسة الدين وسياسة الدنيا به. ا.هـ (الأحكام السلطانية). ژباړه: امامت د دې لپاره رامنځته شوی چې د دین په ساتنه او د دنیا د کارونو په اداره کولو کې به د نبوت جانشیني کوي. نو د تعریف نه دا معلومه شوه چې اسلامي نظام به د دین هر اړخیزه ساتنه کوي او دنیایي ټول امور به په دین اداره کوي په نورو جوړو شویو قوانینو به یې نه اداره کوي. او د اسلامي نظام مشر چې په امیر المؤمنین، خلیفة المسلمین او امام سره یادیږي د دې هم خپل ځانګړي شرطونه په شریعت کې ذکر دي چې هر څوک د دې لقب مستحق نه دی، د شرطونو لنډیز یې په دې ډول دی: امام بدر الدين بن جماعة رحمه الله وایي: أن يكون الإمام ذكرا، حرا، بالغا، عاقلا، مسلما، عدلا، شجاعا، قرشيا، عالما، كافيا لما يتولاه من سياسة الأمة ومصالحها. ا.هـ (تحرير الأحكام في تدبير أهل الإسلام ٥١).

ژباړه: دا چې امام به نارینه، آزاد، بالغ، عاقل، مسلمان، عادل، زړور، قریشي، پوه، د ملت د سیاست او ګټو لپاره به کافي وي. ځیني نور شرطونه ورسره هم

علماؤزيات کړي دي لکه مهاجرينو ته به پناه ورکوي او ساتنه به يې کوي، دليل پرې دا حديث دی: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : " إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ، (رواه مسلم)**

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: يقيناً امام به ډال وي چې د هغه په ملګرتيا کې به جنګ کېدلی شي او په هغې سره به ځان ساتلی شي.

بل شرط يې دا دی چې تمکين يا قدرت به لري چې دغه شرط يې د سورة الحج د (۴۱) نمبر ايت نه معلوميږي. او بل شرط يې دا دی چې ټاکنه به يې په يو د دوه طريقو سره شوي وي: يا به اهل الحل والعقد شورى ټاکلی وي او يا به د مخکې خليفه په وصيت سره ټاکل شوی وي چې دېته استخلاف وايي. او هر چې امامت د متغلب دی نو هغه په خاصو حالاتو کې دی چې له پيل څخه پرې امر نه دی شوی. خو دا يوه خبره دلته ياد ساتل پکار دي چې د قريشيت او ځيني نور شرطونه په ولي عهد خليفه کې هم ضرور دي او تري ساقط نه دي، چې دا خبره په "امامت عظمى د دميجي" په اول جلد کې په شرطونو د استخلاف کې ذکر ده. نو دا خو د اسلامي نظام د مشر شرطونه و وس يې د واجباتو يادونه کوو: کله چې د امير المؤمنين په واجباتو کې فکر وشي، نو په دوه کارونو کې يې اجمال ممکن دی:

اول: د دين حفاظت کول

دويم: د دنيا کارونه په دين سره اداره کول.

چې تفصيل د دغه واجباتو د السياسة الشرعية په کتابونو کې علماؤ داسې کړی:

اول واجب: د ژوند په ټولو کارونو کې پوره دين قائمول او خلک ورته رابلل او د دين حفاظت او مدد کول، امر په نيکو او منع د بديو کول او د منافقانو او بدعتيانو مخنيوی کول.

دويم واجب: د عدل فيصلي کول او د مظلوم مدد کول او هر چا ته خپل حق ورکول او د قضاء احکام نافذول.

دريم واجب: په علاقو کې امن راوستل.

څلورم واجب: د الله په لاره کې جهاد کول او د مجاهدينو تربيت کول او د جهاد لپاره سامانونه او اسلحې تيارول.

پنځم واجب: اقتصاد برابرول او دې باره کې خلکو ته د کار او کسب اسباب برابرول؛ لکه زراعت، تجارت، کار خانې او داسې نور، همدا رنګه د بيت المال لپاره زکاتونه جمع کول او په شرعي مصارفو کې يې لګول او خلکو ته خپل حقونه د بيت المال څخه پوره ورکول او د غريبانو معلومات کول او کومک ورسره کول.

شپږم واجب: داسې اميران او وزيران ټاکل چې امانتدار وي، خيرخواهان او پوخ کار والا خلک وي.

اووم واجب: د دولت اسلامي د کارونو کتنه پخپله کول او په علاقو کې د شريعت او د سياست کتنه کول او د رعيت احوال معلومول او د خلکو په منځ کې عدل معلومول او د اميرانو او وزيرانو سره د هغوی په کار کې محاسبه کول.

نو الغرض کله چې يو نظام د پورته ذکر شوو شرطونو سره سم موجود شي نو هغه به اسلامي نظام وي چې مشر ته به يې د امير المؤمنين لقب حاصل وي او په ځمکه به يې د دارالاسلام اطلاق کيږي. وس د دې تفصيل نه وروسته د طالبانو نافذ نظام ته راځو کوم ته چې هغوی د اسلامي نظام نوم ورکوي، ايا د دوی په امير کې دغه شرعي اوصاف يا شرطونه شتون لري لکه عقيده د توحيد، قريشيت او داسې نور، چې اجماعي شرطونه دي؟ ايا د دوی په نظام کې مقاصد يا واجبات د امامت ترسره کيږي لکه د توحيد عقيده خلکو کې خپرول، د الله په لاره کې د کفارو او مشرکينو سره جهاد کول، او داسې نور !! ايا د دوی په نظام کې د دين ساتنه کيږي او هم د دنيا ټول کارونه په دين سره اداره کيږي چې اسلامي نظام ورته وويل شي؟ دغه دعوې سره دا پورته ذکر شوي او دېته ورته نور ډېر سوالونه راپيدا کيږي چې طالب د دي د ځواب نه عاجز دی، دا خو د اهل السنة والجماعة د علماؤ په نزد د اسلامي نظام اوصاف يا شرايط و چې تاسو وپيژندل چې د شرعي سياست په

کتابونو کې یې پوره تفصیل شوی دی مونږ ورته هسې اشاره وکړه. اوس د طالب ملیشو په نزد هم د اسلامي نظام تعریف واورئ کوم چې د هغوی د عملي منشور نه معلومیږي او مجبوراً یا اضطراراً ترې انکار نشي کولی: طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایې چې هر چا ته په کې د عقیدې ازادي وي که رافضي مرتد وي او که سیکولر، کمونست، هندو، او یا قبرپرست مشرک وي، دې ټولو ته د عبادت ازادي، د عبادت ځایونو جوړولو ازادي او هم ورته د دعوت ازادي ده. له دوی څخه هر یو کولی شي چې خپل شرکي مراسم ښه په ازاده طریقه د امنیت په فضا کې ادا کړي، د عبادت ځایونو ساتنه یې هم کیږي.

طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایي چې دیموکراسي او د انسانانو له خوا جوړشوي قوانین په کې حاکم وي او د الله قانون په کې شاه ته غورځول شوی وي، نو څکه خو دوی د دغه دیمکراتیک نظام حاکمانو ته سوچه مسلمانان وایي او د عوامو او د حکومت تر منځ یې د جوړجاړي غوښتونکي دي لکه څنګه چې دوی په خپل پیغام کې د سوډان د دیمکراتیک حکومت او د ولس تر منځ د جوړ جاړي غوښتنه کړې.

طالب ملیشي اسلامي نظام هغه ته وایي چې په ملګرو ملتونو کې عضویت ولري او د هغې کفري منشور ته تسلیم شي، دغه منشور چې طالب ملیشو، او د دوی په نزد د اسلام علمبرداره نظامونو ورسره منلی دی؛ ځینې مواد یې د فایدې لپاره دلته رانقلوو:

اوله ماده: المحافظة على السلام والأمن الدوليين.

ژباړه: د نړیوالې سولې او امنیت ساتل.

دویمه ماده: حل النزاعات طبقا لمبادئ العدالة والقانون الدولي.

ژباړه: د عدالت او نړیوالو قوانینو له اصولو سره سم د شخړو حل کول.

دریمه ماده: تنمية العلاقات الودية بين الأمم. ژباړه: د هیوادونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراختیا.

نو د جهاد په نوم په کې هیڅ نشته بلکې ښه ګاونډیتوب، ښې اړیکې او د سفیرانو تبادله په نورمال ډول ترسره کول.

څلورمه ماده: العمل على زيادة احترام حقوق الإنسان، وحرياته الأساسية؛ بدون تمييز بين العنصر أو الجنس، أو اللغة أو الدين، ولاتفريق بين الرجال والنساء.

ژباړه: د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د درناوي لپاره کار کول؛ د نژاد، جنس، ژبې او مذهب تر منځ له تبعیض پرته او د نارینه او ښځینه تر منځ له تبعیض پرته. نو دغه منشور چې په دې او دې ته ورته نورو ډېرو کفري مادو باندې مشتمل دی، طالب ملیشو ورسره منلی دی او ورسره امضاء کړی یې دی. دوی چې د نړیوالې سولې ذمه واري په غاړه اخستې ده او هم د نړۍ او د سیمې هیوادونو سره په دوستانه اړیکو ټینګار کوي، سفیران تبادله کوي، او د بشري حقونو په نوم مؤسسو ته یې اجازه ورکړې ده او دین یا مذهب ته اعتبار نه ورکوي، دا ټول یې د دغه منشور عملي بڼه ده.

طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایي چې نشه یي توکي لکه نصوار، سیګرېټ او چرسو ته په کې ازادي وي او هم په کې د زنانه او نارینه اختلاط ته ازادي وي.

طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایي چې د مؤحدینو سره په کې دښمني وي او د محاربو کفارو او مشرکینو سره په کې دوستي وي او د توحید په دعوت کلکه پابندي وي.

طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایي چې د هیواد ارضي تمامیت یې د سایکس و بیکو یا د ډیورنډ کافر له خوا شوی وي او د هغې نه مخکې د یو انچ په اندازه د پر مختګ اراده نه لري او نه هم د دغه مقررو پولو نه بهر ځان مسؤل ګڼي که څوک هر څه کوي که په الله کفر کوي او که په رسول الله کفر کوي، که مسلمانانو باندې د کفارو لخوا ظلم کیږي او که د دین د مقدساتو سپکاوی کیږي خو د دوی د پولې نه چې بهر وي، دوی یې پوښتنه خپله دیني وجیبه نه ګڼي بلکې دوی خپله دیني وجیبه د ډیورنډ کافر له خوا په مقرر شوې پولې او ارضي تمامیت پورې رابنده بولي نو څکه یې د ساتنې ټینګار هم کوي.

طالب ملیشې اسلامي نظام هغه ته وایي چې ټول شموله وي چې د وطن هر کافر او مرتد په کې ځای

ولري لکه روافض، کمونستان، سیکولران او صوفیه مشرکین، چې په اسلام کې د داسې مرتدینو د قتل امر راغلی دی.

او همداسې دا کوم طاغوتي حکومتونه چې اسلام ته منسوب دي او طالبان یې اسلامي ګڼي او ښې رغنده اقتصادي او سیاسي اړیکي ورسره پالل غواړي، که د دغه حکومتونو په دیموکراتیکو او کفري قوانینو یو نظر وشي او د حربي کفارو سره یې په موالاتو نظر وشي او هم په نورو نواقضو، نو بیا به د طالبانو د اسلامي نظام تعبیر نور هم واضح شي چې طالبان اسلامي نظام هغه ته وایي چې دیموکراسي، صوفي اییزم او نور هر قسم شرک او کفر په کې نافذ وي، نو وس مونږ باید د طالبانو د اسلامي نظام په تعبیر پوه شو او تش په اسلامي نوم کارولو یې دوکه نشو بلکې د دغه نوم تر شاه لویه فلسفه پرته ده چې هغې ته یې فکر پکار دی، نو له دې امله مونږ وایو چې طالبان موجوده کومو نظامونو ته د اسلامي نظام نوم کاروي د دغه نظامونو بیلګه په اسلامي تاریخ کې شتون نه لري او نه هم اهل السنة والجماعة علماؤ دغسې نظامونو ته اسلامي نوم کارولی بلکې د داسې مختلطو نظامونو په اړه د سلفو فتوې واضح دي لکه د تاتاریانو د مختلط نظام په اړه د امام ابن کثیر فتوه، او د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله او د شنقیطي رحمه الله او د نورو مشهور ائمه و فتواوې په دې اړه کتلی شئ.

***

د دیني شعائرو د لوړتیا او د دیني مراکزو د پراختیا او تقویې تحلیل:

دا چې دوی هر ځای کې دا دعوه کوي چې د امارت په راتللو سره دیني شعائر لوړ شوي دي او یا دیني مراکز پراخه شوي دي نو د دې په اړه مونږ وایو: چې دیني شعائر خو ډېر یو پراخه تعبیر دی چې د اسلام غټو، غټو احکامو ته شامل دی لکه د بوتانو ماتول او د توحید اقامه کول، د الله قانون حاکمول، د کفارو سره جهاد کول او داسې نور ډېر احکام د دې عنوان لاندې پراته دي. نو وس چې مونږ د طالبانو حال ته وګورو نو دوی خو دې باره کې ډېر وروسته پاتې دي د تاریخي اثارو په نوم د بوتانو ساتنه کوي، ورځ تر بلې شرکي زیارتونه په عبادت ځایونه بدلیږي، د روافضو حسینیې شتون لري، د اسلام اوچته شعیره جهاد دی چې د اسلام کوف ورته ویل شوی دی؛ د دوی په نظام کې ختم شوی دی او نور چې څوک د کفارو سره جهاد کوي د هغوی مخنیوی کوي او د کفارو سره د ترهګرۍ ضد مبارزه کې همکاري کوي، محاکم یې غیر اسلامي دي نو اوس مونږ دیته حیران یو چې دوی د اسلام شعائر څه ته وایي چې په اړه یې د تقویه او د لوړتیا دعوه لري، نو دا معلومه خبره ده لکه څرنګه چې دوی د اسلامي نظام تعبیر خپل مختلط نظام او یا نورو مختلطو نظامونو ته کاروي نو همداسې د اسلامي شعایرو تعبیر هم خپلو شرکي زیارتونو او شرکي مراسمو احیاء کولو ته کاروي، او د اسلام سپیڅلي جهاد، د توحید اقامه او د شرک ختمول، او د الله په ځمکه د الله خالص قانون حاکمولو ته یې نه کاروي، نو پکار ده چې مسلمانان یې په دغو ټکو ونه غولیږي بلکې د دغه ټکو په اړه د دوی عرف او اصطلاح ته وګوري او بیا فیصله وکړي.

***

د افغانستان د استقلال، خپلواکۍ او د اشغال د خاتمې په اړه تحلیل:

دوی هر ځای او هر بیان کې دا خبره ډېر په فخر سره کوي چې افغانستان کې اشغال پای ته ورسیدو او خپلواکي مو ترلاسه کړه، نو دا خبره یې څومره حقیقت لري په دې یو نظر اچوو: اشغال او خپلواکي چې دوه متضاد الفاظ دي د پوهانو په نظر خپله معنا او پېژلونه لري نو ګورو چې دغه معنا او پېژلونه یې د دوی په نظام کې شتون لري او که نه، د اشغال یا استعمار پېژلونه:

۱ـ اقتصادي استعمار

۲ـ نظامي استعمار

۳ـ سیاسي استعمار

۴ـ فرهنګي استعمار

۵ـ اجتماعي استعمار

د دې هر یو لږ، لږ وضاحت:

اقتصادي استعمار: د اقتصادي استعمار په نتیجه کې سیکولر اقتصاد رامنځته کیږي چې د شریعت خلاف بانکي سیستم فعالیږي او راکړه ورکړه په همدغه ترتیب کیږي او هم سود او داسې نور حرام معاملات ترسره کیږي.

نظامي استعمار: د نظامي استعمار په نتیجه کې نظامي اشغال رامنځته کیږي او پوځي مداخله په هغه هیواد کې کیږي.

سیاسي استعمار: د سیاسي استعمار په نتیجه کې دیموکراسي او نور وضعي قوانین رامنځته کیږي.

فرهنګي استعمار: د ثقافتي استعمار په نتیجه کې سیکولر تعلیم یا نصاب رامنځته کیږي.

اجتماعي استعمار: د اجتماعي استعمار په نتیجه کې سیکولر اخلاق، آداب او احترامات رامنځته کیږي.

بیا د نظامي استعمار په ځای په نوي زمانه کې یو بل استعمار رامنځته شوې دی چې هغې ته استعمار الحمایه وایې یعني چې اشغالګر په زور د اشغال شوي هیواد نه د خپل هیواد او د خپلو متحدو هیوادونو د حفاظت یا دفاع ذمه واري واخلي او خپله ساتنه ورباندې لازم کړي. چې په اوس زمانه کې استعمار په همدغه معنا استعمالیږي. نو الغرض کله چې یو اشغال شوی هیواد د بل هیواد نه استقلال یا خپلواکي تر لاسه کوي؛ په دغو پنځو برخو کې به یې ترلاسه کوي او تر څو چې یې په دغو پینځو بخشونو کې استقلال نه وي ترلاسه کړی، خپلواک هیواد نه بلل کیږي،

د دغه پنځه قسمه استعمار نه استقلال ترلاسه کول: که غواړی چې اقتصاد کې استقلال ترلاسه کړی نو اسلامي اقتصاد حاکم کړه او که غواړی نظامي استقلال ترلاسه کړی نو د کفارو هر قسم مداخله که ځمکنۍ مداخله وي او که د فضا وي، د خپل هیواد نه ختمه کړه او د هغوی دفاع پریږده او که غواړې سیاسي استعمار ختم کړی نو اسلامي شریعت حاکم کړه او نور قوانین ختم کړه او که غواړې ثقافتي استعمار ختم کړی نو سیکولر نصاب یا تعلیم ختم کړه او پر ځای یې اسلامي نصاب رامنځته کړه او که غواړې اجتماعي استعمار ختم کړې نو سیکولر آداب، اخلاق او احترامات ختم کړه پر ځای یې شرعي آداب او اخلاق رامنځته کړه (کذا ذکره شیخنا في کتابه القیّم مع تصرف یسیر).

نو اوس د طالبانو خپلواکۍ ته راځو: دوی د استعمار د ذکر شویو برخو نه په کومه برخه کې استقلال ترلاسه کړی دی چې د خپلواکۍ دعوه کوي؟

دوی خو په اقتصادي استعمار کې هم راګیر دي چې سیکولر اقتصاد یې په هیواد کې حاکم کړی دی او ټول اقتصاد یې د غربیانو په تنخواو او همکاریو ولاړ دی چې یوه ورځ پرې د ډالرو کڅوړې بندې کړې بغاری یې د اسمان کنارو ته رسیږي او همداسې په ماډرن نظامي استعمار کې هم واقع دي، چې استعمار الحمایه ورته وایې کفارو ترې د خپلې دفاع او ساتنې تضمین په قطر کې اخستی او شپه ورځ د هغوی په دفاع کې مشغول دي او هر وخت ورته خپله دغه ژمنه تکراروي او د هغوی مینه یا محبت پرې راجلبوي، بلکې د پخوانۍ زمانې په اصطلاح چې کوم استعمار و هغه کې هم واقع دي او هغه داسې چې د دوی فضا د امریکایانو له خوا اشغال ده، د دوی د کور په منځ کې د ډرون میزایل ولي او څلیرویشت ساعته د دوی په سر دغه ډرونونه ګرځي، په دغه اشغال دوی پخپله هم اقرار کوي خو بیا هم بل لوري ته د خپلواکۍ دعوه لري! همداسې دوی په سیاسي استعمار کې هم واقع دي او هغه داسې چې د اسلام په نوم یې په قطر کې ډیزاین شوې دیموکراسي نافذ کړې ده، چې ورځ په ورځ ورته طرحې بدلوي او نوې، نوې بڼې ورته ټاکي او د دوی غټ طاغوت پرې د اسلام ټاپه لګوي چې ټول اخوندان یې تابع کیږي او ورسره مني یې. همداسې په ثقافتي استعمار کې مبتلا دي او هغه دا چې د دوی تعلیمي نصاب هماغه سیکولرنصاب دی، هماغه زاړه سیکولر استادان یې اوس هم په دندو پاتې دي او د هماغه پخوانیو کفري مؤسسو له خوا ورته تنخواوې راځي، هیڅ بدلون په کې نه دی راغلی او همداسې په اجتماعي استعمار کې هم واقع دي؛ هماغه زاړه سیکولر عادتونه، اداب، اخلاق او احترامات ترسره کوي. په دې خبرو کې یې اوږد تفصیل دی خو

مونږ ورته په اشاري کولو اکتفاء کوو دې لپاره چې موضوع راڅخه ډېره اوږده نشي.

نو دغه و د طالبانو د خپلواکۍ یا استقلال حال چې تاسو پرې پوه شوئ، د دوی ټول توازن بدل شوي، هغه چې استقلال نه دی دوی ورته استقلال وایي، هغه چې اسلام نه دی دوی ورته اسلام وایي ـ سبحان الله ـ

***

د ښځو د بې حجابۍ او ګمراهۍ د مخنیوي خبرې حقیقت:

دا چې دوی په خپل پیغام کې د خپل نظام اسلامي ثابتولو په دلیل کې یوه خبره دا کړې ده چې د ښځو د بې حجابۍ او نورو ګمراهیو د ختمولو هڅې روانې دي، نو دا خبره یې هم په حقیقت نه ده بنا بلکې دوی نور هم د ګمراهیو زمینه سازي کوي، هماغه د ښځو او د سرو شریک بنډارونه او پروګرامونه چې مخکې د جمهوریت په دوره کې به کیدل، اوس هم کیږي زنانه په رسنیو کې پوره برخه لري، په دفترونو کې برخه لري او همداسې د طالب مشرانو سره د خنداګانو او خوشالیو په محافلو کې لیدل کیږي، یواځې خوله یې پټه کړې وي خو نور د جاهلیت د زمانې په ډول سینګار وي او د زینت ځایونه یې ټول ښکاره کیږي، بلکې په افغانستان کې بهرنۍ ډیرې موسسې همدغه زنانه چلوي، د دوی ورسره ځانګړي ملاقاتونه کیږي او هم یې استقبال ته لاس په نامه ودریږي، نو دا دی حجاب یې هم سیکولر شو، هغوی ورسره هم دغه حجاب مني، خو اسلام کې حجاب خپل اصول او ضوابط لري چې د دوی سیکولر حجاب سراسري ردوي.

***

او هر چې یې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضې د عملي کولو خبره ده:

نو دې باره کې مونږ وایو چې معروف او منکر شرعي الفاظ دي چې شرعي معنا لري خو د دوی په نزد داسې نه ده بلکې حقیقت دا دی چې دوی معروف منکر ګڼي او منکر معروف ګڼي او په همدغه اصل ورته دعوت ورکوي یا یې ردوي، د دې خبرې دلایل: شریعت قبرپرستۍ ته، په قبرونو باندې ګنبدو او ابادیو جوړولو، د قبرونو څخه طوافونه کولو ته منکر ویلی دی او د ازالې امر یې کړې دی خو دوی یې معروف ګڼي د لا زیاتې ابادۍ او د پراختیا او ترمیم امر کوي، شریعت د جامعې څخه د کفر او ارتداد منکراتو د ازالې لپاره د مرتد قتل واجب کړی دی خو دوی د مرتدینو ساتنه کوي او ځان سره یې په صف کې ملګري کړي، لکه شیعه روافض، سیکولر ملحدین او داسې نور، چې دوی له ځانه سره په ادارو کې نیولي دي تر دې چې د دوی د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په اداره کې شیعه ګانو ته هم ځای ورکړل شوی دی. همداسې د سیکولر تعلیم، سیکولر اقتصاد، سیکولر فرهنګ یا عادت چې دا ټول غټ منکرات دي دوی یې معروف ګڼي او منخنیوی خو لرې خبره ده بلکې پخپله یې عملي کوي. د نصوارو او نورو نشه یې توکو خو هیڅ رد نه کوي هغه خو مباح ګڼي. خو بل طرفته چې شریعت څه ته معروف ویلي دي د هغه مخنیوی کوي او منکر یې ګڼي لکه د شرکي ځایونو ختمول، د بتانو ماتول، د کفارو او مرتدینو سره جهاد کول، قران او حدیث یا نبوي منهج ته خلک رابلل، د کفارو مشرکینو څخه برائت ته خلک رابلل، توحید ته خلک رابلل؛ دا ټول معروف کارونه دي خو دوی یې منکر ګڼي او څوک چې دغه کوششونه کوي نو هغوی د سختې سزا یا قتل سره مخ کوي بلکې داسې به وایو چې د دوی په نزد هغه شی معروف دی چې د دوی صوفي ایزم یا ملل ملحده قانون ورته معروف ویلي وي او څه ته چې یې منکر ویلي وي هغه منکر ګڼي چې په دې باره کې یې په دغه دیموکراتیکه ماده عمل کړی دی کومه چې د اساسي قانون په ټولو کتابونو کې شتون لري او هغه دا ده: لاجریمة ولاعقوبة الا بالنص.

ژباړه: یواځې هغه کار به جرم او د سزا مستحق وي چې قانون ورته جرم ویلي وي.

نو دوی هم چې د څه وخت نه ملل ملحده قانون منلی د هغه وخت نه یې په همدغه قاعده عمل شروع کړی دی.

کوم کار چې د هغوی په نزد جرم دی هغه د دوی په نزد هم جرم دی او چې د هغوی په نزد جرم نه

وي دوی يې هم جرم نه ګڼي، لکه د حربي کفارو سره د فرض عين جهاد فريضه ترسره کول د هغوی په نزد ترهګري ده دوی يې هم ترهګري ګڼي او مخه يې نيسي، تر نژدې وخته پورې د کوکنارو کښت جرم نه و خو د څه وخت نه چې يې ورسره دغه قانون ومانه؛ د کوکنارو کښت يې د هغوی د منشور له وجې جرم حساب کړ او داسې نور ډېر مثالونه دي باره کې شته چې په همدې اکتفاء (بسنه) کوو.

***

په دغه پيغام کې يې په دې خبره هم ټينګار کړی دی چې د نورو په کورنيو چارو کې مداخله نه کوو:

دا خبره که يې راوچپړې نو د دې ترشاه هم د بين الملل قوانين دي چې څه مواد يې مخکې ذکر شول په دغه قوانينو کې د ګاونډيو هيوادونو سره په دوستانه اړيکو ټينګار شوی دی، نو دوی چې د دغه خبرې ټينګار کوي د قران د هغو ايتونو سره به څه کوي چې په هغې کې د کفارو سره په قتال امر راغلی دی لکه الله فرمايي: **وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ** [سُورَةُ الأنفَال : 39]

ژباړه: اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګېږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله لپاره شي. بيا که هغوی له فتنې څخه لاس واخيسته، نو د هغو د عملونو ليدونکی الله دی.

او په بل ايت کې فرمايي: **قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ** [سُورَةُ التّوبَة : 29]

ژباړه: له اهل کتابو څخه د هغو خلکو په خلاف وجنګېږئ چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان نه راوړي، او څه چې الله او د هغه پېغمبر حرام کړيدي، هغه نه حراموي او حق دين خپل دين نه ګرځوي. (له هغو سره وجنګېږئ) تر دې پورې چې په خپل لاس جزيه ورکړي او ذليل شي.

او په حديث کې راځي: عن ابن عمر رضي الله عنهما، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: **(أمرت أن أقاتل الناس ، حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله ، وأن محمدا رسول الله ، ويقيموا الصلاة ، ويؤتوا الزكاة ، فإذا فعلوا ذلك عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام ، وحسابهم على الله تعالى)** [رواه البخاري ومسلم].

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما څخه نقل دي چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ماته امر شوی دی چې زه د خلکو سره تر هغه وجنګيږم تر څو دوی د دې ګواهي وکړي چې نشته حقدار د عبادت مګر يو الله دی او محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دی، او لمونځ قايم کړي او زکات ورکړي نو کله چې دوی دغه کار وکړي دوی له ما څخه خپله وينه او مالونه بچ کړل مګر د اسلام په حق کې او حساب د دوی په الله دی او د مرتدينو په مقابل کې د صحابه و جنګونه مشهور دي ، نو دا او داسې نور ډېر ايتونه او احاديث په دې دلالت کوي چې د کفارو سره به د هغوی د کفر له وجې جنګ کيږي او ازاده به نه پريښودل کيږي. نو تاسې څنګه اوس وايئ چې مونږ د چا په کورنيو کارونو کې لاس وهنه نه کوو ايا د دوی دا کفر تاسو ته د منلو وړ دی او که د نړۍ ټولو کفارو ستاسو د فتحې (!) نه وروسته اسلام قبول کړ؟ نه بلکې تاسو مرتد شوی ياست د دوی دغه کفري قوانين مو منلي دي، که چيرې همدغه خبره وی چې تاسو يې کوئ نو بيا ولې الله په جهاد امر کاوه او رسول الله ولی هجرت کاوه صحابه و ولې تعرضي عمليات کول، هر څوک به يې په خپله عقيده پريښې وی. خو نه زمونږ دين انقلابي دين دی دا نور دينونه نه مني ځکه چې منسوخ شوي دي نو تاسو څنګه د دغه ملحدينو، يهودو، نصاراو او مرتدينو ته ډاډ ورکوئ؟

معلومه شوه چې تاسو دين پريښې دی او غم يې درسره نشته بلکې د خپلې چوکۍ او د دنيا غم درسره دی.

***

بل یې د دیني احکامو لکه حدود، قصاص.. د عملي کولو او د شرعي محاکمو د قایمیدلو خبره کړې ده:

نو د دې حقیقت دا دی چې دوی دیني احکام نه دي نافذ کړي بلکې هغه احکام یې نافذ کړي دي چې د دوی د خواهش موافق دي او هغه هم وروسته د تغیر او د تبدیل نه. د دې وضاحت دا دی: د مرتد حد قتل دی، د ساحر حد قتل دی، د واده والا زناکار حد رجم دی د غل حد لاس پریکول دي د ملحد او د زندیق حد قتل دی خو دوی دغه حدودات نه دي نافذ کړي بلکې د دوی صف د مرتدو روافضو، کمونستانو، سیکولرانو، صوفي مشرکانو څخه جوړ دی نو دوی به په چا د ارتداد حد نافذ کړي، همداسې د اخلاقي فساد په نوم ځومره قضیې دوی سره ثبت وي خو دوی یې په جیل یا نورو سزاګانو سره بدلوي او همداسې د غلا مسایل او نور ډیر مسایل.. خو کومه سزا چې دوی د حد په نوم قایموي نو هغه هم د خپل خواهش موافق، او وروسته د تغیر تبدیل نه په غریبو خلکو یې قایموي نو په دې باره کې دوی د خپلو مشرانو یهودو پسې تللي دي چې د هغوی په اړه الله داسې فرمایلي دي:**أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ.**

ژباړه: ایا د کتاب په ځینې برخه ایمان راوړئ او په ځینې یې کفر کوئ، نو بیا یې پرې داسې حکم کړی دی: **أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا.**

ژباړه: دوی ټول پاخه کافران دي ، نو چې د الله د کتاب ځینې احکام عملي کوي او ځینې یې پریږدي او په نورو احکامو سره یې بدلوي نو په داسې خلکو الله د کفر حکم کړی دی چې طالبان په کې په اول نمبر کې داخل دي.

***

او په اخر کې یې د فلسطین په مسلمانانو د اسرائیلي ځواکونو له خوا د ظلمونو غندنه ده:

غندنه چې دا د اوسنیو ټولو کفارو او طواغیتو د ناخوښۍ د څرګندولو یوه اصطلاح ګرځیدلې ده؛ طالبانو هم د هغوی په څیر خپل مکلفیت اداء کړ، خو مونږ وایو چې په دې سره به ستاسو مکلفیت ادا نشي ځکه تاسو خو ځانونه د یو مستقل قوت خاوندان ګڼئ او ستاسو په وینا د دنیا ستر ځواک امریکا او ناټو ته مو ماتې ورکړې ده او د کابل فاتحین یاست او هم ځان امیر المؤمنین ګڼې، نو ستاسو نهایي خبره تر غندنې راورسیدله؟

هغه ملي اخوت چې تاسو یې دعوه کوئ د هغې عملي نمونه به غندنه وي او بس! آیا صحابه و د کفارو د ظلمونو په مقابل کې په غندنې سره جواب ورکړی او که قتال یې ورسره کړی؟

اسلام او مسلمانان به دومره پڅ وي لکه څنګه چې تاسو ګمان کړی دی؟

نا بلکې په دغه غندنې سره تاسو یو څو اهداف لرئ: یو دا چې په اسلامي نړۍ کې خپل ځان ته قبولیت یا محبت کسب کړئ، او بل د عرب عجم او نورو طاغوتي هیوادونو سره موافقه کوئ ځکه چې د نړۍ اسلام ته منسوب طاغوتي حاکمان یوازې د فلسطین مسلمانان مظلومان ګڼي او نور که هر ځومره ظلم په مسلمانانو کیږي ځوک یې پروا نه ساتي. خو د کفارو ظلم په غندنې نه دفع کیږي دا په عملي جهاد او د کافرانو په کوتره کولو دفع کیږي بإذن الله. او دغه فلسطین او دې ته ورته نور د مسلمانانو اشغال شوي هیوادونه که د عربو دي او که د عجمو دي؛ دا به اسلامي خلافت د کفارو له پنجو او د هغوی له کفري قانون څخه د جهاد په زور ازادوي او د الله قانون به په کې حاکموي بإذن الله.

نو په اخر کې په هغه خلکو چې د امارت په تشو دعوو دوکه شوي دي او په دې پار ورسره ملګري شوي چې شریعت نافذوي؛ غږ کوم چې امارت هغه امارت نه دی د کوم چې تاسو ګومان کوئ، دا امارت بدل شوی، مشران یې بدل شوي دي او صحیح منهج او تګلاره یې ورکه کړې ده نو په خپلو ځانونو رحم وکړئ او د دوی د صف نه راجدا شئ الله ته توبه اوباسئ او حق ته رجوع وکړئ الله توبه قبلونکې ذات دی.

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين

تصوف
6
برخه

د تصوف بنیاد نړولو سره شرافت حاصلول (٦)

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو !

تاسې د تصوف د صوفيانو په شرکي عقايدو ، خرافاتو او نورو اړوندو مالوماتو ددې تحقيقاتي لړۍ پنځمه برخه د خراسان غږ مجلې په ۲۳ گڼه کې ولوسته اوس مو ددغه سلسلې د شپږمې برخې لوستو ته رابولو.

***

الضربة الوجيعة
على أفواه مخالفي الشريعة

ورونو دا چې مونږ بار بار داخبره کوو، چې د تصوف د متقدمينو او متأخرينو ټولو دا دعوى باطله او درواغجنه ده چې دوى د نبي صلى الله عليه وسلم د وفات نه بعد په ويښه د ليدلو کوي، او د دې د بطلان مونږ بار بار مختلف وجوهات هم ذکر کړي اوس مونږ د دوى د ترديد او د خپل موقف د تأييد د پاره د اسلامي امت د يو څو اهل علمو أقوال هم ذکر کوو ترڅو د دوى بطلان هر عام او خاص ته څه معلوم شي

علامه قسطلانى د علامه سخاوي رحمه الله څخه په المواهب اللدنية ۲/۳۷۱ کې نقل کړي فرمايي **وأما رؤيته- صلى الله عليه وسلم- فى اليقظة بعد موته- صلى الله عليه وسلم- فقال شيخنا: لم يصل إلينا ذلك عن أحد من الصحابة، ولا عن من بعدهم. وقد اشتد حزن فاطمة عليه- صلى الله عليه وسلم- حتى ماتت كمدا بعده بستة أشهر- على الصحيح- وبيتها مجاور لضريحه الشريف، ولم ينقل عنها رؤيته فى المدة التى تأخرت عنه.**

وإنما حكى بعض الصالحين حكايات عن أنفسهم.

ژباړه: او بهر حال ليدل د هغه (نبي) صلى الله عليه وسلم په ويښه وروسته د وفات هغه صلى الله عليه وسلم نه ، نو پس زمونږ شيخ (علامه سخاوي) فرمايلي: نه ده رارسيدلى مونږ ته دا د هيڅ يو صحابي نه او نه د هغه چا څخه چې د دوى نه بعد راغلي (يعنې تابعين) او بې شکه سخت شوى وو غم د فاطمې رضي الله عنها د هغه صلى الله عليه وسلم (په وفات) تر دې چې دصحيح قول موافق ددې غمه شپږ (٦) مياشتې بعد وفات شوه او کور يې گاونډ کې و د قبر شريف سره ، خو سره له دې هغې څخه د نبي صلى الله عليه وسلم ليدل نه دي نقل په هغې موده کې چې دا ترې روسته پاتې شوې او دا بعضې صوفيانو د خپل ځان نه قيصې جوړې کړې دي!

نو دا شو د علامه سخاوي رحمه الله خبر اوس راشئ او د مشهور محدث علامه ابن حجر العسقلاني رحمه الله قول وگورئ، هغه په فتح الباري ۱۲/۳۸۵ کې د تصوف د صوفيانو د نبي صلى الله عليه وسلم په ويښه ليدل رد کوي فرمايي:

وهذا مشكل جدا ولو حمل على ظاهره لكان هؤلاء صحابة ولأمكن بقاء الصحبة إلى يوم القيامة ويعكر عليه أن جمعا جما رأوه في المنام، ثم لم يذكر واحد منهم أنه رآه في اليقظة وخبر الصادق لا يتخلف.

ژباړه: اودا ډير زيات مشکل دى که چرته دا په ظاهر حمل شي نو بيا خو به دوى صحابه وو او د صحبت امکان به تر قيامته باقي پاتي شي او رد کوي په دې نظريه د دوى دا چې يو لوى جماعت (دمسلمانانو) په خوب کې ليدلى بيا د يو نه هم دانقل نه دى چې هغوى ده لره په ويښه ليدلى وى او رېښتوني خبر مخالف نه واقع کيږي، دا شو د ابن حجر رحمه الله قول اوس راشئ د مشهور حنفي عالم علامه عبد الحي لکهنوى- رحمه الله قول واورئ موصوف په خپل کتاب الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة ص۴۶ کې د ځان نه جوړو شويو احاديثو او واقعاتو متعلق تذکره کوي او د نبي صلى الله عليه وسلم د مولود او عرسونو بدعي او شرکي مجالسو ته د حاضريدو متعلق فرمايي:

وهذا أيضا من الأباطيل لم يثبت ذلك بدليل، ومجرد الاحتمال والإمكان خارج عن حد البيان

ژباړه: اودا دعوى هم د باطلو اقوالو څخه ده دا په هيڅ دليل نه ده ثابت او محض احتمال او امکان د بيانولو د درجې نه خارج دى علامه ابن حزم رحمه الله اجماع د مسلمانانو په دې ذکر کوي چې نبي صلى الله عليه وسلم دوباره دنيا ته نه شي راتلاي هغه په مراتب الإجماع ص۱۷۶ کې فرمايي:

واتفقوا أن محمدا – صلى الله عليه وآله وسلم – وجميع أصحابه لا يرجعون إلى الدنيا إلا حين يبعثون مع جميع الناس.

ژباړه : او اتفاق کړی دی ټولو (مسلمانانو په دي عقیده) چې بې شکه محمد صلی الله علیه وسلم او ټول صحابه نه شي راتللی دنیا ته دوباره ، مګرهغه وخت چې کله به راپورته کیږي د ټولو خلکو سره .

دا شو عزت مندو تردي ځایه د صوفیانو دعقیدي د نهم مأخذ تردید چې تاسو ولوستل چې د دوی دغه مأخذ او ددي نه أخذ شوی اعتقاد چې هغه په ویښه د نبي صلی الله علیه وسلم سره ملاقات کول او خبري کول دي نوداچې څنګه په نقل یعني دلیل ثابته نه ده دغه ډول عقل هم ددي تأیید او استقبال نه کوي ، د لوی الله متعال په خاص فضل او توفیق سره ان شاء الله تعالی د تصوف دلسم مأخذ اوعقیدوي مصدر تردید به په راروان فصل کي ذکر کړو

***

الطائفة المخدوعة بالحکایاتالمکذوبةوالروایات الموضوعة

مخکي فصل کي مونږ د لوی الله متعال په خاص فضل توفیق اومشیئت سره د تصوف د نهم مأخذ اوعقیدوي مصدر د ردّ او بطلان ثابتولو څخه فارغ شو اوس دي فصل کي راځو او په مرسته او مدد د خاص الله تبارک وتعالی د دوی د لسم (۱۰) مأخذ د حقیقت څخه پرده پورته کوو:

لسم هغه څه چي صوفیانو د تصوف په دائره کي د خپلو عقائدو د پاره اصل او مصدر ګرځولی هغه اکثر موضوعي یعنی د ځان نه جوړشوي روایات اواحادیث بی سنده اقوال او دغه ډول هغه حکایاتو او أقوالو پسي تلل دي چي د نقل سره د عقل واقع او تاریخ نه هم مخالف وي، داسي موضوعي روایات او د ځان نه جوړ شوي، حکایات د دوی ډیر زیات دي خو یو څو چي ډیر مشهور دي په دوی کي هغه را اخلو اوبحث پري کوو .

۱ : یو د هغي جملي څخه دا تش په نوم حدیث دی ، چي د تصوف هره ډله او طائفه يي لکه دخیل نوم داسي حفظ کوي، له ځان سره ګرځوی! او هغه دادی چي دوی پری د قدسي حدیث ګمان کوي وایی چي الله محمد صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل **" لولاك لولاك لما خلقت الأفلاك" .**

ژباړه: که چرته ته نه وی که چرته نه وی نو ما به دغه افلاک (یعنی اسمانونه ځمکي او دي کي اوسیدونکي نه وی پیدا کړی!

دا شو د دوی عقیدوي حدیث اوس راشئ او د دي حدیث د حقیقت څخه ځان خبر کړئ، اول خو دا حدیث د الله متعال څخه خود مختاري سلب کوي، داسي چي الله متعال اسبابو ته محتاج ګرځوي، ځکه چي دي کي دا ثابته شوه چي د افلاکو بیدایش د یو مجبوری په اساس شوی او هغه وجود د محمد صلی الله علیه وسلم دی، یعنی که محمد صلی الله علیه وسلم الله نه وی پیداکړی نو دنیا یي نه پیداکوله او بلا ریب اوشک د الله باره کي دغه اعتقاد کول ګناه ده ، ځکه دلته دوی پیدایش د نبي صلی الله علیه وسلم دا علت مؤثره ګڼي، د پیدایښ د دنیا د پاره په حق د الله کي او دا عقیده د نبي صلی الله علیه وسلم په حق کي ممنوعه غلو او کفري نظریه ده توبه ویستل ترینه واجب دي، بل دا چي الله متعال بار بار قرآن کي اسمانونه زمکي غرونه وغیره مخلوقات ذکر کوي او په هغي کي انسانانوته په سوچ فکر تدبر وغیره باندي امر کوي، ددی دپاره چي ددي په ذریعه مخلوق الله وپیژني او د الله عبادت وکړي نو ایا که محمد صلی الله علیه وسلم الله نه وی پیداکړی نو د الله عبادت به نه شو کیدای سبحان الله دا کوم عقل او منطق دی ، چي په داسي ګډو وډو سر دی.

۲: جواب دادی چي اسمان او ځمکه ډیر مخکي پیدا شوي او نبي صلی الله علیه وسلم اګر چي په علم ازلي د الله کي وو خو د وجود په لحاظ سره له هغي ډیر وروسته پیدا شوی نو دا هم یو عقلي جواب دی چي ددی برای نام حدیث بطلان ثابتوي.

۳: جواب دادی چي په هیڅ معتمد کتاب د احادیثوکي ددي حدیث نوم او وجود نه شته، بلکه دا د هاغه کتابونو څخه اخیستل شوی، چي د شریعت په أحکامو کي د اصل حیثیت نه لري

۴: جواب دادی چي د امت هغو أهل علمو چي هغوی د احادیثو د صحت او د سند د رجالو په توثیق او تعدیل او دغه ډول په جرح او تضعیف کي د علم او مهارت خاوندان دي، هغوی دا حدیث موضوعي (یعني د ځان نه

جوړشوی) ګڼلی دی، علامه عجلونی په کشف الخَفاء ۲/۱۵۲ کی فرمایي: **قال الصغاني إنه موضوع.**

ژباړه: یعني صغاني فرمایلي چې دا حدیث موضوع (یعني د ځان نه جوړ شوی دی!! دصغانی رحمه الله داقول علامه شوکانی رحمه الله هم په "الفوائد المجموعة فی الأحاديث الموضوعة صـ۳۲٦ کی ذکر کړی دی دغه ډول علامه عبدالحي اللكهنوی رحمه الله په الآثار المرفوعة فی الأخبار الموضوعة صـ۴۴ کی هم دملاعلي قاري په حوالي سره د علامه عسقلاني رحمه الله نه نقل کړی چې هغه ورته موضوع ویلی دی.

یاده دي وي چې دغه موضوعي حديث ملعون كذاب غلام احمد قادياني هم په خپل کتاب حقيقة الوحي صـ ۹۹کی ذکر کړی دی کذاب لیکلي چې الله ماته وفرمايل چې لولاك لولاك لما خلقت الأفلاك او د هغه اتباع کونکي قاديانيان مرتد همدا اعتقاد د هغه باره کې لري الغرض دا شو د صوفيانو يو حدیث اوس راځو:

۲ دویم حدیث ته دغه ډول دوي د مخلوق په نوم دعاء کول او د هغوی په وسیله د سوالونو کولو د پاره دا حدیث هم خپل دلیل ګڼي چې د عمر رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دی چې ادم علیه السلام نه چې کله خطاء واقع شوه نو هغه وویل چې ای زما ربه تانه د محمد په خاطر سوال کوم چې ماته بښنه وکړه، نو وایي الله ورته وویل: **یا آدم ! وکیف عرفت محمدا ولم أخلقه؟** ای ادمه تاته څنګه معلومه شوه او حال دا چې ما محمد لا پیداکړی نه دی، نو وایي ادم علیه السلام ورته وفرمایل: **یا رب لما خلقتني بیدك، ونفخت في من روحك رفعت رأسي، فرأيت على قوائم العرش مكتوبا: لا إله إلا الله محمد رسول الله، فعلمت أنك لم تضف إلى اسمك إلا أحب الخلق إليك، فقال: غفرت لك، ولولا محمد ما خلقتك.**

ژباړه: ای ربه تاچې کله زه په خپل لاس پیداکړم او ما کې دې د خپل روح څخه پوه کړ نو ما چې سر اوچت که نو ما د عرش په ستنو (دا) لیکل ولیده چې لااله الا الله محمد رسول الله نو بس زه پوه شوم چې ته د خپل نوم سره نه یوځای کوی مګر هغه مخلوق چې تاته تر ټولو زیات محبوب وي، نو بس الله ورته وویل ما درته بښنه وکړه که چرته محمد نه وی نو ماته نه پیداکولې.

داحدیث امام حاکم په مستدرک کې ذکر کړی خو علامه ذهبي رحمه الله ورته غټ غټ لیکلي چې «**قلت: بل موضوع، وعبد الرحمن واه، وعبد الله بن أسلم الفهري لا أدري من ذا**» نومعلومه شوه چې دا روایت موضوعي یعنې له ځان نه جوړ شوی روایت دي.

۲ : **دویم جواب** دا چې دا د قرآن د صراحت نه مخالف دی قرآن کې الله تبارک وتعالی د آدم علیه السلام د ښښنې متعلق فرمایي {فتلقى آدم من ربه كلمات فتاب عليه إنه هو التواب الرحيم } پس زده کړي ادم علیه السلام د خپل رب څخه څه کلمې بس توبه یې قبوله کړه (رب) د هغه بې شکه دغه الله ډیر توبه قبلونکی او ډیر رحم کونکی دی! نو وګورئ عزتمندو دلته الله متعال سبب د قبولیت د توبې هغه دعاګانې د ادم علیه السلام یادوي خو صوفیان ددي برعکس د خود ساخته جعلي تش په نوم حدیث پسې نښتي دي.

۳: جواب دادی چې د الله نوم صرف د محمد صلی الله علیه وسلم د نوم سره نه ، بلکه د هر نبي د نوم سره د هغه په کلمه کې یوځای وي لکه لااله الا الله موسی کلیم الله عیسی روح الله ابراهیم خلیل الله ځکه د هر نبي امت د خپل نبي کلمه وایي نو که دغه متصل والی د نوم ددې دلیل وي، نو بیا خو د هر نبي په نوم ښښنې او دعاګانې غوښتل پکار دي، نو د نبي محمد صلی الله علیه وسلم باره کې د خصوصیت دلیل پاتې نه شو، نو چې څنګه دا روایت په دې دلیل نه دی ، نو داسې په دې هم دلیل نه شي کیدای ،چې الله دې ادم علیه السلام د نبي صلی الله علیه وسلم په مخ پیداکړی وي، ځکه چې الله عزوجل هیڅ نبي او ولي ته محتاج نه دی او نه د هغوی نه متأثردی .

۳ **حدیث:** دغه ډول بل هغه حدیث چې صوفیان یې د خپلو ځینو باطلو اعتقاداتو د پاره وړاندې کوي، هغه داحدیث دی چې په دې الفاظو مشهور دی: **(من عرف نفسه فقد عرف ربه).**

ژباړه : چاچې ځان وپيژانده نو ګویا چې ده خپل رب وپيژانده.

داحدیث هم ثابت نه دی علامه سخاوي رحمه الله په المقاصد الحسنة صـ ٦٥٧ کی د سمعاني او نووي رحمهما الله نه ددې عدم اثبات نقل کړی دغه ډول ابن تیمیه رحمه الله په مجموع

الفتاوی ۱۶/۳۴۹ کې په دې حدیث بهترین بحث کړی او دا یې د نبي صلی الله علیه وسلم د کلام څخه نفې کړی دی.

او دغه ډول ددې وجود یې د حدیثو کتابونو کې غیرموجود ګڼلی دی، خو د علماؤ ددې صریحې شاهدۍ باوجود صوفیان دا حدیث ځانته دلیل ګرځوي، ممکن ددې نه صوفیان وحدة الوجود ثابتول غواړي، خو توره یې کندو بلکه د لرګی ده غوځول نه شي کولی.

۴ حدیث: بل هغه خرافات چې دوی پرې د حدیث ګمان کوي او په همدې نوم یې خپلو معتقدینو ته معرفي کړی هغه دادی چې وایي انس رضي الله فرمایي رسول الله ته جبریل علیه السلام راغی ورته یې وفرمایل چې ای دالله رسوله ! ستا د امت فقراء به له مالدارو څخه جنت ته (۵۰۰) پنځه سوه کاله مخکې ننوځي او هغه نیمه ورځ ده د قیامت نو رسول الله، خوشحال شو، ویې فرمایل تاسي کې څوک شته چې اشعار ووایي نو یو صحراوي وویل هو ولې نه نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل راوړه راوړه یعنی شروع شه نو وایي هغه شروع شو دا اشعار یې وویل چې :

(قد لسعت حية الهوى كبدي
... فلا طبيب لها ولا راقي)
(إلا الطبيب الذي شغفت به ...
فعنده رقيتي وترياقي)

نو وایي له دې سره نبي صلی الله علیه وسلم وجد یعنې ګډا او ټوپونه وهل شروع کړل او صحابه وو هم تر دې چې څادر یې د اوګو څخه وغورځیده نو چې کله فارغ شو، هر یو خپل خپل ځای ته راوګرځیده نو معاوية بن أبي سفيان وفرمایل څومره ښه لوبه مو وه ای د الله رسوله، وایي نبي صلی الله علیه ورته وفرمایل " **مه يا معاوية ليس بكريم من لم يهتز عند سماع ذكر الحبيب، ثم اقتسم رداء رسول الله من حضر بأربعمائة قطعة .**

ژباړه : مه معاویه داسې مه وایه بلکه هغه د هیڅ عزت والا نه دی چې د حبیب د ذکر د اوریدو په وخت کې ونه ریږیږي، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم څادر تقسیم کړ په هغه چا ، چې دلته حاضر وو په څلور سوه ۴۰۰ ټکړو باندې، دا حدیث ابن عراق الکناني په تنزیه الشریعة کې په دوه اویایم نمبر ۷۲ باندې د ردّ د پاره راوړی دی دا حدیث هم جمله صوفیانو د ګډا اورقص او بې ځایه او بې فائدې ټوپونو وهلو د پاره عمده دلیل ګرځولی، خو که حقیقت ددې حدیث باندې رڼا واچول شي نو دا دلیل یې هم د نورو دلائلو غوندې بې کاره او بې حیثیته او د ځان نه جوړ شوی حدیث دی ، مخکې ددې چې مونږ ددې د مختلق والي په اړه د امت داهل علمو أقوال ذکر کړو، رومبی راځو او د سلیم فطرت او عقل سره ددې حدیث ټکر او مخالفت باندې خبره کوو .

۱ جواب: نبي صلی الله علیه وسلم ته نه صرف دا یو بلکه ډیری بشارتونه او زیری د اسمان څخه راغلي، په یو زیري هم نبي صلی الله علیه وسلم داسې حرکت نه دی کړی نوړپه دې یې ځنګه وکړ.

۲ جواب: دا خبره عقل هم منې چې د ګډا او ټوپونو وخت کې انسان کې مرح فخر او تکبر پیداکیږي او دا کار د یوعام انسان باره کې هم عیب عار او د مروءت خلاف کار وي، نو د امام الانبیاء علیه السلام باره کې خو بیګې تصور کول لوی حماقت او د نبوت دمقام توهین دی.

۳ ځواب : د الله نبي صلی الله علیه وسلم سنت دا وو چې د خوشحالی مقام کی به یې حمد او ثنا ویله او د مصیبت وخت کې به یې صبر او احتساب کولو او یاد حدیث کې ګډا او وجد دا ددې سنت څخه مخالف عمل دی لهذا هغه ته ددې نسبت حرام دی .

۴ ځواب: نبي صلی الله علیه د خپل نوم او تذکرې په وخت کې امت ته د درود امر کړی دی او دلته وایي چې هغه کریم نه دی چې د محبوب د یادولو سره ونه ګډیږي، که چرته یې مراد ځان وي او که عام محبین یادوي، نو داسې محبین به یې ډیر ذکر کړی وی، خو دا کار ترینه بل وخت کې نقل نه دی.

۵ ځواب: څادر ټوټه ټوټه کول دا د مال ضایع کول دي او د مال ضایع کولو نه خپله نبي صلی الله علیه وسلم منع فرمایلی ده ، خو عجیبه ده صوفیان دغه ممنوع عمل مباح ګڼي، ځکه خو مشهور صوفي غزالي لیکي " **فإن قلت: فما تقول في تمزيق الصوفية الثياب الجديدة بعد سكون الوجد والفراغ من السماع فإنهم يمزقونها قطعا صغارا ويفرقونها على القوم ويسمونها الخرقة؟ فأعلم أن ذلك مباح ".**

ژباړه : اوکه ته دا وایي چې ته څه نظر لرې د نویو

جامو په ځيري کولو کې د صوفيانو ددې عمل متعلق وروسته خاموشه کيدو او د فارغيدو د ګډا او د سندرو د اوريدو نه ځکه چې بې شکه دوی هغه (لباسونه خپل) ځيري کوي، وريې وريې ټوټې کوي يې او په صوفيانو يې تقسيموي او دې ته خرقه وايي نو پس (جواب کې غزالى وايي) دادی چې پوه شه چې دا کار مباح دی إحياء علوم الدين للغزالي ٢/٢٧٩ نو دا د صوفيانو عقيده ده چې د ثواب او اعتقاد په نيت خپلې جامې شلوي او ګډا ته راغلو صوفيانو باندې يې تقسيموي خو دا د شريعت خلاف امر او کار دی .

٦ **ځواب:** له دغه زرګونو صحابه و څخه کوم صحابي بيا وروسته د وفات د نبي صلى الله عليه وسلم نه په دې سنت عمل کړی دی؟ دا شول عقلي وجوهات د ردّ ددې حديث اوس راځو نقلي ردّ ته او هغه دا چې دغه حديث علامه ابن عراق د موضوعي احاديثو په سلسله کې ذکر کړی او بيا ددې نه متصل بعد يې فرمايلي وهو باطل.

بيا فرمايي: **قال الحافظ أبو موسى المديني قد عاب غير واحد من أهل العلم ابن طاهر بإيراد هذا الحديث في كتابه.**

ژباړه : حافظ ابوموسى المديني فرمايلي چې ډيری اهل علمو ابن طاهر باندې اعتراض کړی په دې چې هغه دا حديث په خپل کتاب کې ذکر کړی .

ابن عراق رحمه الله د أبو الفرج عبد الرحمن المقدسي متعلق فرمايي چې هغه نه د دې حديث اړوند پوښتنه وشوه ، نو د ځواب خلاصه يې داده چې هغه وفرمايل إن الواقف عليه يظهر له أنه موضوع لركة ألفاظه ومباينة شعره لأشعار العرب في جزالة ألفاظها ومخالفته لما صح من النهي عن إضاعة المال ونفرة القلوب منه .

ژباړه: هغه وفرمايل چې هغه څوک چې داحديث په مخه ورځي هغه ته ښکاري چې دا موضوعي (يعنى له ځان نه جوړ شوی) دی د وجې د رکاکت د الفاظو ددې او د فرق ددې شعر ترمنځه د نورو اشعارو د عربو سره او د خوش الفاظى ددې اودغه ډول د مخالفت ددې د هغه (حديث) سره چې صحيح ثابت دی په منع کولو کې د مال د ضايع کولو څخه او دغه ډول د زړونو نفرت چې ددې روايت څخه کيږي.

بيا فرمايي چې شيخ الاسلام نووی رحمه الله هم ددې حديث متعلق د سوال په جواب کې فرمايلي چې : **باطل لا تحل روايته ولا نسبته إلى النبي ويعزّر من رواه عالما تعزيرا بليغا**

ژباړه : داحديث باطل دی ددې روايت کول اوددې نسبت کول نبي صلى الله عليه وسلم ته حلال نه دي او تعزير به ورکولی شي پوره تعزير هغه چاته چې (دا عيب ددې حديث ورته معلوم وو او په دې علم لري اوبيا يې هم بيانوی [تنزيه الشريعة ٢/٢٣٣]

***

العيب و الوقص

في جواز السماع والرقص

نو دا شو عزتمندو د صوفيانو د رقص اوګډا او قوالى متعلق د دوی د دليل جائزه ، اوس راځو او ددې جوړ شوي تش په نوم او دې ته ورته د نورو جعلي رواياتو څخه دوی دا د ګډا اورقص د جواز اعتقاد په کومه درجه کې اخذ کړی لږ دې باندې هم خبره کوو نو که يو کتونکی نن سبا زمونږ د زماني د صوفيانو د جملې سلسلو حال ووينې، نو له دې نه به بيخي انکار ونه کړي، چې د دوی هر مجلس چې د ذکر په نوم منعقد کيږي، هغى کې دوی دغه رقصونه ګډا ګانې چغې رمبارې، جامې شلول راغورځيدل او پټکي او خولى ګانې غورځول او کله کله يو بل رانيول او حتى پير ته رکوع او سجده کول او د هغه نه په شاه لاس په نامه تلل او داسې نور هغه کړنې دي چې د الله تبارك وتعالى د حقوقو او ادابو سره سره د مسجد او مجلس اداب هم پايمالوي ، د دوی په نزد بيا دا د هغه چا کاروي، چې دوی ورته اوچت ولي او بزرګ د زماني وايي او دغه رقص عبادت ګڼي مشهور صوفي سهروردي په عوارف المعارف ص۱۸۰ کې وايي: **”ربما صار الرقص عبادة بحسن النية إذا نوى به استجمام النفس“.**

ژباړه : ډير ځلي رقص کول عبادت وي خو چې په خه نيت وشي او چې کله نيت په کې قابو کول د نفس مراد وي، دادی د صوفيانو دين، ګډا ته عبادت وايي.

صوفي أبو الحسن الخرقاني درقص دمدح متعلق په نورالعلوم ص۱۱۲ کي ليکي **” الرقص هو مشاهدة ما تحت الثرى بوقوع القدم على الأرض، ومشاهدة العرش بتحريك الأيدي في الهواء“ .**

ژباړه: رقص (ګډا) کول دا مشاهده کول د هغه څه دي، چې د اوومې ځمکې لاندې

دي ، په ایښودلو د قدم سره په ځمکه باندې او مشاهده کول د عرش دي په خوزولو دلاسونو سره په هوا کې" دغه کتاب اصل فارسي کې دی، مونږ دغه عبارت د هغه کتاب څخه را اخیستی چې هغې کې دغه محوله عبارت عربي کې ترجمه شوی دی، شعراني صوفي د پیر صوفي ابو حفص الحداد النیسابوري متعلق په طبقات الکبری ۱/۷۰ کې نقل کړي چې هغه ته وویل شو

" إن فلانا من أصحابك يدور حول السماع فإذا سمع بكى وصاح ومزق ثيابه فقال:أيش يعمل الغريق؟يتعلق بكل شيء يظن فيه نجاته".

ژباړه : دغه فلانی کس ستا د مریدانو څخه د سماع په وخت کې چورلیږي، چې کله اوریدل وکړي (یعني نظم قوالي سندره وغیره واوری) نو وژاړي چغې کړي او جامې ځان له وشلوي نو وایي هغه (جناب پیر ورته جواب کې) وویل سین وړی څه وکړي، نو هر څه پسې ځان نخلوي باورکوي چې دي کې به مې نجات وي.

نو عزتمندو مقصد داسې نه دی چې دا مسجدونو او مجلسونو کې ګډاګانې صرف زمونږ د زماني پیران او مریدان کوي نه ، بلکه دا د تصوف عقیدوي عمل دی ،چې متأخرینو ته د متقدمینو څخه د عبادت اجر او ثواب په نیت میراث کې پاتې شوی دی، هندي صوفي علي الهجویري:په کشف المحجوب ص۶۶۵ کې لیکي .

" أعلم أن تخريق الثياب بين هذه الطائفة أمر معتاد ، وقد فعلوا هذا في المجامع الكبرى التي كان المشايخ الكبار رضي الله عنهم حاضرين فيها"

ژباړه : پوه شه چې بې شکه څیري کول د جامو ددې طائفې په نزد یو عادي کار دی او یقیناً دوی دا کار په هغو لویو مجمعو کې کړی چې هلته لوی لوی پیران په هغې مجمع کې موجود وو .

د مشهور صوفي لعل حسین کوم چې پاکستان کې په دولتي سطح د هغه عرس جوړیږي او د الله اوچت ولي د کشف او کرامت خاوند او صاحب ګڼل کیږي، دهغه په سیرت کې یې په تذکرة الأولیاء د دکتور ظهور الحسن شارب په ۲/۲۵۹ کې لیکلي چې دا عالم اوفقیه وو دغه ډول دده متعلق لیکي:

ويوما من الأيام كان يدرس عند شيخه سعد الله تفسير مدارك التنزيل ، فلما بلغ إلى قوله عز وجل: (إنما الحياة الدنيا لهو ولعب) طرأ عليه الوجد ، وبدأ يرقص ويقول: ما دام أن الحياة لهو ولعب فلماذا لا نلهو ونلعب؟ فأخذ كتبه ورماها في البئر ، وحلق لحيته وشواربه ، وأخذ كأس الخمر، وبدأ يرقص في الشوراع والأسواق، كما بدا يرتاد بيوت المومسات، ويقضي أوقاته فيها ، إلى أن وقع نظره على أمرد هندوكي جميل، فوله به وكلف، وعشقه، وما زال يطوف حول بيته ست عشرة سنة حتى أوقعه في حباله وفخه، وجعل إسمه جزء من اسمه، فصار مادهو لعل الحسين، بعد أن كان حسينا فقط، وبعد وفاته صار مزاره مهبط الأنوار، ومحط البركات مثل ما كان هو في حياته .

ژباړه : وایی ده یوه ورځ په ورځوکې د مدارك التنزيل تفسیر کاوه د خپل استاذ سره چې کله دا الله تعالی دا قول راغی چې (إنما الحياة الدنيا لهو ولعب) بې شکه ژوند د دنیا داعبث او لوبې دي ، نو یو دم ددې سره وربانډې وجد راغی ، نو شروع شو چې ګډ یې او ویل یې نو چې کله دنیا عبث او لوبې دي، بیا نو ولې لوبې نه کوو او ګډیږو نه؟ نو خپل کتابونه یې واخستل او کوهي ته یې وغورځول ، ږیره او بریت یې وخرول او د شرابو کاسه یې راخیسته او شروع شو چې په کوڅو او بازارونو کې به یې رقص(یعنی ګډا کوله) او بیا یې کار دا وو چې فاحشو ښځو ته به یې چکلې جوړولې او هغی کې به اوسیده نو یوه ورځ یې یو هندو خایسته هلک ولیده نو پس د هغه پسې شو او د زړه شغف یې ورسره جوړ شو او عاشق شو وربانډې، چې تقریبا شپاړلس کاله د هغې د کور نه به ایرد ګرد ګرځیده، تردې چې هغه یې خپل تاراو بند کې راګیر کړ نو د هغه هلک نوم یې د خپل نوم جزء وګرځاوه نو دده نوم بیا مادهو لعل حسین شو وروسته ددې چې نوم یې صرف حسین وو نو بیا یې وروسته د وفات نه مزار د انوارو د راکوزیدو او د برکاتو د نازلیدو ځای وګرځیده لکه څنګه چې دا خپله په ژوند ددې سبب وو تذکرة الأولیاء ۲/۲۵۹

نو څه وګورئ مسلمانانو د صوفیانو د ګډا او رقصونو دلیل چې د قران د ایت نه څومره غلط استنباط کوي، چې د"انما الحیاة الدنیا لهو ولعب " نه ګډا شراب خوریانې او محرم اشیاء ځانته حلال ګرځوي، ایا که پوښتنه وکړو دي صوفیانو نه چې ددي ایت نه دا تفسیر او مفهوم کوم مسلمان اخستی صحابه و کې چا داسې مفهوم ددې

ایت نه مراد کړی؟

تابعینو کی چا مراد کړی؟ فقهاو محدثینو امامانو او غیره مفسرینو کی چا دا مفهوم او معنا مراد کړې؟ بل دا هم ډیره عجیبه ده او دا تاسو باربار دې درسونو کې ولوستل چې دوی کې چې څومره د حیاء د حدود نه تجاوزکونکي وي، هغه تصوف کې لوی بزرگ وي، دلته هم وګورئ چکلو کې پاتې کیدونکی شراب څکونکی د قوم لوط عمل کونکی، ګډیدونکیی او بیا دا هر څه حلال ګڼونکي داسې د کرامت او ولایت خاوند دی، چې قبر یې د انوارتو او برکاتو منبع او موضع ګرځي، بس خلاصه به د یو دوه درې علماؤ اقوال په دې ذکر کړم چې د تصوف دغه ګډا ګانې چې دوی د کومو موضوعي یعنی دځان نه جوړکړو احادیثو نه ثابتوي دا هسې خرافات او د مرؤت او د اسلامیت او انسانیت دواړو څخه خلاف کارونه دي ،په ترتیب المدارك د قاضي عیاض رحمه الله کی په ۴/۵ کې دي ، فرمايي تینسي رحمه الله فرمايي چې مونږ د امام مالك بن أنس رحمه الله سره وو او د هغه ملګری یعني شاګردان د هغه نه ګرد چاپېر ناست وو، نو یو سړی چې د أهل نصیبین څخه وو وفرمایل: "**عندنا قوم يقال لهم الصوفية يأكلون كثيرا ثم يأخذون في القصائد، ثم يقومون فيرقصون. فقال مالك: أصبيان هم؟ فقال: لا. قال: أمجانين هم؟ قال: لا هم مشايخ وعقلاء. قال: ما سمعت أن أحدا من أهل الإسلام يفعل هذا**" ژباړه : زمونږ علاقه کې څه کسان دي، صوفیان ورته ویلی شي، ډیر خوراك وکړي بیا قصیدې وایي یعني قوالي کوي او بیا پاڅي او رقصونه (ګډا ګانې) کوي، نو امام مالك (رحمه الله) ورته وفرمایل ایا هغوی ماشومان دي؟ هغه وویل نه نو امام مالك (رحمه الله) ورته وفرمایل ایا هغوی لیوني دي؟ هغه وفرمایل نه هغوی مشران او عقل لرونکي دي ،نو امام مالك (رحمه الله) ورته وفرمایل ما خو نه دي اوریدلي دا چې یو کس دې د اسلام والاو څخه داسې کار کړی وي ،دامام مالك رحمه الله د قول نه معلومه شوه چې د صوفیانو دغه ګډا ګانې او رقصونه دا اسلام کې نه شته ، بلکه دا یا د ماشومانو او یا د لیونو کارونه وي ،امام ابن الجوزي رحمه الله د امام شافعي رحمه الله دا قول په سند سره نقل کړی چې یونس بن عبد الأعلى فرمایي چې ما د امام شافعي رحمه الله څخه واوریدل چې فرمایل یې: **لو أن رجلا تصوف أول النهار لا يأتي الظهر حتى يصير أحمق .**

ژباړه: که چرته یو سړی د ورځې په اول کې تصوف ته لاړ شي نو ماسپخین به لا نه وي، پرې راغلی چې احمق به ترې جوړ وي او له هغه یې دا هم نقل کړي چې هغه دا هم فرمایلي: **ما لزم أحد الصوفية أربعين يوما فعاد عقله إليه أبدا .**

ژباړه: یوکس د صوفیانو سره څلویښت ورځې نه ملګری کیږي ،چې بیا دې عقل ورته د همیش د پاره راوګرځي او بیا فرمایي چې امام شافعي رحمه الله دا اشعار وفرمایل چې:

ودعوا الذين إذا أتوك تنسكوا ...
واذا خلوا كانوا ذئاب حقاف.

ژباړه : او پریږده هغه خلک چې کله تاته راشي، نو عبادت کوي او چې کله ځانله شي نو بیا د شګو (یعني دصحراء) لیوان وي، تلبیس ابلیس ص۳۲۷

عزتمندو! د صوفیانو ددې رقصونو او ټوپونو متعلق به ووایم چې د تابعینو دورکې بعضې خلك داسې پیداشوي وو چې هغوی به کله قرآن واوریده بې هوشه به شول، تلبیس ابلیس کې ابن الجوزي رحمه الله په سند سره د اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها څخه نقل کړي چې هغې څخه د داسې خلکو متعلق پوښتنه وشوه ،نو هغې وفرمایل اعوذبالله من الشیطان الرجیم یعنی د دوی دا کار د شیطان نخره ده، په دوی یې کوي مفسر قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر ۱۵/۱۴۹ کی د ابن عمر رضی الله عنهما څخه نقل کړي فرمايي:

مر ابن عمر برجل من أهل القرآن ساقطا فقال: ما بال هذا؟ قالوا: إنه إذا قرى عليه القرآن وسمع ذكر الله سقط. فقال ابن عمر: إنا لنخشى الله وما نسقط. ثم قال: إن الشيطان يدخل في جوف أحدهم، ما كان هذا صنيع أصحاب محمد صلى الله عليه سلم.

ژباړه : چې هغه یو ځل په قاري د قران باندی تیریده چې هغه راغورځیدلی و، نو ده پوښتنه وکړه چې په ده څه شوي ؟ نو خلکو جواب ورکړ چې ده باندې چې کله قران ولوستی شي او دالله ذکر واوري، داسې راغورځیږي، نو ابن عمر رضی الله عنهما وفرمایل مونږ خامخا د الله څخه ویریږو خو (د قرآن په اوریدو) نه غورځیږو اوبیا یې وفرمایل چې یقیناً شیطان په دوی کې د یو

کس خیټې ته ننوځي دا خو د محمد صلی الله علیه وسلم د صحابه و عمل نه وو! قرطبي رحمه الله په یاد جلد او صفحه د تفسیر کې د ابن سیرین رحمه الله دا قول هم نقل کړی هغه فرمایي: **وقال عمر بن عبد العزيز ذكرعند ابن سيرين الذين يصرعون إذا قرى عليهم القرآن فقال: بيننا وبينهم أن يقعد أحدهم على ظهر بيت باسطا رجليه، ثم يقرأ عليه القرآن من أوله إلى آخره فإن رمى بنفسه فهو صادق .**

ژباړه : عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وفرمایل چې د ابن سیرین رحمه الله حضور کې د هغه خلکو ذکر وشو ، چې هغوی بې هوشه کیږي، چې کله پرې قرآن ولوستی شي ، نو هغه (ابن اسیر ین رحمه الله) وفرمایل زمونږ او د دوی ترمنځه به فیصله په دې وي، چې دوی کې دې یو کس د کوټې په چت کښینولی شي، بیا دې قرآن وربانده د سر نه تر اخره ولوستی شي، نو که دې سره یې ځان لاندې راوغورځاوه نو دا به ریښتونی وي؟

نو وګورئ مسلمانانو د صحابه کرامو او تابعینو داحکم د هغه چا باره کې کړی چې هغوی قرآن اوري او بې هوښه پرې راځي ، خو د تصوف صوفیان چې مساجدو او محافلو کې کومې نغمې وایي او په هغې کې شرکي اشعارو په شمول دا هم وایي چې کاش سپی د مدینې وای او خر د مدینې وای خو چې مدینه کې وای او دلته ناست تماشبین پوندي اړم کړي او ګډا شروع کړي، نو پوښتنه مو همدا ده چې دا د کوم نبي دین او د کوم رب عبادت دی ، د دوی دغه عمل کې د شیطان پوره دخل موجود دی دې متعلق ابن الجوزي رحمه الله په تلبیس ابلیس صـ۲۲۴ کې فرمایي: **وعلامة الصادق أنه لو كان على حائط لوقع لأنه غائب فأما من يدعي الوجد ويتحفظ من أن تزل قدمه ثم يتعدى إلى تخريق الثياب وفعل المنكرات في الشرع فإنا نعلم قطعا أن الشيطان يلعب به.**

ژباړه: چې نښه د ریښتوني کس (هغه چې دغه رقصونه او ټوپونه وهي) داده چې که چرته دا په دیوال باندې وي (دغه وخت) او راوغورځیږي (نوبیا صحیح ده) چې دا اوس غائب (یعني له ځان نه ناخبره) دی خو هغه چې د وجد دعوی کوي او ځان له دې نه بچ کوي، چې د دیوال نه یې پښه ونه خوییږي او بیا یې قیصه ان د لباس شکولو ته او په شرع کې د منکراتو کارونو کولو ته ورسیږي، نو مونږ په دې قطعي ډول سره پوهیږو چې شیطان په ده لوبې کوي.

***

تردید الفِرقة في إثبات بطلان الخرقة

مخکې فصل کې مونږ د لوی الله تبارک وتعالی په توفیق د تصوف صوفیانو د رقصونو ګډاګانو متعلق رد ذکرکړ اوس دې فصل کې راځو او بتوفیق الله تعالی د دوی نور هغه ناکاره اعمال او مختلق عبادات ذکر کوو چې ددې مأخذ څخه یې اخذ کړی دی، نو د هغې جملې څخه یو د خرقې متعلق روایت دی ، چې د صوفیانو په نزد دا هم د پیر د باطن نه د مرید او د مرید د باطن نه د پیر باطن ته لکه د چراغ داسې رڼا شکاره کوي او بعضې یې لا آن د یوسف علیه السلام د قمیص سره تشبیه ورکوي، لکه څنګه چې وایي د یعقوب علیه السلام نظر په هغې رامعادشوی و، نو داسې د مریدانو باطن روښانه کیږي.

دا خرقه څه شی دی او څه ته وایي نو راځو او ددې نه ځان خبروو خرقه عربي کلمه ده ، په لغت کې د رخت یا کپړې یوې ټوکرې یا ټوټې ته وایي او په عام عرف او اصطلاح د تصوف کې دا نوم د هغې چپن او چوغې دی ، چې کله هم کوم انسان غواړي چې کوم صوفي ځانته د پیر په نیت او صفت ونیسي او د هغه په اراده او بند کې ځان داخلول وغواړي، نو دغه چوغه به دغه پیر وراغوندي او د دوی په دې اغوستنه کې دا اعتقاد دی چې دا اوس د پیر سره د بیعت او د هغه د مریدی ذمه او د اخلاقو او اعمالو تهذیب او تقویة السلوک ددې ټولو نه عبارت دی ، بیا ددې صوفیانو ترمنځه ددې د. اغوستنې دپاره خاص قسم مراسم او محافل منعقد کیږي، چې کیفیت یې څه په دې ډول دی ، چې اول به پیر ځان صفا کوي اودس به کوي بیا به مرید ته په دې امر کوي، چې هغه هم ځان پاک کړي او اودس وکړي، نوبیا دغه چوغه راوړی شي او د دوی مخی ته کیښودی شي ، بیا پیر سورة الفاتحه ولولي بیا پورته شي او دغه چوغه مرید ته وراغوندي او د همدی اغوستو په وخت کی ورته سند ددی چوغی ذکر کړي، چې دا مونږ ته د فلاني او فلاني ته د فلاني نه رارسیدلی، تردی چې دغه سند علي

رضی الله عنه ته ورسوي او بیا تری نه دې اغوستنه باندې چې اوس دې سره ته د پیر بیعت کې شوی ، نو د وفاء او خدمت عهد تري واخلي او وصیتونه ورته په دي وکړی

چې دا طریقه صوفي ذکریا انصاري په خپل کتاب الفتوحات الإلهیة في نفع أرواح الذوات الإنسانیة ص۲۵ کې ذکر کړی

دلته دا هم یاد لرئ چې بعضي صوفیان داسې هم وي، چې هغوی د خرقې اغوستنې نه مخکې نارینه او زنانه مریدان او پیران ټول ګډ مشترک رقصونه وکړي او له هغې بعد بیا مرید ته دغه چوغه وراغوندي او عجیب دا چې دا کار دوی د ښځو مریدانو سره هم دغه ډول کوي علامه ابن الجوزی رحمه د ابن عقیل رحمه الله نه د دوی د دې کار او کړنې تردید په تلبیس ابلیس ص۳۳۰ کې ذکر کړی دی .

بیا دغه خرقه چې چوغه او چپن ورته وایي، دا دې صوفیانو په نزد په دوه قسمه وي، یو قسم ته د مریدی خرقه وایي او بل قسم ته محض د تبرک مشهور صوفي سهروردي په عوارف المعارف ص۱۰۴ کې لیکي:

”اعلم أن الخرقة خرقتان خرقة الإرادة وخرقة التبرك، والأصل الذي قصده المشايخ للمريدين خرقة الإرادة، وخرقة التبرك تشبه بخرقة الإرادة، فخرقة الإرادة للمريد الحقيقي، وخرقة التبرك للمتشبه ومن تشبه بقوم فهو منهم“.

ژباړه: یوه شه چې چوغې په دوه قسمه دی یو ته د ارادې چوغه وایي او بلې ته د تبرک او اصل، هغه چې پیرانو د مریدانو د پاره قصد کړې هغه دا د ارادې چوغه ده او کومه چې د تبرک چوغه ده نو دا د ارادې د چوغې سره مشابهت لري، نو پس چوغه د ارادې د حقیقي مرید دپاره ده اود تبرک چوغه دا د مشابهت کونکي دپاره ده اوچا چې ځان د چا سره مشابه کړ، نو پس دا د هغه د جملې څخه وګرځیده دا شو تردې ځایه د چوغې تعارف د صوفیانو د اعتقاد په دائره کې، اوس د دوی د چوغې د جواز او فضیلت د دلیل هم لره جایزه اخلو چې دا کار دوی په کوم دلیل کوي، نو دلیل د دوی د مخکې ذکر شویو موضوعي روایاتو غوندې دلته هم یو بې سنده موضوعي روایت ذکر کوي، چې دغه خرقه (چوغه) رسول الله صلی الله علیه وسلم علی رضی الله عنه ته او علي رضی الله عنه حسن بصري رحمه الله ته وراغوستې او د هغه نه زمونږ پیرانو ته رانقل شوې او دا تقریبا د جمله صوفیانو مشهور اعتقاد دی د چوغې باره کی ، هو البته ځینې یې یوه چوغه عمر رضی الله عنه ته هم منسوبوي، خو زمونږ د دوی ددې روایت او د چوغې ددې اعتقاد او حکایت متعلق ځواب دادی چې نه دا سند او نه دغه عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه او نه هم د هغه د کوم صحابي څخه ثابت دی کوم سند چې دوی ددې چوغې د اغوستلو د علي رضی الله عنه او حسن بصری رحمه الله ترمنځه ذکر کوي، نو علماء او ماهرین فی الحدیث د دې ګواهي ورکوي، چې د حسن بصري رحمه الله ملاقات هرګز د علي رضی الله عنه سره نه دی شوی، نو چې کله د سند ابتداء باندې داسې جرح وشي نو بیا د نقل شوی روایت څه حیثیت پاتې شو علامه شمس الدین سخاوی په المقاصد الحسنة ص۵۲۷ کې فرمایی حدیث:

لبس الخرقة الصوفية، وكون الحسن البصري لبسها من علي، قال ابن دِحية وابن الصَّلاح: إنه باطل، وكذا قال شيخنا: إنه ليس في شيء من طرقها ما يثبت، ولم يرد في خبر صحيح، ولا حسن، ولا ضعيف، أن النبي صلى الله عليه وسلم ألبس الخرقة على الصورة المتعارفة بين الصوفية لأحد من أصحابه، ولا أمر أحدامن أصحابه يفعل ذلك، وكل ما يروى في ذلك صريحا فباطل:

ژباړه: حدیث د تصوف د چوغې د اغوستنې او دا چې حسن بصري د علي څخه اغوستي نو ابن دحیة او ابن صلاح ویلي چې دا حدیث باطل دی او همدا ډول زمونږ شیخ (یعنی حافظ ابن حجر) هم فرمایلي دي ، چې بې شکه په هیڅ کومه برخه د طرقو کې هغه څه نه شته ، چې دا مسأله ثابته کړی او نه په هیڅ صحیح حسن اوضعیف حدیث کې داسې شته چې نبي صلی الله علیه وسلم چرته د صوفیانو ترمنځه په دغه متعارف صورت کوم صحابي ته دا چوغه وراغوستې وي او نه یې کوم بل صحابي ته امرکړی چې دا کاروکړی او هر هغه څه چې په دې باب کې صریح ذکر کیږي نو هغه باطل دی

علامه سخاوري رحمه الله بیا فرمایي : **ثم إن من الكذب المفترى قول من قال: إن عليا**

ألبس الخرقة الحسن البصري، فإن أئمة الحديث لم يثبتوا للحسن من علي سماعا فضلا عن أن يلبسه الخرقة، .

ژباړه: اوبیا له درواغو منسوب شویو څخه قول د هغه چا دی چې دا وایي چې علي دغه چوغه حسن بصري ته وراغوستې ده او بې شکه دحدیثو امامانو د حسن بصري د سماع اثبات د علي رضی الله عنه څخه نه دی کړی پاتې خو لا دا چې چوغه دې ورواغوندي، بیا سخاوي رحمه الله د چوغې په نظریه اوعقیده د ردکونکو علماؤ اسماء گرامي هم ذکر کړي چې له هغې جملې څخه یې دمیاطي امام ذهبي هکاري ابوحیان علائي مغلطاي عراقي ابن ملقن ابناسي برهان حلبي او د ابن ناصرالدین نومونه ذکر کړي دي وگورى المقاصد الحسنة صـ٥٢٧ دغه ډول علامه شوکاني رحمه الله فرمایی: حدیث: **"أن النبي صلى الله عليه وآله وسلم ألبس الخرقة على الصورة المتعارفة عند الصوفية".** باطل لا أصل له "یعنې دغه چوغې حدیث باطل دی هیڅ اصل نه لري وگورئ الفوائد المجموعة صـ٢٥٣ علامه ملا علي القاري الحنفي رحمه الله هم د خرقې حدیث باطل او بې سنده گرځولی وگورئ الأسرار المرفوعة فی الأخبار الموضوعة صـ٢٧٦ علامه ابن الجوزي رحمه الله په تلبیس ابلیس صـ١٧١ فرمایي: **وقد قرروا أن هذه المرقعة لا تلبس إلا من يد شيخ وجعلوا لها إسنادا متصلا كله كذب ومحال.**

ژباړه : او دوی (یعنی صوفیانو) قطعي پریکړه کړې چې دغه چوغه به نه شي اغوستل کیدای مگر د پیر په لاس او بیا یې دې ته متصل سند هم جوړ کړی چې ټول دروغ او ناشوني دی .

علامه ابن خلدون رحمه الله په خپل تاریخ٣/١٤٠٣ کی د صوفیانو ددې خرقې اعتقاد دا د دوی د شیعه مسلك سره د مشابهت یو قسم گرځولی دی موصوف دی متعلق فرمایي: **وأشربوا أقوال الشيعة وتوغلوا في الديانة بمذاهبهم، حتى جعلوا مستند طريقهم في لبس الخرقة أن عليا رضي الله عنه ألبسها الحسن البصري وأخذ عليه العهد بالتزام الطريقة. واتصل ذلك عنهم بالجنيد من شيوخهم. ولا يعلم هذا عن علي من وجه صحيح. ولم تكن هذه الطريقة خاصة بعلي كرم الله وجهه بل الصحابة كلهم أسوة في طريق الهدى وفي تخصيص هذا بعلي دونهم رائحة من التشيع قوية يفهم منها ومن غيرها من القوم دخلهم في التشيع وانخراطهم في سلكه.**

ژباړه: او څکول شوی دی په دې صوفیانو باندې اقوال د روافضو او غلو یې کړې په مشابهت کې په دیني مسائلو کې د هغوی د مذهبونو سره تر دې چې دوی دلیل د طریقې په اغوستنه د خرقې دا گرځولی چې علی رضي الله عنه دغه خرقه حسن بصري ته وراغوستې او عهد یې ترینه په لازم والي د طریقې باندې اخستی او دا ورته د هغوی نه د جنید په واسطه د هغه د استاذانو څخه رانقل شوی خو دا د علي نه په هیڅ صحیح وجه نه ده معلومه شوی او نه دغه طریقه علي پورې خاص شوې ، بلکه صحابه ټول د اقتدا نمونی دي په هدایت کی ، نو په خاص والي د علي په دې کې پرته له نورو (صحابه و) نو په دې کې د شیعیت قوي بوی پروت دی، چې ددی او دا ډول د نورو څخه معلومیږي چې دوی(یعنی دغه صوفیان) په دې (شیعیت) کې ننوتي او د هغې په تار کې اوبدل شوي دي دا شو د ابن خلدون رحمه الله نظر او خبره چې ښکاره ده په دې چې دده به نږد هم خرقه په دې نیت اعتقاد او کیفیت دا ناروا او د روافضو سره مشابهت دی مونږ مخکې هم دا اشاره وکړه چې د صوفیانو په دې خرقې اغوستنه کې عجیبې او غریبې کیسې نقل دي، حتی چې نامحرمه پیران هغوی مریدنو زنانه وو ته ، هم دغه خرقې په خپل لاس وراچوي کومو چې ددې پیرانو نه طریقې اخستې وي او د تصوف بدعي بیعت یې ورسره کړې وی علامه ابن الجوزی رحمه الله د ابن عقیل رحمه الله قول د صوفیانو ددې قسم محفلونو اومجلسونو باره کې نقلوی چې هغه فرمایلي: **والناس يقولون إذا أحب الله خراب بيت تاجرعاشر الصوفية قال وأنا أقول: وخراب دينه. لأن الصوفية قد أجازوا لبس النساء الخرقة من الرجال الأجانب فإذا حضروا السماع والطرب فربما جرى في خلال ذلك مغازلات واستخلاء بعض الأشخاص ببعض، فصارت الدعوة عرسا للشخصين فلا يخرج إلا وقد تعلق قلب شخص بشخص، ومال طبع إلى طبع وتتغير المرأة على زوجها.**

ژباړه : خلق خو دا وایي چې کله الله د کوم تاجر د کور د خراب والي اراده وکړي، نو هغه ته د صوفیانو سره د

ژوند تیرول ورنصیب کړي، خو ابن عقیل فرمایي چې زه وایم او دغه ډول چې چاته الله د هغه د دین د خراب والي اراده وکړي (نو صوفیانو سره یې ملګری کړي) ځکه چې صوفیانو جائز ګرځولي اغوستل د خرقو (یعني دچوغو) زنانه وو ته د پردو (نامحرمه سړو) د لاسونو څخه ، نو بس چې کله دوی د سماع او تنبل مجلسونو ته حاضری وکړي، نو ډیرځلي په دی منځ کې عشق بازیانیي او د بعضو اشخاصو دب عضو سره ځانله والی هم راشي، نوپس دغه دعوت دي وخت کې د دوی د دوه کسانو د واده دعوت وګرځي، نوپس نه خارجیږي، د دي مجلس څخه مګر دا چې د یو شخص زړه د بل سره تعلق پیدا کړي، نو د یو طبعیت د بل طبعییت ته میلان وکړي او ښځه په کې د خاوند خلاف تغییر وموومي، ابن الجوزي رحمه الله نور هم د دوی دديّ قسم ارتکاباتو متعلق څه فرمایلي دي خو مونږ پّ لنډډول صرف دا نقل کړلو د مزید وضاحت د پاره وګورئ تلبیس ابلیس صـــ٣٣٠

بل دا هم واورئ عزتمندو! چې صوفیان چې څنګه علي رضي الله ته دديّ چوغې نسبت کوي داسې عمر رضی الله عنه ته هم دديّ نسبت کوي، چې هغې ته دوی عمري چوغه وایي دا هغه چوغه ده چې نبي صلی الله علیه وسلم عمر او علي ته دديّ امر کړی و، چې دا چوغه اویس قرني ته تسلیم کړي، خو دا هم هسې د ځان نه جوړه شوې کېسه ده چې متعلق یې ملا علي قاري حنفي رحمه الله په الأسرار المرفوعة صـــ٢٧٦ کې فرمایلی: **وكذا نسبة الخرقة إلى أويس وأنه عليه الصلاة والسلام أوصى بخرقته لأويس وأن عمر وعليا سلماها إليه وأنها وصلت إليهم منه وهلم جرا فغير ثابت ولو ذكره بعض المشايخ فالمدار على طريق الصحة ومتابعة الكتاب والسنة ومجانبة الهوى ومقاربة الهدى والعاقبة للتقوى.**

ژباړه: او همدا ډول نسبت د چوغې أویس قرني ته او دا چې عمر او علي ده ته حواله کړې او دا چې دي صوفیانو ته دده (یعنی أویس) څخه رارسیدلی او دغه ډول ورپسی راځه نو دا غیرثابتې خبرې دي، اګرکه دا بعضو مشائخو ذکر کړي خو مدار (درواياتو) دا په صحت د سند او متابعة د کتاب اوسنت او د ځان ساتلو د خواهشاتو د پیروی او دا رنګې په نږدیکت د هدایت دی او عاقبت د کامیابی په تقوا دی دا شو عزتمندو د عمر رضی الله عنه .

اوأویس قرني رحمه الله نه د چوغې د اثبات حقیقت چې تاسې د ملا علي قاري رحمه الله څخه واوریده اوس داهم ولولئ، چې د خرقې متعلق دوی کله دا هم وایي چې علي رضي الله عنه ته دغه چوغه خپله خضرعلیه السلام ورأغوستي کله وایي دا معروف کرخی ته د امام علي بن موسی الرضا په واسطه د هغه د پلرونو نه او هغوی د نبي صلی الله علیه وسلم نه او کله وایی حسین ته د نیکه نه او هغه ته دجبریل نه او جبریل د الله نه راوړی چې دا ټولی هغه دعوی دي، چې هیڅ سند دلیل او حقیقت سره تعلق نه لري.

شعراني صوفي بیا په طبقات الکبری ٢/١٥٣ کې د یوصوفي نه نقل کړي چې ابن عربي ته خضر علیه السلام چوغه وراغوستې د چوغې متعلق دي کتاب کې یاد صوفي ډیری مختلف حیرانونکې کېسی ذکر کړي، خندا به مو ورته راشي خو بس خلاصه دا چې د دوی دغه د چوغې متعلق اعتقاد هم د مخکی اعتقاداتو غوندی باطل او بی دلیله اعتقاد دی، چې نور خو پریږده خپله صوفیان هم دي باندې معترف پاتی شوی دي حتی چې مشهور صوفي سهروردی په عوارف المعارف ١١٠/٥ کی لیکی الذى كان من أهم من تحدثوا عن الخرقة- عن الهيئة التى تعتمدها الشيوخ فى هذا الزمان لم تكن فى زمن رسول الله صلى الله عليه وسلم .

ژباړه: اوهغه څه چې د مهمو هاغه څه څخه چې دوی یې بیانوي، د خرقی (چوغی) متعلق په هغه کیفیت چې دي زمانه کی پری د (تصوف) پیرانو اعتماد کړی دی ، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی نه وه دي ته وایي د کور ګواهي نو ممکن کشرخیله طبقه صوفیان کم نه کم د خپل صوفي دا خبر خو صحیح تسلیم کړي.

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! د وه د تصوف د صوفیانو د عقایدو شرکیاتو او خرافاتو د مالوماتي لړی شپږمه برخه دديّ سلسلې اوم درس به د مجلې په راتلونکې ګڼه کې نشر شي ان شاء الله .

امریکا په خپل فکر
هدف ته رسیدلې

بسم الله والحمد لله والصلوة والسلام على رسول الله، ثم أمابعد.

مؤمنو ورونو تاریخ ته په کتلو کله چې روسانو پر افغانستان تیری وکړ، نو د افغانانو په شمول ګڼو نورو قومونو د روسانو مقابلې ته راودنګل ، دیرى مسلمانانو دروس په مقابله کې خپله سپیڅلي مبارزه پرمخ وړله او د ډیرو هغوي یي اهداف لوړ او سپیڅلي وو،خو امریکا او انګلستان د خپلو د دغه موخو لپاره چې اوس ورته د رسیدو په درشل کې دي، د اي ایس اي په وساطت یي ګڼ تنظیمونه رامنځ ته کړل چې په کې هغه مخلصین هم مدغم شول او هغه هدفونه تري ورک شول چې د شرعي نظام د قیام لپاره چاپیره وو، ددغه مخلصینو په ډله کې د جزیرةالعرب څخه ده مجاهدینو یو ګروپ هم راورسیده، چې مشري یي عبدالله عزام کوله بیا دلته عبدالله عزام شهید شو او د دي ګروپ مشري شیخ اسامة تقبله الله پر خپله غاړه واخیستله او نوموړي ګروپ ته یي نوم د قاعدة الجهاد ورکړ په دي حالت کې روسانو افغانستان پریښود خو د امریکا او انګلستان په اشاره د پاکستان آي ایس ای هم دغه نام نهاد اسلامي تنظیمونه په خپل منځي جګړه کې راښکیل کړل، دي سره هم زمانه امریکا او انګلیستان وغوښتل، چې د آي ایس ای په وساطت په افغانستان کې د طالبانو حکومت ایجاد کړي، په دي لړ کې یي کرنل امام، خالد خواجه او نصرالله بابر پکار واچول دوی وغوښتل چې د ملا محمد عمر تر مشرتابه لاندي د دیني علماؤ په نامه حکومت راسي اوبیا نوموړی حکومت د ملګرو ملتونو منشور او قوانین ومني، خو نوموړ ورته د بهرنیو مجاهدینو د مجالسو څخه په اغیز او تاثر انکار وکړ نو دلته د خارجي مجاهدینو شتون او د ملګرو ملتونو منشور نه منل امریکا او انګلیستان ناهیلي کړل، نو دا ده راتګ یوه بهانه سوه او د امریکا اصلي مادي او معنوي اهداف منځنی اسیا ته خپل نفوس پراخول وو او د امارت په مشرانو خپل دین دیموکراسي منل وو، هم داسي وشوه او هغوی خپل هدف ته ورسیدل.

خو د دي لپاره یي یو اوږد مهاله پلان جوړ کړ، داسي کله چې لومړۍ امریکا افغانستان ته راغله نو په کابل کې یي یو جعلي حکومت رامنځته کړ او بلې خوا ته یي د آي ایس ای پر مټ طالبان تمویل او تجهیز کول تاسو شاهدان یاست چې هر کال امریکا آي ایس ای ته دري دري ملیارده ډالر ورکول خو کله چې په دوحه کې امریکا طالبانو ته دفتر پرانسته نو بیا یي دغه ډالر په خپل لاس ورکول پیل کړل، ځکه چې آي ایس ای مخکې یو څه ناڅه خورد او بورد پکې کاوه.، دا چې دا موضوع مو خه روښآنه کړې وي نو په کار ده چې حقانیان وپیژنو :

حقانیان چې د جلال الدین حقاني له نومه سرچینه اخلي ، د اي ایس آي په غلامۍ کې له هر چا زیاته مخینه لري او مشر حقاني هم اي ایس اي ته ډیر زیات وفاداره او د هغوی زر خرید غلام و، او زما پّ تعبیر حقانیانو ته حقانیان ځکه وایي ځکه چې تل یي د آي ایس ای په خدمت کې خپل حقانیت څرګند کړی.

او دا خدمت یي ډیره مخینه سابقه لري، کوم وخت چې امریکا دلته بریدونه پیل کړل نو شیخ اسامة تقبله الله د حقانیانو په مرسته د پاکستان یوي سیمي ته انتقال سو او بیا وروسته د هغه په نښه کول ده سي آي ای او آي ایس آي او د حقانیانو

یوه مشترکه پلانګزاري او دسیسه وه، کله چې شیخ اسامه شهید سو نو د القاعده قیادت او مشري هم ورانه سوه، لږ وخت وروسته ملا محمد عمر هم وفات سو او د امارت قیادت او مشري هم ورانه سوه په دې وخت کې یو امریکایي ده بریګېډال په نوم د افغانستان په ختیځ کې د ورکړل سوي پلان له مخې ده خپل پوځي مقر څخه خالي سلاح د طالبانو سیمې ته ورغی او له هغه ځایه په درې اړخیزه مشترک پلان سره د پاکستان د پوځ یوې



چوڼۍ ته انتقال سو او هلته د یو میلمه په حیث میشت سو، له بلې خوا بیا د امارت کوم کسان چې د امریکا او پاکستان سره نظر بند ساتل کېدل نو د هغوی پوره پوره فکرسازي وسوه، نه یوازې د جمهوري نظام د عملي کولو لپاره د همدې کسانو تبادلې ته اړتیا وه، بلکې د ټیټ پوړي طبقې د تېر ایستلو لپاره یوه مشترکه دسیسه وه او اختر منصور چې ځان یې د ملا محمد عمر استازی معریفي کاوه او ده ملا صاحب مرګ یې هم پټ ساتلی و هغه په مري کې د نړیوالو سره پر جمهوري نظام هوکړه وکړه خو د دې هوکړې پایله په دوه زره او دوه ویشت 2022 م کې هر چا ولیدله نو ځکه دوی د هغه تلین لمانځي په داسې حال کې چې القاعدي او امارت یوه ړنده رهبري تعقیبوله.

د القاعدې نظامي او استراتېژیکي ځانګې د اسلامي دولت له خوا تشکیلیدلې او پراخه برخه یې هم دوی ول. نو شرعا مجبور سول چې په عراق او شام او نورو سیمو کې اسلامي خلافت اعلان کړي او هڅه یې وکړه چې د الله د رسول صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو تاریخ راتازه کړي او د القاعدې پاتې نور وګړي په سیکولریزم او نشنلیزم او د سیمې په استخباراتو پوري ملحق سول، په دې حال کې اباما یوه عاجله غونډه راوبلله او هم دایې ویل چې یواځینی نظامي برخورد د داعش په مقابل کې کافي نه دی، بلکې تبلیغاتي برخورد هم د دوی په مقابل کې زیات رول لوبولای سي، او هغه هم ده مسلمانانو په منځ، نو همدا وه چې په دوه زره او څوارلس 2014 م کال کې د لومړي ځل لپاره اباما پر اسلامي دولت د خوارجو فتوی صادره کړه هغه هم د جان کېري په خوله او بیا د دوهم ځل لپاره د سعودي د شاهي نظام مفتیان هم په همدې تقلید کې ورننوتل او بیا نورو هیوادونو هم د اباما تقلید وکړ، او د دې ترڅنګ امارتي چارواکو هم په همدې ناوړه تقلید کې برخه واخستله او د دې په بدل کې امریکا او ناټو دوی ته ډېر غټ امتیاز ورکړل.

خو د دې امتیاز په بدل کې طالبانو د اسلامي دولت په ضد د افغانستان په کونج کونج کې جګړه پیل کړه او په همدې وخت کې اباما اعلان وکړ چې طالبان یو حقیقت دی او نور دوی زموږ دښمنان ندي او دوی زموږ د دښمن دښمنان دي او د دوی جګړه تر محدودو پولو پورې ترلې ده، او په افغانستان کې په واک کې شریک کېدل غواړي تازه معلومات وایي چې د جوبایډن د اداري لخوا یوه بله کارنامه ادا وشوه چې له دوه زره او دوه ویشت 2022 م کال څخه یې په صومالیا کې

هم پټ مذاکرات پیل کړي دي.

اوس نو راځو دېته کله چې د اختر منصور په پټو رازونو د امارت ځیني مشران خبر سول او انشعاب په امارت کې

رامنځ ته سو او هلته اسلامي خلافت هم اعلان سوی و نو د اخیري انجام په خاطر وارخطا او د مري له تړون څخه په شاه سول نو ځکه خو بیا د ډرون ښکار سول او د دوحې د تړون ځیني څرګندې مادي د اسلامي دولت په ضد جګړه کول و او همدارنګه د نشه یي توکو بندول و. د تېر رژیم د جګپوړو چارواکو امنیت ساتل و او ځلور میدانونه امریکا ته د تل لپاره ورکول و، چې اوس مهال د امریکا په نمایندګۍ د دوبۍ او قطر او ترکیې او ده سي آی ای کم شمیر کارمندان او پوځیان پکې دي ، د اسلامي دولت پر ضد هوایي قلمرو امریکا ته سپارل او د شرعي حدودو څخه مخ اړول هم پکې دي.

پر ولسي خلکو اقتصادي فشارونه اچول، چې په خپله خوښه دیموکراسي ومني او په ځیني مواردو کې د امر بالمعروف په نوم نمایشي حرکات کول او بیا پر خپل دریځ ټینګار کول او د دې په بدل کې پر ولس اقتصادي فشار راوړل، د دې لپاره چې مجاهد ولس مجبور سي او تړون ومني.

له اشرف غربي څخه په سنبولیک ډز او ډوز واک انتقالول د دې لپاره چې ولس او کشرخېل د فتحې ګومان پرې وکړي او دغه راز د اسلامي دولت پر ضد استخباراتي معلومات سره تبادله کول چې دغه تړون به د امارت ده امنیت ملي یعني استخباراتو او د سي آي ای ترمنځ وي.

د تړون رازونه پټ ساتل هسې نه چې کشرخیل او ولس خبر سي، های افسوس ای کمعقلو طالبانو چې دي ټرمپ، خلیلزاد او جوبایډن په تاسې څه څه ونکړل!

ای د کفارو رؤوسو او مشرانو ! دا ظالمان د الله او د رسول تر امر او قول او دغه راز د حنفي مذهب څخه ډېر ستاسو تړون ته وفادار دي ترجیح او اولویت ورته لري.

دا ټول مخکې هم یو تر بله سره په جریان کې ول، ځکه چې د امریکا سر مفتیشي اداري سیګار د طالبانو د پرسونل سروی کوله په دوه زره او شپاړسم 2016 م کال کې چې ده کانګریس څخه یې بودیجه وغوښتله له هغه وخت څخه د دوی معاشات امریکا په پام کې نیولې وه یعنې ده دوه زره او دوه ویشتم 2022 م کال د پروژې د عملي کولو لپاره.

طالبانو په یوه نمایشي حرکت کې د امریکا او

ملګرو ملتونو په اجازه د فراه په ولایت کې د یوه غړي قاتل ته ده اعدام سزا ورکړه، لکن کرزی، ډاکټر عبدالله عبدالله، ګل اغا شیرزی او داسې نور چې په لکونو افغانان یې وژلي دي د هغوی کلک امنیت ساتي خو پوه سئ چې د امارتي چارواکو اداره چې کوم شي ته د تحریم او تحلیل حکم ورکوي هغه د ټرمپ او خلیلزاد او جوبایډن په قلم او کاغذ کې دي نه د الله او رسول صلی الله علیه وسلم په قانون کې.

های مسلمان او مجاهد ولسه ! پرون چې به دې د کوکنارو څخه باج او

مالیه نه ورکوله وهل ټکول زندان ته اچول دا ټولي چارې درسره کېدلې، مګر اوس د جوبایډن فتوی درته حرام کړل خو اوس د دوی ده مهمو کسانو د امنیت لپاره د امریکا ډرون الوتکې ګرځي او راګرځي. خو اوس یو پاکستانی

جنرال چې د امریکا سره په راز کې دی په پټ مخ راځي او د هیبت په نامه نمایشي فرمانونه صادروي دا خبره ځکه د تاید وړ ده ، ځکه چې کوم وخت چې امریکا له اشرف غربي څخه د چارو واکې واخستلې او دوی ته یې وسپارلې نو ده هغه مهال ده آي ایس آي مشر فیض حمید راغی او د دوی ترمنځ یې وزارتونه وویشل ده خیبر پښتونخوا د ملي عوامي ګوند مشر ایمل ولي خان او د یو بل سیاستوال فضل الرحمن ډیزل په وینا طالبان مخکې د امریکا مخفي او پټه پروژه وه خو اوس بې ظاهري بڼه ورکړه ،

ډیزل ملا وایي د طالبانو د تمویل او تجهیز سپارښتني آي ایس آي ته امریکا کولې، پاکستان خپل په سر نه دا کار کولای سو او نه یې هم کاوه، نوموړي زیاته کړه، چې افغانان باید د امریکا څخه وژاړي نه د پاکستان څخه خو

افسوس د طالبانو په حال هغه پاکستاني سیاستوال چې یو وخت به یې د دوی نمایندګي کوله هم د دوی رازونه پټ ونه ساتل، په دې وروستیو کې د ایران د حقابي پرسر ابراهیم رییسي طالبانو ته اخطار ورکړ خو خلیلزاد سمدتي ایران ته اخطار ورکړ، د ایران یو چارواکی حامي مصطفی په نوم هغه د خلیلزاد د اخطار په ځواب کې وویل چې طالبان ستاسو له خواه جوړ سوی حکومت دی او ستاسو په نیابت موږ چلنجوي دا خو ورځ په ورځ

هغه ټول پټ رازونه افشا کیږي ، خو اوس معلومه سوه چې طالبان د امریکا مادي ګټې هم ساتي لکه څنګه چې د هغوی معنوي ګټې هغه ساتي، د بېلګې په توګه د خلافت مخه ډب کول او د شریعت مخنیوی او داسې نورې معنوي ګټې.

اوس د امریکا په نیابت د اوکرین حکومت د روسانو سره په جګړه بوخت دی او هر کله چې د جګړې بایلونکې او ګټونکې معلوم سي نو کیدای سي روسان د ملي مقاومت شاته ودریږي او د طالبانو حکومت خو

بې له شکه د امریکا نیابتي حکومت دی، بهر صورت امریکا اوس په افغانستان کې خپل هدف ته ورسیدله ځکه د بلعم او عبدالله ابن ابی ابن سلول د لارویانو په مټ دلته اوس د امریکا نیابتي حکومت دی، د دغو دوو کسانو تاریخ چې وګورئ نو هم دغه طالب مشران یې ښه مثال دی.

امارت او امیر المؤمنین خو بې سرحده وي او تر یوه هیواده پورې محدود نه وي تاسو خو اوس مهال خپل صدر اعظمي چې دا د جمهوري نظام برخه ده په امارت تعبیروئ، او که تاسو استدلال کوئ چې موږ جهادي سابقه لرو بیا خو نو موږ په هغې کې له تاسو مخکې یو ځکه چې په موږ کې داسې خیرې زیاتې دي چې د تیر شوروي اتحاد په مقابل کې هم جنګیدلي دي او که وواياست چې اهل العلم نو بیا علمي مناظرې ته چلنج درکوو، راشئ میدان ته چې سره معلومه یې کړو.

لومړئ/ خو په دې استدلال نسې کولای ځکه چې رباني، سیاف او مجددي هم یو وخت مجاهدین او هم عالمان ول او موږ او تاسې ووژل ایا هغه جهاد نه و او که تاسې ترې منکر سوي یاست.

کله چې په دوه زره او څوارلسم 2014 م کال کې د عصر دجال اوباما د اسلامي دولت په ضد د خوارجو فتوا د خپلو لارویانو په خولو کې واچوله نو په همغه فتوی

تر اوسه پورې طالب ویاندویان خپلې ژبې لمدې ساتي.

په دې باندې پوه سئ چې ببرک کارمل هم مجاهدین خوارج ګڼل او د ډاکټر

نجیب ویډیو ګانې تر اوسه پورې شتون لري چې وایي زما نظام اسلامي ده او څوک چې زما سره جنګیږي هغه خوارج دي نوموړی په دري ژبه وایي (به کشور ما وهابي ها وسلفی ها عرب آمده برای تخریب کردن کشور ومذهب ما)

د امریکا له خوا ستاسو لپاره اوسنی اداري مشاور حامد کرزی هم موږ او تاسو خوارج ګڼلو د فضل هادي شینواري او د سیاف مجددي او رباني په فتواوو او خپل نظام یې اسلامي ګڼلو او تر هغې وروسته ستاسو معاملګر او له دوبۍ څخه ستاسو د اداري چارو مرستیال او سمبالونکی اشرف غربي هم دغه فتوی کاروله او خپل نظام یې اسلامي او شرعي ګڼلو او حال دا چې تاسو ده هغه اداري قانون چلوئ او د هغه له مرجع څخه هفتواره ډالري کڅوړې درته را درومي.

اللّه وهلي یاست د اسلام د سپیڅلي دین سره تاسو خیانت وکړ او د معصومو فدایانو سره تاسو خیانت وکړ عملا په اداري فساد، رشوت، غلا اخلاقي فساد او داسې نورو غیر شرعي کړنو او مفاسدو اختته

یاست او کومه فاحشه پیغله چې په امریکا، انګلیستان، جرمني، هند کې د سیکولریزم له پوهنتون څخه فارغه وي تاسو هغه د یولک ډالرو په مبلغ هم اخیستې ده د افغانستان په هر کونج کې چې مجللې بنګلې وي هغه تاسو په لکونو ډالرونو اخیستې دي

او حال دا چې ستاسې په صف کې د وژل شویو کونډې او بچي د لوږې او غربت له وجې سوال کوي او تاسې خپلې چرچې او مزې کوئ موږ نه پوهیږو چې ایا تاسو مخکې هم د عذاب قبر، قیامت، دوږخ، جنت عقیده نه درلودله او که اوس له عقیدې فارغ سوئ اوس ستاسو لویه مهرباني پر هغه سپیڅلو فدایانو چې د شرعي نظام په ارمان یې سرونه ځار کړل او تاسې یې وینې خرڅې کړې ، اوس دا نمایشي کړنې کوئ چې یو بیز یا کنډک د هغه په نوم ونوموئ د هغوی د خپلوانو د تیر ایستلو لپاره، په دې باندې پوه سئ چې عام ولس په تاسو خبر دی، چې تاسې اوس په علني او مخفي ډول خارجي هیوادونو ته ده خرمستۍ او عیاشۍ لپاره سفرونه کوئ

او ستاسې په اصطلاح هغه خارجیان چې په یوه وخت کې مخلصو ګلالیو فدایانو د هغوی په وژلو کې خپل سرونه قرباني کړل خو تاسو اوس د هغوی سره په مجللو هوټلونو کې شراب او کباب خورئ او لاس تر غاړې ورسره ګرځئ، خو جالبه لا دا ده چې

هغوی ته اوس ستاسو په اصطلاح خارجیان او یا بهرني میلمان ویل کیږي ځکه چې که یو څوک کافران ورته ووایي نو تاسې هغوی بیا تکفیریان او خوارج ګڼئ په اخیر کې د فدایانو او شهیدانو له میندو، پلرونو، او بچو څخه زموږ د اسلامي خلافت د مجاهدینو دا غوښتنه ده چې د دې امارتي اسلام پلورونکو مشرانو دا غټې خیټې په چړو اوخنجرونو سورې کړئ او دا پلن څټونه یې په ساتولانو ووهئ عینا همغسې لکه چې مخکې به یې ویل چې یونما د کفریت د ترویج یو مهم عنصر دی خو اوس وزارت داخله دنده لري چې د یونما دفترونه له بریدونو څخه وساتي بالآخره به ان شاءالله دا غریب او مومن ولس ستاسو له استعمار او استبداد څخه خلاص کړو، باذن الله تعالی، ځکه چې نه خو تر اوسه پورې باطل او فتنه ختمه سوې ده او نه هم جهاد ختم سوی دی.

ملا یعقوب

هم په خپل کفر اعتراف وکړ

دروغ ویل د منافقانو صفت دی، چې همدغه عادت اوس د طالب مشرانو ځانګړې خاصیت دی، دوی دومره سپین سترګي شوي چې هغه د چا خبره د جامو سره خلکو ته په سترګو ورننوزي ، ،فکر کوي ټول خلک د دوی د مهار شویو کشرانو په څېر دي چې د دوی هر دروغ او له فریب او مکره ډکې خبرې به ګوندې پرته له کوم تحقیق او دلیل څخه ومني ، امریکا په اسلامي امت مخامخ په سینه داسې ګذار وکړ چې تر ډیره به ترې دا امت رنځیږي .

هو !

د ملا یعقوب په خبره امریکا خپلو اهدافو ته ورسیده ، امریکا همدا غوښتل چې دا بګیل شوي طالب ملېشې خلکو ته د اتلانو او فاتحانو په نوم ور وپېژني او په دوحه کې دېزاین شوي دیموکراسي په خلکو د اسلامي نظام په نوم ومني ، چې د همدې هدف لپاره امریکا له مختلفو لارو شپه او ورځ په همدې هڅه کې ده ، چې څنګه همدې مقاصدو ته د رسیدو لپاره د خلکو ذهنیت سازي وکړي ، نو یې ځکه خپلې ټولې داخلي او بهرنۍ رسنۍ هم خپله او هم د طالب چارواکو او لابیګرو په واک کې ورکړې او لګیا دي سیند یې شوروا کړی او غر یې غوښه کړی دی ، په ټول زور او قوت چاپیره دي چې څنګه خپلې تازه دمې ملېشې په ولس کې نفوذ ومومي او څنګه یې د خپلو راتلونکو نورو شومو موخو لپاره وکاروي، په همدې لړ کې څه وخت وړاندې د طلوع په نامه د فحشا او فکري استعمار او انحصار استخباراتي مطبوعاتي مرکز ، د کرنیل امام په شمول د آی ایس آی د جنرالانو له لوري د روزل شوي ملا صیب زوی په یو پروګرام کې میلمه کړی و، په دغه خپرونه کې چې پوښتني ورته له وړاندې چمتو شوي او پرې خه بحث شوی و، د ملا عمر تې خوري زوی په ځینو مواردو کې شکرور درواغ وویل، خو په ځینو برخو کې بیا خه و حق یې پټ نه کړ او په خپل کفر او ردت یې علني اعتراف هم وکړ، نوموړي د طالبانو د تحریک د پیل د اهدافو په لړ کې په دې اعتراف وکړ چې هو دغه تحریک آی ایس آی د سي آی اې په پلان او فنډ د همدغه موخو لپاره شروع او رامنځ ته کړ کومو ته چې نن دوی رسیدلي دا خبره یې سمه ده موږ یې ورسره منو دوی خپله په دې معترف دي چې د طالبانو د تحریک ابتداء او پیل له لومړي سره د آی ایس آی په لاس کې و، په منځ کې یې د سپیځلو شعارونو د نارو او شور لاندې که کومو سپیځلو خلکو هغه وخت او یا وروسته کومې قرباني ورکړې هغه جلا بحث دی ، خو د ملا عمر تې خورې زوی ملا بیقوف په ډېره خه توګه له دې څخه پرده پورته کړه چې هو تحریک د همدې لپاره پیل شوی و، چې د افغانستان د جهاد خیزه او شهید پروره خاورې د اولسونو له قربانیو او احساساتو همدغسې ګټه پورته شي څنګه چې امریکا غوښتل ، چې د دوی د شریعت د قیام لپاره په ورکړې وینه داسې تجارت او سوداګري وشي چې شریعت خو سر وخوري بلکې د شریعت په نامه یو دیموکراتیک نظام حاکم شي او هغه موخو ته دوی ایله اوس ورسیدل ، دا ډېره وسیع او اوږدمهالې پروژه وه ، د همدې هدف لپاره کلونه په کار وو چې ذهنیت سازي وشي او بیا داسې مراحل راورسیږي چې د وطنیت د ګمراه عقیدې په بنسټ د اسلام په نامه داسې یو فاسد نظام چې په کې د مؤمنانو قتل عام او د ټولو حربي کفارو او مشرکینو سره دوستي روا وي ، چې دوی هغه دي د ملل ملحده د قوانینو په بنسټ او تعقیب همدې مرحلې ته ورسیدل او لا هم مخ ته روان دي د ملا عمر بچوړی هم په دې پوهیږي چې شریعت خو هسې هم سر خوړلی، ځکه یې نو په اوسنیو مقاصدو کې د شریعت د تطبیق کومه خبره ونه کړه بلکې لومړی پوښتنې ته په ځواب کې یې هم فقط د وطنیت د عقیدې په اساس د افغانستان د تجزیې د مخنیوي ، دلته د امنیت د راتللو په خبرو ټینګار درلود دا چې د دوی مبارزه له پیله د بین المللي اصولو په بسنټ د همدې وطن د پولو او تر شا د پرتو مفاهمو او کفرونو د پاللو لپاره وه نو د ملا بې وقوف خبره دوی هغه مقصد ته رسیدلي هو .

د ملا عمر بچوړي د خپل پلار په اوصافو کې ومنله چې هغه په ډېره خه طریقه د وطنیت عقیدې ته کار وکړ افغانستان چې د بین الملل د ویشل شویو کرښو په چوکاټ کې لا هم د طاغوت په اشغال کې قرار لري، ملا عمر دي ته کار وکړ چې دا

کربښي ماتې نه شي او دا وطن تجزیه نه شي ملا بیوقوف وایي چې که څه هم هغه امیرالمومنین و، له نومه یې ځرګندیږي چې باید د ټولو مؤمنانو امیر وی، خو وریښي وایي چې هغه یو ملي شخصیت و، نو د دوی امیرالمومنین هم ملي وي راشه که تودیږي.

دا مرکب جاهلان په ټولو خلکو د خپل ځان په څیر ګمان کوي، آیا هغه کس امیرالمؤمنین کیدای شي چې د بین الملل د ټاکلو پولو ساتونکی وي، د دوستۍ او دښمنۍ معیار یې همدغه وطني پولې وي، په نوم د ټولو مؤمنانو امیر وي، خو بیا ورسره جوخت په خوا کې د پرتو مؤمنانو له قاتلانو او ناموس لوټونکو حربي کفارو سره دوستي، انډیوالي خنداوي بنډارونه شریکې پروژې او شریک هدفونه ولري؟

افسوس! له دې خلکو عقل کوم طرف کډه کړې.

ملا بیوقوف هم چې ځان د ملا عمر زوی ګڼي، د نورو طالب مشرانو او کشرانو په څیر ۱۳ کاله آی ایس آی په دې تمه ساتلی وو، چې پلار دې د امریکایانو بیز ته په څو کیلو میټرۍ کې پروت دی، خو په امن دی خو ستا او د نورو مشرانو ورتلل یې امنیت خرابوي، نو هغه هملته خه دی، بس د هغه په نوم چې موږ کوم فرامین جاري کوو د هغې اطاعت وکړئ، ځکه نو د همغه ذهنیت په اساس دا مرکب جاهل وایي چې پلار ته مې زما په ورتللو امنیتي خطر جوړیده.

عجیبه ده!

دیارلس کاله امریکایي بیز سره نیږدې اوسیده، مطلب امنیت یې دومره غښتلی و، امریکایان ترې نه خبریده، خو د خپل زوی په ورتللو یې امنیت خرابیده.

ملا بیقوف وایي چې د شپیته فیصده خاورې نظامي مسول و، په داسې حال کې چې په دې تیر انقلاب کې دا ماشوم هیڅ نه یادوه بلکې د ملا عمر د زوی په نوم د دوی له رسمي ادرسونو دغه انځور خپریده چې تاسې یې وینئ.

اوس سړی حیران شي چې کوم یو د ملا عمر زوی دی، خو دا یوه خبره ډیره معقوله ده چې دده په وینا دغه دیرش کلن احمق هغه مهال ماشوم و، چې په کراچۍ کې په خپل کور کې د پارکونو په نازونو او د یخو ایرکنډیشونونو په خونو کې پاتې کیده او لکه د پلار یې دده په نوم هم دا کشرخیل احمقان تیر ایستل کیدل.

ملا بیقوف په دې خبره چې دوی له پیله ازاد وو او یو پوچک یې هم له بل چا څخه دی اخستی کوشش یې وکړ چې سره له واسکټه او پګړی د خلکو په سترګو ورننوزي، ده وویل چې دوی ټوله مبارزه په ژیړه بوشکه مخ ته وړې.

دې ته اوس هغه بشکرور درواغ وایي، نه پوهیږو دا شرم دوی چرته ګذار کړی چې په داسې خبرو چرته لږ د شرم احساس هم ورته نه راولاړیږي.

بیوقوفه! دا راته ووایه چې دا ژیړې بوشکې خو خیر همدلته ملاویدې دا باروت مو ورته له کومه کول، دا کورتیکس، پټاقۍ او نور اړوند مواد مو په کومه فابریکه کې تولیدول، دا خو پریږده دا په ټنونو باروت مو په کومه فابریکه کې جوړول چې په موټر بمونو کې مو کارول؟ دا مو له بنګو، اپینو او نصوارو جوړول؟

هو!

ستاسې اختر منصور هم په ژیړه بوشکه سپور ایران ته تللی و، او له پاکستانه نه و تللی، او نه بیرته پاکستان ته راستنیده ځکه تاسې خو غیبي مخلوق یاستئ نه مو پاکستان کې شوراګانې وې نو مو اوس هلته کورونه شته او نه مارکیټونه..او نه درته چرته پاکستان لاس درکړی.

او دا څه موده مخکې ته هم په ژیړه بوشکه سپور وې او د امریکایانو له هډې (قطر) څخه دې طواف وکړ.

همدا ژیړه بوشکه ده چې تاسې ته هر کار کوي او کړی یې دی. هغه روسي لیزري ټوپکې او حراري دروبینونه چې روسانو درته درکړي وو او پرې د اسلامي خلافت مجاهدینو سره جنګیدئ، او دا چې اوس امریکا

عام تام د اسلحو زیرمه تونونه درته وسپارل دا نو بیا جلا کېسې دي . بیقوف که په دغه بحث کې په زیاتو مواردو کې په هغه کلیوالي اصطلاح خه پاخه په ښاخې باد کړل خو په ځینو مواردو کې یې بیا په علني شکل په خپل کفر او ردت اعتراف هم وکړ او له ځینو حقایقو یې پرده پورته کړه چې له دې ډلې یې یوه دا خبره وه چې ددوی د بیا واکمنېدو امید وو، خو په داسې شکل نه، لکه څنګه چې امریکا بې بې دوی ته په دومره مهربانۍ او پېرزوینه په میاشت کې دننه ، دننه د ټول افغانستان واک او ځواک وسپاره، امریکا خپل نوي مامورین ډېر خه ساتي ، هم ورته په نړیوال سټیج لابي کوي او هم دادی د ډالرو په کڅوړو ښه مالامال دي . د ملا بیوقوف خبرې او ځوابونه تر ډېره په خپلو کې د یو بل ضد هم دي ، د بوي پوښتني په ځواب کې وایي چې د دوحې د ترون پټ ضمائم نه شته او په داسې اوازو امریکا غواړي چې خپل مامورین بدنام کړي .

عجیبه ده !

امریکا په میاشت کې دننه ، دننه د کروړونو ډالرو اسلحې ، تجهیزات ، امکانات، واک او ځواک درته سپاري ، په خپله استخباراتي هوه قطر کې یې درته یوه بیله پلازمینه خلاصه کړې ، ستا په شمول نور نظامي او استخباراتي چارواکي په قطر کې خپلو بادارانو سره پټې او ښکاره ناستې کوئ، امریکا تاسې ته په کورنۍ او نړیواله کچه د مشروعیت په لټه کې خوله ، خوله ده ، د نویو بانک نوټونو څخه رانیولې د پټو ډالري میلوني بنډلونو سره ، سره یې درته د هفتې وارو ځلوېښت میلونه کڅوړو په رالېږلو کې وقفه نه راځي خو بیا هم امریکا تاسې بدناموي ، ډېر نیک نام خلک به یاستئ چې اوس مو نو امریکا بدناموي .

ملا بیوقوف هم لکه د نورو طالب مشرانو په دې خبره علني اعتراف وکړ چې امریکا د دوحې ترون په ځلونو نقض کړی ، خو دوی یې په غبرګون کې هیڅ هم نه دي کړي ، دلته به د ملا بیوقوف دې خبرې ته لږ تم شو ، څکه دا کاغذي پړانګان خو ځانونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وارثان او فاتحان ګڼي دوی په دوحه کې امریکایانو ته ورکړې تسلیمي د حدیبیې د سولې سره مقایسه کوي نو له ملا بیوقوف څخه پوښتو : که څه هم ستاسې سوله امریکا سره دا تسلیمي ده سوله نه ده، خو که خپله دا تسلیمي د حدیبیې په سوله قیاس کوئ، نو د حدیبیې د سولې د ماتېدو اصول خو هم عملي کړئ کنه، تاسې که د سولې د کولو اصول د رسول الله ﷺ د سولې د اصولو سره سم ګڼې نو بیا د سولې د ماتېدو اصولو کې خو هم د هغې پیروي وکړه کنه، د سولې د کولو اصول منئ او د ماتېدو اصول یې نه منئ دا کوم اسلام شو، هم مجرم او هم په خپله ځانته قاضي یې، ستاسې د اخیستو او ورکولو تلې جلا ،جلا دي.

د نبي علیه السلام سوله د یو حلیف په قتل باندې ختمه شوه، د قریشو امداد کول د بنو بکر سره د خزاعه خلاف د مکې د فتحې سبب وګرځېد، نبي علیه السلام خپلې لښکرې په مکه ورواچولې او د خپل حلیف انتقام لپاره یې د فتح مکې غزوه وکړه.

شهاب الدین دلاور وایي ډېر کمه موده کې امریکایانو 2500 زره تخطی وکړې او موږ یوه تخطي نده کړې، چې د دوحې ننګین قرارداد په دریم تلین کی وویل امریکایانو 3000 زره کرته ترون نقض کړی دی چې دا یوه میاشت کې څنګه 500 ځله دا نقض زیات شو؟

دادی تا هم په دې اعتراف وکړ ي امریکایانو په ځلونو دا ننګین ترون نقض کړ .

په هر صورت 2500 او یا 3000 څه چې سل زره کرته هم مات شي خو طالب به پرې خپل ښت چرته ونه ګروي.

دي ته حیران یو چې د دوي ذلت څخه په کومو الفاظو تعبیر وکړو، آیا د دي څخه زیات ذلت به هم چیرې وي ؟

د 3000 زره تخطیو

باوجود هم د دوي دا ترون مات نه شو ؟ د دومره تخطیو با وجود بیا دا حربي کفار امریکایان،چینایان او روسان وغیره دلته څه کوي؟

بیا تاسي د کوم شرعي اصولو په اساس د دوی امنیت ساتئ او د دوی منافع خوندي کوئ؟ چي نه ترون شته، نه جزیه درکوي، جګړه هم ورسره نه کوئ بلکي ډاډیني ورته ورکوئ نو آیا دا امریکایان او خارجي کفار مو په کومه رشته کي راځي، چي دومره ورباندي مین یاست؟

بیا خو له تاسي څخه بله ذلیله ډله نشته چي مفتے د حربي کفارو ساتنه کوئ ؟

د امریکا متحده ایالاتونو سره د مسلمانانو بي شمیره پیغلي بندیاني دي، عافیه صدیقیه په شمول سلګونو عرب او نوري مهاجري خویندي ورسره د اسارت شپي تیروي، خو د طالبانو پروا هم نشته، بي غمه ورسره د سولي په نوم د تسلیمی تړونونه امضاء کوي،نو د مؤمنو پیغلو

د بار بار بي عزتی په وخت دغه کفارو سره سوله روا نده.

امریکا فلحال هم عراق ، سوریه ، افریقا او په نورو طرفونو کي عملي د مسلمانانو د دولت سره جګړه کي واقع دي.

یعني امریکا فلحال نری کي په مستقیم او غیرمستقیم شکل مسلمانانو سره په جګړه کي واقع ده او په حقیقت کي د مسلمانانو په خلاف دجګړي رهبري کوي، امریکا همدا اوس د اسرائیلو تر شاه ولاړه ده او اسرائیلو د مسلمانانو اوله قبله یرغمل کړي ده او د فلسطین مسلمانان یي په خپلو رندو بمبارونو کباب کړل ، جزیرة العرب همدا اوس هم د امریکا مستعمره ده او دا عربي جزیره یي اشغال کړي ده ، نو له جزیرة العرب څخه د امریکا ویستل په ټولو مسلمانانو فرض دي هیڅوک دوی سره د بین المللي کفري اصولو په اساس د معاهدي حق نه لري .

همدا راز امریکا سوریه کي د بشار الاسد تر شا ولاړه ده او بشار الاسد مستقیم د سوریه

په مسلمانانو د ظلم او وحشت یوه توره تیاره راخوره کړي ده او د شام مبارکه خاوره یي د خپل یرغل او دیموکراسی د واک لاندي ساتلي ده ، نو دا ټولي خبري ددي دلیل دي چي امریکایان حربي کفار دي او دوی سره هیڅکله هم څو ضمیر فروشه د چوکی لپاره معاهده نشي کولای.

امریکا د پاکستان تر شا ولاړه ده او مستقیم یي هلته اډي او نور استخباراتي مراکز موجود دي، نو د پاکستان ظلم او وحشت د مسلمانانو مقابل کي نه هیریدونکی وحشت دی، دا ځلور لسیزي د هر یرغلګر په وړاندي د افغان اولس د قربانیو ثمره پاکستان اخلي ، او د زرګونو او لکونو خلکو په وینو او اوښکو سوداګري کوي نو ویلای شو چي پاکستان په آسیا کي دویم اسرائیل دی ، دوی سره هم د مسلمانانو دروند حساب پاتي دی ، نو څوک چي د پاکستان ترشا ولاړ وي دا د مسلمانانو دښمن دی چي له دي ډلي یوه هم امریکا ده.

امریکا افغانستان کي داسي وحشت او دهشت

وکړ، چي په لیکلو یي ګوتي ریږدیږي او دادی اوس یي نو دا د خپل وحشت او ظلم ماموریت طالب پایلوچانو ته سپارلی ، نو دغه ټولو سره به مسلمانان د هر بم او هر کروز د وریدو او د هر وحشت د ترسره کیدو حساب کوي ان شاء الله.

د امریکا بدماشي دي حد ته رسیدلي چي د نړی هر کونج کي یو مسلمان د اسلام د دفاع او اسلامي نظام خبره وکړه نو امریکا ورپسي په زرګونو کیلو مټره لار وهي او هغه مسلمان ځپي ، نور نو کوم تفصیل او تفسیر ته اړتیا نه شته امریکا د ټولو مسلمانانو په خلاف د جګړي اعلان کړی او هر مسلمان چي اسلحه پورته کوي او حقیقي اسلامي نظام غواړي نو هغه د امریکا په نظر ترهګر او تروریست دی او امریکا ورسره جګړه مخ ته وړي .

امریکا حقیقت کی هغه مکاره ګیدړه ده، چي غواړي خپل باطل منهج (دیموکراسي) چي د صلیبیت له پوچو افکارو

ځخه سرچینه اخلي د میډیا په زور په نړۍ حاکمه کړي.

د بشریت له سرسخته دښمنانو څخه یوه هم امریکا ده.

هو! امریکا ده، هغه امریکا چې زرګونه کسان یې په عراق او افغانستان کې شهیدان کړل.

بلې! هماغه امریکا چې هر ځای کې که اختلافات راپیدا شوي دي نو شاته یې د دوی لاس دی .

هغه امریکا چې د ابو غریب ، ګونتانامو او باګرام په شمول یې په لسګونو زندانونو کې په زرګونو خلک شکنجه او تعذیب کړل .

هغه اشغالګره امریکا چې د خپلې سلطې او واک پراخولو په هدف اوس هم د زرګونو مؤمنانو وینې تویوي ..

نن سبا امریکا په نړۍ کې په یو معبود بدله شوې چې د نړۍ په ګوټ ، ګوټ کې یې خلک عبادت کوي او په اسلامي نړۍ کې یې عبادت کونکي بیا منافقین او مرتدین دي . او څوک چې د امریکا له بندګی سر غړونه وکړي نو هغه بیا د تروریست په نوم وژني .

خپله امریکا همدا ناړې او بغاړي وهي چې د حقیقي اسلامي نظام دعوه دار او غوښتونکي یې هر چرته هدف دي او ددغه رزیلو امریکایانو د وحشتونو داستانونه ډیر اوږده دي خو ددې هر څه باوجود د امریکا د خبرو مفسرین لګیا دي او ددوی خبرې بل ډول تفسیروي او طالب مشران بیا همدې وحشي امریکایانو ته د شریف او نجیب قوم خطاب کوي .

امریکا حربي وه او حربي ده، نو دوی سره نه مسلمانان په عمومي شکل معاهده لري او نه په خصوصي توګه افغانستان کې کومه شرعي معاهده شته او نه هم هغوی معاهدې ته ژمن دي، بلکه حربي کفارو سره د اسلام کوم اصول او رفتار چې دی، هغه قتال دی ، همداسې چلند به ورسره کیږي ان شاءالله او یوه محدوده ډله هیڅ وخت هم دا حق نه لري، چې امریکا سره د خپلو منافعو لپاره په خپل سر تړون وکړي او په کراتو ، کراتو ورته د امنیت ډاډګیرنې ورکړي .

ملابیوقوفه ! یو ځل د امریکا نه پوښتنه وکړه چې له تړون وروسته یې څومره مسلمانان شهیدان کړي ، څومره یې بندیان کړي؟ دا معلومات وکړه چې څومره مسلماني خویندې او میندې ورسره بندیانې دي، نوره پوښتنه یې که نه شې کولای خیر د یو لیست (جدول) غوښتنه خو ترې وکړه دا خو به دې د بین الملل په اصولو کې ډیپلوماتیک حق هم وي چې یو لیست ترې طلب کړې ګوندې دا لیست درکړي او په دې لیست دې دغه له غیرت، احساس، عاطفې او رحم خالي وجدان او ضمیر کې لږ درد پیدا شي، لږ فکر درسره پیدا شي چې څه کول په کار و او تا څه وکړل، دومره رسوایي چې اوس د خپلو کړنو یادونه هم علني نه شې کولای ځکه چې پوهیږې چې غیر له شرم او خجالت څخه بل څه نه درکوي.

ملا داد الله وایي چې: زمونږ خویندې ورونه دې کفارو سره په زندانونو کې بندیان وي، سیمې مو اشغال وي او څوک چې امریکا سره خبرې کوي نو دا به غدار او خائن وي، نو څه مو فکر دی، نن د دوی مشران خائنان او غداران نه دي؟

د رسول الله ﷺ سوله درې کاله وروسته د قریشو د سرغړونو په صورت کې ماته شوه، نو بیا یې آمادګي ونیوله او په قریشو یې حمله وکړه؟ او کله چې له سولې وروسته هم له حدیبیې ستون شو نو کرارې کیناست، بلکې په خیبر یې برید وکړ داسې نه چې مکمل عالم کفر ته یې د امن ډاډ ورکړی وي، رسول الله ﷺ خو له یو اړخه ځان مطمئن کړ او په بل اړخ یې حمله وکړه.

د اسلام د سیاسي نظام قلمرو د پرمختګ ستراتیژي یې تطبیق کړه، د قتال ستراتیژي یې تطبیق کړه، راغلی په آرام یې وانه ړول تبوک ته یې مخه کړه.

سوچ وکړه چې د رسول الله ﷺ سوله په څه شې ماته شوه، د اسلام په سیاسي نظام کې

سوله د اساسي هدف لاس ته راوړو لپاره یوه مؤقته وسیله ده، ملا بې وقوفه ستا اصل هدف اوس څه شی دی؟ چې د همغې لپاره دې سوله وکړه، ته اوس څه غواړې؟ ستاسې ټول هدف خو د چوکۍ او واک تر انحصاره و او بس.

د سولې وروسته خو تاسې هر څه ختم کړل، جهاد ختم، پرمختګ ختم، هر څه ختم، رسول الله ﷺ خو مدینه کې قوي نظامي ملاتړ درلود، داخلي نظام جوړ دی ، شریعت حاکم دی، فیصلې په قرآن کیږي او بیا غواړي چې عمرې ته لاړ شي، مکې ته مسلح حرکت کوي، بیا لاره کې د موقت او اضطراري حالت سره مخ کیږي او بیا موقت وخت لپاره سوله کوي، یعني رسول الله ﷺ په اصطلاح بودیجه لري، بیا نو د دښمن خولې ته ورځې او هغه هم د سولې په نیت نه ځي، بیا هلته سوله کوي.

دا د رسول الله ﷺ حرکت یو نمایشي حرکت و، خپل زور یې مکې والاو ته ښودلو، ورته یې په زغرده وویل: یا به سوله کوئ او یا زه عمره کوم جنګ ته تیار شئ، په مرګ یې بیعت کړی و، دا یې ورته ښکاره کړه چې یا به دربانديې ځان د یو قوت په حیث منم او یا به عمره کوم. خو د طالب دریځ همغه د مشرکینو وړاندیز و، او طالب هم د مشرکینو ټول وړاندیزات ومنل.

دغه سوله کې ډیر خلک تلي، راغلي، یو ځل چې د مشرکینو سفیر عروة بن مسعود الثقفي، رسول الله ﷺ ته راغی، او رسول الله ﷺ سره یې خبرې کولې رسول الله ﷺ ته یې وویل دا تا چې راوستي دا درځخه تښتي،ته ولې خپل قوم سره جنګیږې دا ستا خپل قوم دی، خپل عرب او قریش قوم خرابوې، لکه د طالبانو د قومیت او وطنیت له ګمراه فکر څخه یې خبرې شروع کړې.

ابوبکر رضي الله عنه ورته په غصه شو، ورته یې ویل: لاړ شه چرته د لات فرج وڅټه، موږ په رسول الله ﷺ ځان قربانوو.

ملا بیوقوفه! کله چې درته امریکا ویل چې زموږ او ستاسې ترمنځ وروري او پخه دوستي شوه، نور به زموږ امنیت تاسې ساتئ،ګوره چې زموږ د امریکا او نورې کفري نړۍ د هیوادونو سرحدونه ښه کلک وساتئ او د اسلامي خلافت مجاهدین درځخه سر اوچت نه کړي، موږ به مو په ډالرو او نورو ډول ډول طریقو او پلمو هر اړخیزې مرستې کوو نو طالبه تا به هم ورته ویلي وای چې ځه وځه رزیلې امریکا چرته د خنځیرانو ګندګې وڅټه، موږ دا کارونه، نه شو کولای.

ته خو اوس هم همغه د وطنیت سندرې وایې ،ته خو همغه د مکې د قریشو کیسې کوې، چې وطن نه خرابوو، وطن کې نور جګړه نه غواړو، بس جنګ نور ختم شو، د مذاکرې په میدان کې هم رسول الله ﷺ د سر ټیټی دریځ نه دی اختیار کړی، مغیرة بن شعبه زره پوش د رسول الله ﷺ په سر ولاړ دی، ثقفي چې هغه وخت یې ایمان ندی راوړی د رسول الله ﷺ ږیرې ته لاس وړي، د دې لپاره چې رسول الله ﷺ غصه کړي یا یې میلان پیدا کړي، د عروة وراره، مغیره د عروه لاس په توره وهي، ورته وایي: چې دا نجس لاس لرې کړه او د رسول الله ﷺ مبارک ږیرې باندې مه وهه.

راشه طالب ته ګوره چې نن سبا د کفارو په مجللو هوټلونو کې نجسو مشرکانو ته لاسونه او غاړې ورکول څه چې حتی خپل مخونه هم سره موښي، مستي ده، خنداګانې دي او ډول ډول اداګانې دي، چې د کفارو او طالب مشرانو ترمنځ رواني دي.

رسول الله ﷺهلته هم قاطع خبره کړې، چې یا به خبره ومنئ یا به عمره یا جنګ کوم او یا سولې ته تیار شئ، رسول الله ﷺ چې کله عثمان د سفیر په شکل ولیږه نو درې اساسي خبرې یې ورته وکړې چې دا قریشو ته وکړه: موږ جنګ ته نه، بلکې عمرې ته راغلي یو.

مکه کې څه مسلمانان دي، په زندانونو کې دي، ورته ووایه صبر وکړئ فتحه راروانه ده ستاسې

غم موږ سره شته.

دا چې مشرکین اسلام ته دعوت کړه چې اسلام قبول کړي.

کله چې عثمان لاړ نو ښه په ویاړ جګې پایڅې په مکه ورننوت، د مکې مشرکینو ورته وویل: چې څنګه دې پایڅې اوچتې کړي، عثمان ورته وایي: دا زموږ د رسول الله ﷺ حکم دی موږ د رسول الله ﷺ په حکم ځان وژنو.

طالبه! ته چې کله دوحه کې په هوټلونو کې د بربنډو انجونو سره مخ شوې، هلته مو په نوره نړۍ کې د کفارو په زندانونو کې د اسلامي امت بندیان یاد وو که نه؟

چاته مو د اسلام دعوت ورکړ که نه؟

د رسول الله ﷺ د سولې کوم شرط او خبره مو عملي کړه؟ مکه کې بنو بکر او بنو خزاعه قبیلې وې رسول الله ﷺ وویل: چې هر څوک دې خپل دریځ مالوم کړي د چا سره په عهد کې شاملیږي؟

خزاعه رسول الله ﷺ سره او بني بکر قریشو سره عهد کې داخل شول، او دلته خبره فقط دا وه چې په یو بل دغه ټاکلې وخته پورې حمله نه کوو، کله چې رسول الله ﷺ سوله وکړه نو دلته بنو خزاعه، د رسول الله ﷺ په عهد کې او بنو بکر د قریشو په عهد کې داخل ول، بلاخره بني بکر په بنو خزاعه حمله وکړه او لکه مخکې مو چې ذکر کړه، رسول الله ﷺ ترون لغوه اعلان کړ، ویل یې سوله نوره نه شته، سوله ختمه شوه، او په مکې حمله وکړه، اوس خبره داده چې که امریکا سره څوک په پیمان کې دي، نو که هر چرته یې په مسلمان حمله وکړه، بیا سوله ختمه ده او نور اعتبار نه لري، بیا لښکر کشي په کار ده، یعنې که برید وشو سوله ختمه شوه.

نو ملابیوقوف ته وایو :

چې دا ستاسې سوله به کله ماتیږي، دا ستاسې کاغذي ترون خو درته امریکا په ځلونو نقض کړ تاسې کوم عکس العمل وښود؟

کله یې چې په کابل واکمن کولې په همغه مهال یې د باګرام په زندان کې همدا ستا له خولې تر دوه سوه کسان درته بمبار کړل تا څه وکړل؟

بیرته دې په امریکایانو برید وکړ که نه، له هغې وروسته دې هم د کابل په هوایي میدان کې د امریکایانو ساتنه کوله؟

چې لله الحمد په دې ساتنه کې هم پاتې راغلې او د اسلامي دولت یو اتل ستاسې د ټولو کفارو مرتدینو او مشرکینو وینې سره په شریکه وبهولې، له هغې راوروسته امریکا په کابل او جلال آباد کې د ډرون بریدونه وکړل، برید که ستا د سمبولیک واک لاندې و، خو تا پرې ځان ځکه غلی کړ چې هغه بریدونه د اسلامي خلافت د مجاهدینو په شک شوي و، نو همغسې دې د امریکا سره خپلې اړیکې تودې کړې چې هله ترون چرته مات نه شي.

ورپسې د امریکا ایتلافي مرتد پاکستان همدا ستا د وطن پولې نقض کړې او همدا ستا د منلو بین المللي اصولو څخه یې سرغړونه وکړه تا کوم غبرګون وښود؟

ته خو هغه ډارنه پیشو یې چې له ډاره د پاکستان نوم هم نه شې اخستې ، چې لږه خاموشي شي ، نو میډیا ته راووځې او بریتونه تاووې ، خو چې کله پاکستان همدا ستا د منلو اصولو لاندې وطن کې عملیت کوي نو بیا ته ورک یې بیا درپسې خلک په ټولنیزه میډیا کې اعلانونه کوي ، چې هلئ بیوقوف راخبر کړئ .

ته مسکین بیچاره په دې خبر نه یې ، چې دا بې ځایه بغارې چې واک درسره نه وي او مستقل ونه اوسې ، بیا هیڅ مانا نه لري ، چې دادی اوس یې تش په نوم اخیستلو باندې یریږې وایي چیرې بیا خبره خرابه نه شي.

او یا دې د دومره تخطیو کولو با وجود امریکا سره ترون مات کړ، که نه د ترون د ماتېدو ویرې نور هم امریکا ته نیږدې کړې؟

او له همغه مهاله ستا هوایي حریم د امریکایي ډرونونو په وساطت د همغه قطر او پاکستان له لارې کنټرولیږي چې ته یې په دوستۍ نازیږې،

کله قطر سره امنیتي او دفاعي تړونونه کوي او کله یې په سواحلو کې خرمستۍ او عیاشۍ کوئ، پاکستان خو دې هسې هم رسمي بادار دی.

او دا دی څو وخت وړاندې همدا ستاسې په بیعت تړلې بوډا ظواهري یې درته په رڼا ورځ په کابل کې د ډرون په برید کې له منځه یووړ، دې بحث ته نه ستنیږو چې په پیل کې مو څومره دروغ وویل او څومره ناکامه هڅه مو وکړه چې دا هر څه په بل ډول توجیه کړئ، خو دې ته راځو چې دا هم تاسې نقض ونه ګڼه، او تش په ټویټ مو غندنه وکړه او کله مو چې باداري امریکا د ظواهري وژل تایید کړل نو له ډیره ډاره مو څلور پنځه ورځې له مرګوني سکوت او خاموشۍ او سلا مشورو وروسته دا اعلامیه ورکړه، چې تاسې د ظواهري په شتون خبر نه وئ او په دې اړه به پلټنې وکړئ. اوس ټول خلک پوهېږي او په دې هم پوهېږي چې په آخري اعلامیه کې مو دا تکراري اخطار ورکړ چې که بیا امریکا داسې نقض وکړي نو پایلې به یې ښه نه وي، د کوم هدف لپاره مو ورکړ.

مونږ فکر کاوه چې تاسې به په امریکا د برید تیاري نیسئ، خو خبر نه و چې په مختلفو ښارونو کې د همغې امریکا په پلان شوې طرحه په زوره خلک مظاهرو ته راوباسئ او ټولو ته همغه یو ډول بینرونه په لاس کې ورکوئ، او د امریکا دا له ترون څخه تکراري نقض په تشو نارو ورځوابوئ.

او د همدې مظاهرو سره متصل هم همدا نارې وهئ چې امریکا زمونږ د دوحې تسلیمي ومنه، نور مو درسره کار نشته دی مونږ پریږده.

خلاصه دا ده چې اسلحه د امریکا، ډالرې د امریکا، ټانګونه او طیارې د امریکا، واک د امریکا، بندیزونه د امریکا، قومانده د امریکا، فضا د امریکا (ډرونونه) یې ښه آزادې چکرې وهي او بریدونه یې جاري ساتلي، نو بیا ماته هم شوه امریکا! دا د دې پیړۍ تر ټولو ستر عجایب دي، چې په طالبانو کې نن لیدل کیږي.

ملا بیقوف په دغه مرکه کې د امریکا په شمول ټولو کفارو ته یو ځل بیا ددوی د امنیت ساتنې د عسکرۍ کولو خه ډاډ ورکړ او په دې ټینګار وکړ لکه څنګه چې د افغانستان په داخل کې دوی د ټولو کفارو ساتونکي دي او په دغه حربي کفارو د اسلامي دولت د بریدونو مخنیوي کې ځانونه وژني نو دغسې به ددوی سرحدات ساتي او هیچا ته دا اجازه نه ورکوي چې د حربي کفارو امنیت وګواښي ، جهاد نور ختم شو او ټول کفار د دوی دوستان شول یوازې د مؤمنانو وژنه او قتل عام روا شو او بس .

مخکې که اشرف غربي د واشنګټن امن ساته اوس یې نو د جمهوریت له کرایي ملېشو طالب ملېشې په ټیټه بیه دا ماموریت ترسره کوي .

ملا بیوف په خپلو خبرو کې له یو بل حقیقت څخه هم پرده پورته کړه وایي مونږ ته خپلو ملېشو وویل چې ولایتونه تخلیه دي او د زیاتو ولایتونو په مرکزونو کې د جګړې لپاره څوک نه شته ، دی وایي چې مونږ ورته امر وکړ چې بس مخ ته ځئ خو که یو نظامي هم درته مخ ته راتللو جنګ ورسره مه کوئ ، دلته دی تې خوري ماشوم که له یوه لورې دا اعتراف وکړ چې دوی ته خپلې باداري امریکا هر څه بې ډز او ډوزه وروسپارل نو بل لور ته یې د خپلو مشرانو مخکنې دا باتې او درواغ په کلکه رد کړل چې دوی په زور راغلي او د جګړې له لارې یې په یوه نوې بڼه امریکایي اشغال رامنځ ته کړ .

بې وقوف ماشوم په داسې حال کې په هغه خاوره چې امریکایانو د شریعت په نامه د دیموکراسۍ د تطبیق لپاره ورته سپارلې د امنیت راوستو تکراري لاپې وکړې چې دده په شمول د امارت ټول لوړ پوړي چوروکي د اسلامي

دولت د زمرو د بریدونو له لاره د شپې ځای خپلو نیږدې ملګرو ته هم نه خایي ، ځکه چې ښکاره ددغه لاپو باوجود نور په پټه ددوی سر خلاص دی چې د اسلامي دولت سرښندویان د داسې پیچلو بریدونو ورتیا لري چې د دوی والیان او نور لوړ پوړي چارواکي ددوی د امن په ځالو کې وژني ،د امن د درواغجنو سندرو سره ،سره یې د مخدره توکو د قاچاق او استعمال د بندیز خبره هم په داسې حال کې وکړه چې د دوی نوي عسکر یې چرس وهي او د لوړ پوړو چارواکو په شمول د سل سلنه تولو خولې او توف داني له نصوارو ډکې دي د کوکنارو او بنګو کرکیله تر اوسه روا وه او داسې روا وه چې دوی به په کې عشرونه اخستل او د همدغه حرامو کښتونو په کښت او قاچاق یې خپله جګړه مخ ته وړله ، خو اوس چې یې د ملل ملحده سره نکاح وشوه نو د خپلو کافرو بادرانو د لوړاو د خوشالۍ لپاره یې په ځینو ځایونو کې د نشه یي توکو کښتونه له منځه یوړل ، عجیبه ده د هر څه د حلالوالي او حرمت مصدر دوی خپل خواهشات ګڼي نه شرعي نصوص .

ملا بیوقوف یو ځل بیا د ملل ملحده د غړیتوب د کفري شرائطو د پوره کیدو اعتراف وکړ هغه شرائط چې په پوره کیدو یې دوی د اسلامي امت څخه خارج او د کفر په صف کې ودریدل ، دا کوم شرائط دي او شرعي حیثیت یې څه دی ؟ که دلته پرې بحث کوو نو موضوع اوږدیږي او بحث بل طرف ځي ، په ملل ملحده کې د عضویت د شرایطو په اړه له العزائم خپرندویه اداري څخه نشر شوي ځانګړې رسالې لوستلې شئ .

بیوقوف او نور نصورایان یې له یوه لوري د ازادۍ لاپې کوي، خو بل لور ته بیا د اشغال خبره هم کوي وایي فضا مو اشغال ده خو دا چې له کوم طرفه دا اشغال دوام لري له لاره د هغه هیواد نوم نه اخلي ، بیوقوف داسې خبرې د خو اهدافو لپاره کوي لومړی خو دا چې په دې خبرو د دوحې د تنګین ترون همدا ماده پټول غواړي چې په کې امریکایانو سره دا پریکړه شوې چې د امریکایي طیارو د شفقت سیوری به د دوی په سرونو تل وي دا طیارې به له یوه لوري د طالب ملېشو ساتنه کوي او بل لور ته لکه څنګه چې د دوی استخباراتي برخه کې امریکا د ډالري بنډلو په شمول هر اړخیزه مرسته کوي دغسې به یې د فضا له لاري هم د دوی او امریکا شریک دښمن اسلامي دولت مجاهدین ښکاري چې په دې خبره لوړ پوړي امریکایي چورواکي تکراري اعترافات هم کوي .

د ملا بیوقوف په نامه د لوبو نانځکه چې د چارج بیټرې هم په کې پاکستانی پرتې دي او د پاکستان په ریموټ حرکت کوي اوس یې هم کور په کراچۍ کې دی ، خو په ډیره سپین سترګی کله ،کله باتې وهي او د ازادۍ دعوه هم کوي او د پاکستان مداخله ردوي خو دومره د پاکستان د طلسم او ډار لاندې دی چې دومره خبره هم نه شي کولای چې دا طیارې د پاکستان له لارې راځي لکه مخکې مو چې یادونه وکړه چې د دوی خولې هم د سي اي اي او اي ایس اي په واک کې دي او دغه استخباراتي شبکې د طالب مرتدینو په خوله خبرې کوي څنګه او څه ډول او څه وخت چې هغوی کوم ډول خبرې وغواړي دوی مکلف دي چې همغسې ووایي .

ډیره جالبه لا داده چې دا پلاستیکي د دفاع وزیر ډیر کله سوټې په ډانګونو وهي چې موږ سرحدات ساتو او په خپله خاوره د هیچا تیری نه منو خو چې پاکستان یې په خاوره کې عملیات وکړي نو دا بیا چرته په سوړه ننوتې وي بیا ورپسې په ټولنیزه میډیا کې د ورکې اعلانونه کیږي .

بیوقف په دې کفر هم اعتراف وکړ چې د امریکا د ګټو د ساتنې (د طالبانو نام نهاد دفاع وزارت) په مختلفو ارګانونو کې همغه پخواني مرتد کارمندان په دندو پاتې دي ، مطلب همغه زړه کبسه ده ، وایي ټولو هغه خلکو ته بخنه وشوه چې دوی سره په

جنګ کې ښکیل وو، نو بیوقوف ته وایو چې موږ چې بار ، بار دا خبره کوو چې ستاسې دا جګړه د شریعت لپاره نه وه نو یو دلیل یې دا هم دی ، چې دغه د امریکایي اشغال سترګې ، لاسونه او غوږونه د جمهوریت مرتدین ټول تاسې بې له توبې وبښل ټول مو د امریکا په امر په ځپلو ځایونو پریښودل مو په کوم شریعت وکړل ، د شریعت نصوص خو څه ستاسې پوله پټې نه دی چې تاسې به یې د خپل خواهش مطابق پلورئ او بدلوئ را بدلوئ .

بې وقوف یو وخت کله چې دوی ته تازه د افغانستان واک او ځواک ورته سپارل شوی وو، نو تاجکستان ته یې د هغه هلي کفترو په اړه درکې وکړې چې د امریکا په امر د ځینو ملحوظاتو په اساس انتقال شوې وې ، ویل یې وو که یې راته ونه سپارې نو خه به نه وي خو داخل یې په دي مرکه کې په ډیره نرمه لهجه د همدې پوښتنې په ځواب کې وویل چې والله کومې طیارې چې ګاونډیانو سره دي هغوی وایي چې موږ ته امریکا وایي دا مه ورکوئ نو د امریکا اجازه نه شته نو ځکه یې لا راته نه دي سپارلي .

بیوقوف د نورو کفارو ترڅنګ د خپلو طاغوتي ګاوندیانو سره د جنګ په نه کولو د ټینګار ترڅنګ د خپلو ضدو نقیض څرګندونو په لړ کې یو ځل بیا د وطني سرحداتو د ساتنې درکه وکړه او ویې ویل چې چاته به په خپله خاوره کې د پوستو جوړولو اجازه ورنکړو ، که څه هم همدا کرښې د همدې هدف لپاره جوړې شوې چې د وطنیت کفري عقیده تري راوزیږیږي او د اسلامي سرحداتو د پرمختګ او ساتنې په ځای داسې تش په نوم مسلمانان ددغه بین المللي سرحداتو په ساتنه مشغول کړي خو د بیوقف دي خبرې ته د سړي خندا راشي ، د چا څه کار دی ستا (!) په خاوره کې پوستې جوړې کړي ، که امریکا ده او که پاکستان دی ، دلته موجودې پوستې او نورې ټولې ادارې او کېښې ټولې د همدوی له لوري کنټرولیږي ، چې ټوله خاوره یې واک کې ده نو د یوې پوستې جوړولو ته به څه اړتیا وي .

بې وقوف په خپلو خبرو کې امریکا ته د دښمن ویلو څخه ډډه وکړه او هسې د بوسو لاندې یې اوبه تېرې کړې او دلته یې هم خه و، حقیقت ښکاره کړ .

هو!

دوست ته هیڅوک د دښمن خطاب نه کوي .

لنډه دا چې د بې وقوف دغه بحث او مرکه له پیله تر پایه په ځینو مواردو کې د ښکرورو درواغو او په ځینو برخو کې د خپلو خبرو ترمنځ یې د ښکاره ټکر او په ډیرو مواردو کې په کفر کولو اعترافاتو څخه ډکه وه ، په ځینو برخو کې یې له هغه حقایقو هم پرده پورته کړه چې نور طالب چاروکو یې د پټولو هڅه کوله چې هغه هم د دوی د کفر او ردت څرګندې بیلګې شمیرل کیږي او تر ټولو یې جالبه خبره دا وه چې د ازادۍ او د زور د خیالي کېسو په درشل کې یې په ډیره واضحه توګه په دې اعتراف وکړ چې : که امریکایان وغواړي او دا ځان سره تسلیم کړي چې زموږ نظام یو مستقل نظام دی ، او موږ پریږدي چې خپل مشکل پخپله حل کړو نو بیا به دا ټول مشکلات ډیر زر حل شي .

افرین (!) بیوقوف صیب په دې خبره دې ایله خپل اصلیت راښکاره کړ ، یانې چې امریکا څخه تاسې دومره واک نه شئ کولاې چې خپل مشکل خپله حل کړئ او ستاسې د نظام ازادي او استقلال د امریکا په غوښتنو کې نغښتې دی نو بیا دا دومره باتې وهل په څه مانا ، نو کلاري کینه نور هغه وخت نه دی چې ستاسې هر کفر او هر ردت او خباثت به لکه ستاسې د ړندو چرګانو طالب کشرخیلو په څېر هر څوک په پټو سترګو درسره د اسلام ، ازادی ، اتلولی او سپیڅلتیا په نومونو ومني ، اوس مو نو اصلیت په بشپړ ډول راښکاره شو او انتظار کوئ چې اسلام سره د غدر او خیانت به تاسې نور څومره د ذلت او پستی سزا ګالئ .

طالبان جنسي ليوان

دا کومه د تعجيب او حيرانتيا خبره نه ده چې طالب ملېشو په دومره لوړه کچه په خپلو ايمانونو او نورو ارزښتونو سودا وکړه ، د دوی مشران او کشران کفارو ډېر خه پيژندلي دي ، همدا ديګ او همدا ټيپر ، د همدې

کشرخيلو سره همدا مشران جوړيږي مطلب دا چې يو له بله کم نه دي هغه يو متل دی وايي : خر چې له خرو کم شي غوږ يي غوڅ کړه چې کړم شي .
اوس نو دوی له يو بله کم نه دي ، د مشرانو يي

کشرانو سره او د کشرانو یې مشرانو سره په اخلاقي مفاسدو کې سیالي خه په درز کې روانه ده .

کله چې د امریکا په تر تولو ستره استخباراتي هډه قطر کې هغه طالب مشران چې د زندان په نامه د اي ایس اي او سي اي آي په روزنتونونو کې روزل شوي وو ، کفارو سره د ولس د وینو او اوښکو په پلورولو او د خپلو ایمانونو او غیرتونو په سودا او معامله په یوه میز کیناتسل نو همغه مهال یې د قطر د ساحلونو او د عیاشۍ هوټلونو له سالونونو د پټو خرمستیو د مقدمې او پټو بد اخلاقیو د نمایش شکاره بیلګې یې هم ننداري ته وړاندې کولې ، چې په کې به هغه مهال لنډ ډیري ستانکزي په ځنګیدلي حال کې د سرتور سر

شڅو سره د مصاحبو په بهانه خلتونه کول ، خه وو په همدې کېسو کې ډیره هم رابره شوه .

هغه چې حنیي صیب (!) به د انګریزو میمو سره په داسې حال کې په ډیر ناز او اداء قدم واهه ، چې تر پنډیو به لوڅې وي .

هغه چې موتکي ملا

صیب په ډیره خندانه شیره او پراخه تنده د خپلې سر تور سر فاحشې باداري حنا رباني استقبال ته ودریده او دغه ناز داني دانه دانه قدمونه یې شمیرل .

هغه چې زبیح جاهل به په کې د نامحرمو شڅو په غوبل کې لر بر کیده ، هر یوې ته به یې بیله خوله جینګوله او په هر یوې به یې د

خپلې خندا لورینه کوله او په سلفي عکسونو اخستو به یې هم بخیلي نه کوله .

إذا كانَ الغرُابُ دَليل قومٍ
يَدُلُّهم على جِيَفِ الكلابِ.

کله چې د یو قوم شودنکی (مشر) کارغه شي ، نو هغوی ته به د سپیو په مردارو شودنه کوي .

هو! دي کارغانو پسې شاته د خپلو ورو کارغانو سیلونه روان دي او دا ټپوسان یې په مردارو پسې ګرځوي .

رښتیا هم همداسې ده .

خریان له برګیانو کم نه دي ، کشرانو ته یې خپل مشران په هر څه کې نمونې دي ، ځکه نو دوی هم په ډیر ویاړ د خپلو

مشرانو په پلونو روان دي ، که ددوی لوړ پوړي مشران يي په لوړه کچه په پټه د خپل هوس تنده ماتوي او کله ، کله د همدغه پټو خباثتونو ځرکونه او عکسونه يي رسنيز کيږي هم ، داسې يي ټيټ پوړي چارواکي هم له هغوي کم نه دي دوی نو بيا په دې هم مطمين دي چې هغه د شريعت په نامه چې دوی د عوامو لپاره له خپلو خيټو کومې بين المللي سزاوي ټاکلي که دوی د همغه جرمونو مرتک شي هم دوی ته دا د حدودو په نامه د خپل خواهش او خيټو څخه نوي سزاوې هم څوک نه ورکوي دوی ته حقبين (!) سعيد خوستي ، حقاني او نور ځرکند مثالونه دي ، ځکه يي نو د کندوز دزراعت رييس په ډير جرات په هغه پيسو چې د رشوتونو او مالياتو له لارو يي د عوامو له پوستکې ويستلي په پنځه ځلويښت لکه پردی ښځه ځانته په زور نکاح کړه او ډيری مشران يي چې دويم او دريم ودونه لري اوس يي کوشش دی چې ځلور پوره کړي ، دا هغه خبرونه دي چې سره له ډير سانسور وروسته بيا رسنيز کيږي او ددوی خياطان چې کله ددی د شکيدلو خښتونو په ګنډلو ونه توانيږي نو بيا مجبور شي دوی هم اعتراف وکړي .

اوس نو دادي دا جنسي ليوان دومره سپين سترګي شوي چې په دې برخه کې يي ټول حدود کراس کړي ، هيڅ يې سترګو کې حيا نه ده پاتې ، موږ ددوی د اخلاقي مفاسدو په ليکلو د شرم احساس کوو، دا دې دوی هره ورځ سره د دومره سختو اطلاعاتي محدوديتونو او په رسنيو او خپلو افرادو د

سخت سانسور په شتون کې بيا هم د خپلو بد اخلاقيو مستند کليپونه وراندي کوي.

او دوی به ولې دومره په جرات او خلاص مټ د خپل شهوت اور نه سړوي هغه چې د دوی تش په نوم د امر بالمعروف او نهي عن المنكر (!) مامؤرين يې هم په دې مفاسدو اخته دي نو له نورو يې څه ګيله.

دغه لاندې بد مخي يې د يادې اداري مامؤر دی لګيا دی په يو ويډيوي يي کليپ کې په دې وياړي چې يوې ځوارلس کلنې جنې سره په خبرو کې د خپلې حيا جنازې وباسي.

د اوس نو ددوی تر منځ دغه سيالي څه په درز کې روانه ده، دا نه يوه پيښه ده او نه سل دي بلکې تعداد يې له زرګونو اوښتي او يوازې په دې تېره مياشت کې تر لسو پورې د دوی د بد اخلاقۍ پيښې رسنيزې شوې چې د ټولو د ليکلو او پرې د بحث کولو ضرورت به نه وي دا يې مشت نمونه يې خروار دي.

نو طالبان د جنسي ځنګل هغه ليوان دي چې نه په خپله حيا دي او نه د بل د حيا په کېسه کې دي، دغه ليوانو د ډېرو خلکو د عزتونو لمنې تار، تار کړې او ډېره بده يې بيا لا داده چې په ټولنيزه ميډيا کې ددوی خياطان په ډير تکليف په دې کوشش کې دي چې ددوی پرتګونه راوګنډي او شرمګا يي پټه کړي خو هغه خواران هم نه توانيږي بخی تري کړيږي او دا ستري خياطان به يې کومه سوړه پيوند کړي، دوی نور د دوی د کفر، ردت، وحشت، فساد او بد اخلاقيو په توجيه کولو هم نور ستړي شول ځکه يې نو ډيرى هغه يې د خياطى په ځاي اوس خپلو کې يو بل ته مورچه شوي او خپلې لمنې په سر را اړوي.

دا دی هغه په دوحه کې ډيزاين شوی پاکستانی اسلام او دادي د بايدن نوی عسکر او ددغه اسلام نما ديموکراسی ساتونکي چې ځانونه مجاهدين هم بولي، خو له مشره تر کشره يې د هر يو د اخلاقو مفاسدو يو ځانګړی داستان پروت دی.

د النبأ مجلې څخه

د وحي په خاوره کي
صلیبي حمله!

له جوړېدو یې څه باندې اته کلونه وروسته، صلیبي ټلوالې خپله لسمه غونډه تر سره کړه، خو د کاروونو په جدول کې یې کومه نوې خبره نه وه، بلکې یو ځل بیا یې د خپلو وعدو "اسلامي دولت ته په شکست ورکولو پابندې" یو نوی باب پرانیست، هغه دولت چې دوی یې د خپلو قومندانانو په ګومانونو او بیانونو کې لسګونه ځل د ماتې اعلان کړی دی!، خو واقعیت او د میدان خبرې بیا جلا دي؛ ځکه دا دولت توانیدلی چې صلیبي ټلواله وځپي او داسې نويو ډګرونو او د جنګ پراخه میدانونو ته یې راکاږي چې دوی ته یې مالي او پوځي پوښښ ناممکن بریښي.

دا هغه څه دي چې د ټلوالې په دې تازه ناسته کې څرګند ښکاریدل، ځکه دوی د چاندو راټولولو یو کمپاین د "مالي ژمنتیا" تر عنوان لاندې پیل کړ، تر څو د اسلام پر ضد جګړې لپاره د خپلو خواریو د غځولو په موخه 601 میلیونه ډالر راټول کړي، په داسې حال کې چې نړیوال سودي اقتصاد له بحران سره مخ دی، هغه اقتصادي چې الله تعالی ورسره د جګړې وعده کړې ده، نو څنګه به ګټه وکړي؟

د ټلوالې د لسمې ناستې د پیل څخه دا څرګندیږي چې دا د هغه "اعترافاتو ناسته" ده د کوم په اړه چې اسلامي دولت په خپلو ویناوو کې ویلي وو او د جنګیالیو بریدونو یې پخلی کړی و، خو اوس الله تعالی د ټلوالې د مشرانو په ژبه دا خبره جاري کړه تر څو د اسلامي دولت د خبرو پخلی وکړ او بیا دا عنوان ورکړي چې "دوی به په افریقا، عراق، سوریا، جنوبي او منځنۍ آسیا کې د (جهاد) ځپلو برنامو د ملاتړ او جهاد پر ضد هڅو ته دوام ورکړي، چې له دې څخه د ټلوالې د پوښښ د ساحې پراخېدل هم ښکاري"، خو دوی دا له یاده ویستلې چې اسلامي دولت وار له مخه د ځپونکې جګړې دایره پراخه کړې او دوی یې داسې هر اړخیزه ځپونکې جګړې ته کش کړي چې په معاصر تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي، دا هغه څه دي چې دوی په ډېر ذلت سره پر دې اعتراف هم وکړ او په څرګند ډول یې وویل چې: "تر ټولو ستر نړیوال ائتلاف"، خو باید په یاد ولرو چې دا به تر ټولو ستر زیان موندونکی او ماته خوړونکی ائتلاف هم وي بإذن الله تعالی.

یوازې دا نه، بلکې ټلوالې په څرګند ډول په دې هم اعتراف وکړ چې د خلافت د دولت پر ضد په عراق او شام کې جګړه لا هم د ټلوالې له لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي، چې په دې اعتراف سره دوی خپل ټول هغه اعلانات، زیري او د بریا بیانات لمنځه یوړل چې دوی او د دوی مرتدو لاسپوڅو په تیر کې کړي وو، چې دا ټول اعترافات د دوی په وروستی ناسته کې یو ځل بیا ثبت شول، دغو اعترافاتو د افریقایي ټلوالې هیوادونو ته هم دا پیغام ورکړ چې د نړیوال صلیبي ائتلاف سرمشریزه خو لا په لومړۍ دنده کې ناکامه ده نو څنګه به تاسې سره ستاسې په دې نوې دنده کې مرسته وکړای شي؟! د ستري ځپونکې جګړې نښې چې ټلواله یې ځومره وارخطا کړې له دې هم څرګندیږي چې دا ځل ټلوالې په دې تمرکز کاوه چې د جهاد سره د مبارزې لپاره دې د هغه هڅو ملاتړ وشي چې ولس او عوام یې مخته وړي، نو ځپونکې جګړې دوی دې ته اړ کړل چې د "ولس او عوام ساتنې" د غولونکې شعار او مرحلې څخه د ولس او عوامو استخدامولو مرحلې ته ولېږدیږي، او دا چې ولس باید په هغه دنده کې استعمال شي چې د دوی ټول پوځونه پکې مات شول.

د ټلوالې په دې وروستی ناسته کې شاید نوی

خبره دا وه چې دې ناستې لپاره د حرمينو خاوره او د مرتدينو تر تسلط لاندې اسيره مکه کې د حج موسم د رانږدې کېدو وخت ټاکل شوی و، چې دا کار د مسلمانانو مقدساتو د سپکاوي يو ستر جرأت ګڼل کېږي، بلکې دا جرأت له هغې ډېر لوی کوم چې يهود په بيت المقدس کې د مسلمانانو د سپېڅلو ځايونو د بې حرمتۍ په برخه کې کوي، خو سره د دې بيا هم دا کار داسې تر سره شو ګويا کې هيڅ هم نه دي شوي!

په هيڅ مسلمان په اسلام کې د حرمينو د خاورې قدر او منزلت پټ نه دی، د پيغامونو او وحې د راښکته کېدو خاوره، اسلام تر ټولو لومړی له دغه ځای څرک وهلی، د مسلمانانو قبله او د جهاد او فتوحاتو د بيرغونو د پورته کېدو سيمه، که يې په فضيلت وغږېږو خبره به ډېره اوږده شي، خو سره د دې بيا هم د وحې په خاوره کې د نړيوال صليبي ائتلاف ناسته داسې تېره شوه لکه عزتمند خلک چې راټول شوي وي، دا ځکه چې خلکو د نبي ﷺ دا همېشنۍ وصيت له پامه غورځولی چې فرمايي: (مشرکين د عربو له ټاپو وزمې څخه وباسئ)، نن ورځ مونږ ګورو چې صليبيانو ته محفلونه نيول کېږي، جشنونه ورته کېږي او ورته شه راغلاست ويل کېږي، بلکې د صليبي حملې د بيا راتازه کولو لپاره دعوت د عربو له ټاپو وزمې پيلېږي؟!

دا ټول هر څه د ناکاره ډېرورو او مرتدو داعياتو په چوپتيا کې روان دي، هغه ډېرور او ناکاره داعيان چې د مجاهدينو پر ضد جګړه کې د صليبي ټلوالې بل مخ دی. پخوا به د صليبي حملو پر وړاندې په جهاد کې د مسلمانانو صفونه د اسلامي امت د علماوو څخه ډک وو، او د هغه چا په کفر به يې فتوې ورکولې چې د صليبيانو مرسته او ملاتړ وکړي، خو نن بيا طواغيت او ورپسې د ردت شيخان د صليبي ټلوالې تابعدار لښکر ګرځېدلی!! بلکې هغه څوک چې د صليبي ټلوالې پر ضد د جهاد هڅه وکړي او د هغوی پر ضد جهاد ته خلک راوبلي د دغو مرتدو شيخانو له لوري پرې د خوارجو فتوی لګېږي، خو افسوس ډېری علم ته منسوب خلک بيا هم په دې اصرار کوي چې د ټلوالې د دغو فقهاوو شاګردي وکړي او له دوی څخه دين زده کړي، نسأل الله العافية.

پرون په دارالندوه کې د اسلام پر ضد د دسيسې جوړولو لپاره د کفارو غونډه، دا دی نن بيا د وحې په خاوره کې د امريکا په مشرۍ کې جوړيږي، ګويا تاريخ يو ځل بيا ستون شوی، تر څو د اسلام پر ضد د جګړې ټول فصلونه په ډېره څرګنده او روښانه بڼه يو ځل بيا تکرار کړي، خو سره د دې بيا هم ډېر لږ خلک عبرت اخلي، تاسې وګورئ چې توحيد او جهاد ته د شاه اړولو او د دنيا د رنګينيو او شهوتونو په لور د تلونکو خلکو په وخت څومره لږ خلک دي چې تدبر او سوچ کوي.

نړيوال ائتلاف سره د ”توګو“ هيواد يوځای کېدل هم د يادې ټلوالې له لوري ونمانځل شول، چې په ټول کال کې يې يو يا دوه ځل هم نوم نه اوريدل کېږي، په دې سره د ټلوالې د هيوادونو مجموعي شمېر 86 ته ورسېد، او دا ټول د هغه دولت سره د جګړې لپاره راټول شوي چې له لومړۍ ورځې يې بنياد په تقوا سره ايښودل شوی دی او لا هم د الله تعالی په فضل سره هماغه شان ولاړ دی.

د مجاهدينو پر ضد جګړه کې د دغو ټول ګډو هيوادونو د شرکت سره سره، بيا هم نړيوالې ټلوالې د اسلامي دولت پر ضد د يهودو ستر رول ته نغوته نه کوي، ځکه د دې ويره شته چې د

خلکو هغې جذبې ته راوپارېږي چې خلک يې د صليبيانو په پرتله د يهودو څخه د غچ لپاره لري، سره د دې چې د نبي ﷺ له بعثت وروسته تر ننه د امت د عقيدوي انحراف او منهجي کمزورتيا ساری نه ليدل کېږي خو بيا هم د دې امت وينې د يهودو څخه د غچ اخيستلو لپاره جوش وهي.

د ټلوالې د جوړېدو په لومړيو کې د يادې ټلوالې ټول تمرکز په عراق او شام کې د خلافت د دولت پر ضد جګړه باندې و، خو د تاواني جنګ د څو کلونو له تيريدو وروسته چې لا هم پکې ښکېل دي، دا دی نور تازه د "فوکس بدلګي" جوړوي چې په افريقا، خراسان او منځنی آسيا کې د ټلوالې پر فعاليتونو هم تمرکز وکړي، خو د الله تعالی په فضل لکه څنګه چې ټلواله تر اوسه له ناکامۍ سره مخ ده داسې به په هر ډګر کې د خپلو اهدافو په لاسته راوړلو کې پاتې راځي او ناکامېږي به، بل لوري ته اسلامي دولت ورځ تر بلې په ځپونکې جګړه کې لاسته راوړنې لري او د بريا لور ته روان دی، چې دا د الله تعالی تدبير دی د کفارو پر وړاندې، الله تعالی فرمايي: **{وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ}**، ژباړه: «او دې کفارو چل وکړ، او الله تعالی تدبير وکړ او الله تعالی له غوره تدبير کوونکو څخه دی»، بل ځای الله تعالی فرمايي: **{اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا}**، ژباړه: «دوی په ځمکه کې لا زيات تکبر اختيار کړ او د ناوړه دسيسو په کار اچول يې شروع کړل. پداسې حال کې چې ناوړه دسيسې همدې خپلو کار اچوونکو ته ور له غاړې کيږي. نو ايا دوی دې ته سترګې په لاره دي چې له پخوانيو قومونو سره چې د الله کومه کړنلاره وه، هماغه له دوی سره هم وشي؛ که دا خبره وي، نو ته به هيڅکله د الله په کړنلاره کې څه بدلون ونه مومې؛ او ته به هيڅکله ونه وينې چې د الله کړنچاره د هغه د ټاکلي لارې څخه کوم ځواك اړولای شي»، پخوا او يا اوس کفارو د اسلام د نړولو کوم چل نه دی جوړ کړی، مکر دا چې دا خپل مکر او چل پر هغوی اوښتی او هماغوی يې راګير کړي دي او الله تعالی ډېر ژر تدبير کوونکی دی، او دا له پخوا راهيسې د کفارو په مقابل کې د الله طريقه ده، او دا هغه څه دي چې نن يې مونږ په نبوي منهج په جهاد کولو کې وينو، کله چې د دې جهاد سره جګړه کېږي غښتلی کېږي او خپرېږي او کله چې يې په خلاف ټلوالې جوړيږي نورو سيمو ته غځېږي او ښکاره کېږي، تر دې چې الله تعالی خپله رڼا پوره کړي، خپل دين په دينونو غالب او راښکاره کړي او خپلو بندګانو ته بريا ورکړي، چې د دې مصداق د الله تعالی دا وينا ده چې فرمايي: **{يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ * هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ}**، ژباړه: دا خلك غواړي چې د الله رڼا په خپلو پوکيو سره مړه کړي.

خو الله د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی نه دی، که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره و برېښي هم هماغه الله دی چې خپل پيغمبر يې له هدايت او حق دين سره لېږلی دی، تر څو چې هغه پر ټولو دينونو باندې برلاسی کړي، که مشرکانو ته دا څومره ناکاره برېښي هم.

رڼا استشهاد

د ژوند بقا استشهاد، ګوزار رسا استشهاد
د صليبي ټلوالې، ماتوي ملا استشهاد

جنت ته لنډه لار ده، خوشالول د رب دي
د لوی الله پاک رضا، لقاء خندا استشهاد

ماويل ارمان دې څه دی، راته ژر ژر ووايه
ده په خندا ووېل، آشنا استشهاد

محبتونه يې مات کړل، د موټر بم محبت
د مؤمنانو زړو ته، ملهم شفا استشهاد

که کړئ لټون د خلاصون، د باعفته خويندو
بيا نو پکار قرباني، رښتيا رښتيا استشهاد

اخلو بدل کې جنت، خرڅوو ځان په الله
په دغه ستره سودا، پوره وفا استشهاد

سيځي کفار په لمبو، ورته عذاب دی
خو مؤمنانو ته کړه لاره رڼا استشهاد

دا د مشرانو لار ده، دا عملي وصيت دی
دښمن ته تندر په څېر، دوست ته دوا استشهاد

تور بارودي کمربند، مهر د سپينو حورو
اخ څومره لوی نعمت دی، د رب عطا استشهاد

ديوبنديان

څوک دي؟

دیوبندیان څوک دي؟ (۴)

د خراسان غږ مجلې درونو لوستونکو !

تاسې د دیوبندیانو د شرکي عقایدو ، خرافاتو او نورو خباثتونو په اړه دديې تحقیقاتي علمي او مالوماتي لړۍ دریمه برخه د مجلې په ۲۳ ګڼه کې ولوسته اوس مو ددې سلسلې د څلورمې برخې لوستو ته رابولو .

***

د شیطان او محمود الحسن مقابله

د "حیات شیخ الهند" کتاب مصنف لیکي:

"1332ء کے آخر میں دیوبند میں شدید طاعون ہوا۔ چند طلباء بھی مبتلا ہوئے ایک فارغ التحصیل طالب علم محمد صالح جو صبح شام میں سند فراغت لے کر وطن رخصت ہونے والے تھے۔ اس مرض میں مبتلا ہوئے اور حالت آخری ہو گئی۔ وفات سے کسی قدر پہلے انہوں نے ایسی گفتگو شروع کی کہ گویا شیطان سے مناظرہ کر رہے ہیں۔ اس کے دلائل کو توڑتے اور اپنے استدلال پیش کرتے ہیں اور ایسا معلوم ہوتا تھا کہ انہوں نے مناظرے میں شیطان کو بخوبی شکست دے دی۔ پھر کہنے لگے افسوس اس جگہ کوئی ایسا خدا کا بندہ نہیں ہے جو مجھ سے اس خبیث کو دفع کرے یہ کہتے کہتے دفعتہ بول اٹھے کہ واہ واہ سبحان اللہ۔ دیکھو میرے استاد حضرت مولانا محمود الحسن صاحب تشریف لائے۔ دیکھو وہ شیطان بھاگا۔ ارے خبیث کہاں جاتا۔ ایک ساعت کے بعد طالب علم کا انتقال ہو گیا۔ حضرت مولانا اس واقعے کے وقت وہاں موجود نہ تھے مگر روحانی تصرف سے امداد فرمائی۔ [حیات شیخ الهند: ص197]

ژباړه: د (1332) هجري کال په وروستیو کې په دیوبند کې د طاعون سخته ناروغي خپره شوې وه، څو طالبان هم په دې ناروغۍ اخته شوي و، یو طالب العلم محمد صالح چې په دې ورځو کې فارغیدو او خپل وطن ته تللو، هغه هم په دې مرض اخته شو او وروستۍ شېبې ورځې یې وې، له وفات څخه لږ مخکې هغه داسې خبرې پیل کړې، ګواکې هغه له شیطان سره مقابله او مناظره کوي، د هغه هر یو دلیل به یې بېکاره کاوه او خپل دلیل به یې بیاناوه، داسې ښکارېده چې هغه شیطان ته شکست او ماتې ورکړې وه، اخر یې دا وویل: افسوس که په دې ځای کې د الله داسې یو بنده وای چې زه یې له دې خبیث څخه خلاص کړی وای. په همدې خبرو کې و چې په دې وخت کې یې ناڅاپه وویل: واه واه سبحان الله! وګورئ، زما استاد حضرت مولانا محمود الحسن صاحب راغی، وګورئ شیطان منډې پیل کړې؛ اې خبیثه! چیرې ځې ؟ یو ساعت وروسته دا طالب العلم وفات شو، حضرت مولانا محمود الحسن په دې وخت کې موجود نه و خو هغه په خپل روحاني تصرف سره د دې طالب العلم مرسته وکړه.

دا خبره کیدای شي چې د مرګ په وخت کې د انسان له خولې ډول، ډول الفاظ او عجیب کلمات راوځي ځکه دغه مهال انسان په خپل هوش او حواس کې نه وي خو د راوي په دې جملې (حضرت مولانا محمود الحسن په دې ځای کې موجود نه و خو په روحاني تصرف سره یې د هغه مرسته وکړه) سره یې دا کیسه سمه ومنله او په غیاب (نشتوالي) سره یې د یو چا د مشکل درک کولو او مرستې کولو عقیدې باندې یې مهر ووهلو او دې لیکوال دا سوچ نه دی کړی چې مونږ به مخالفینو ته د دې څه ځواب ورکوو چې مولانا محمود الحسن ته دا خبره څنګه معلومه شوه چې یو طالب العلم د مرګ په حال کې له شیطان سره په مناظره اخته دی؟ او محمود الحسن د سترګو په رپ کې دې ځای ته حاضر شوی دی، د هغه مرسته یې کړې ده او شیطان یې زغلولی دی؛ له ده سره په دې وخت کې، کوم داسې ځواک شتون درلود چې په سیمه کې حاضرو خلکو ته شیطان نه ښکارېده او محمود الحسن ته له دومره لرې ځایه ښکاره شو، د دې خبرو ځوابوونکی څوک

شته؟

هغه بریلیان وایي چې د خپل مولوي لپاره له دومره اختیاراتو منلو وروسته هم د دیوبندیانو توحید په عقیده کې څه نقصان (نیمګړتیا) پیدا نشوه او نه له کتاب او سنت سره څه ټکر یا مخالفت رامنځته شو خو که مونږ (بریلیان) همدا عقیده د یوه نبي په اړه ولرو نو دیوبندیان بیا زمونږ د ایمانونو او ځانونو په اړه فتوې ورکوي.

او د دې کیسې د لا روښانتیا لپاره د اشرف علي تهانوي بیان وګورئ. وایي: ''کوئی روح اپنا بدن حالت حیات میں چھوڑ کر دوسرے مردے کے بدن میں چلی جائے تو یہ بات ریاضت سے حاصل ہو سکتی ہے۔'' [تعلیم الدین: ص118]

ژباړه: یو روح چې د ژوند په حالت کې خپل بدن پریږدي او د بل مړي بدن ته ننوځي نو دا خبرې په ریاضت (عبادت کې کوشش) سره ترلاسه کیدای شي.

د مشکلاتو لړي کولو دا ډول کیسو، د دوی د مریدانو عقیدې دومره پخې کړې چې د دوی پیران ورته ځینو ځایونو کې انکار هم کوي چې فلاني ځای کې، ستا مرستې ته زه نه وم درغلی بلکې زما په شکل به درته الله عزوجل یو څوک درلیږلی وي خو دا مرید د خپل پیر صاحب دا خبرې په عاجزۍ، انکسارۍ او دروغو باندې حمل کوي. لامل یې همدا دی چې دې پیرانو یې عقیدې همداسې جوړې کړې دي، لکه مخکې تیر شول چې پیرانو یې ورته ویلي چې د فلاني سړي د مرستې لپاره بحر ته تللی وم او نور.

او د اشرف علي تهانوي صاحب د مرید بیان هم درواخلئ:

د عقیدې خرابوالي

د ''اشرف السوانح'' کتاب مصنف دا خبره لیکلې ده:

عرصہ دراز ہوا ایک صاحب نے خود احقر سے یہیں خانقاہ میں بایں عنوان اپنا واقعہ بیان کیا کہ دیکھنے میں تو حضرت والا یہاں بیٹھے ہوں لیکن کیا خبر اس وقت کہاں پر ہوں۔ کیونکہ میں ایک بار خود حضرت والا کو باوجود کہ تھانہ بھون میں ہونے کے، علی گڑھ میں دیکھ چکا ہوں جب کہ جب کہ وہاں نمائش تھی اور اس کے اندر سخت آگ لگی ہوئی تھی۔ میں بھی اس نمائش میں اپنی دکان لے گیا تھا۔ جس روز آگ لگنے والی تھی اس روز خلاف معمول عصر ہی کے وقت سے میرے قلب کے اندر ایک وحشت سی پیدا ہونے لگی تھی۔ جس کا یہ اثر کہ باوجود اس کے اصل بکری کا وقت وہی تھا۔ لیکن میں نے اپنی دوکان کا سارا ساز وسامان قبل از وقت ہی سمیٹ کر بکسوں میں بھرنا شروع کر دیا۔ جب بعد مغرب آگ لگنے کا شوروغل ہوا تو چونکہ میں اکیلا ہی تھا اور بکس بھی بھاری تھے۔ اس لئے میں سخت پریشان ہوا کہ یااللہ دکان سے باہر کیونکر لے جاؤں۔ اتنے میں کیا دیکھتا ہوں کہ دفعتہ حضرت والا نمودار ہوئے اور بکسوں میں سے ایک ایک بکس کے پاس تشریف لے جا کر فرمایا کہ جلدی سے اٹھاؤ۔ چنانچہ اس طرف سے تو انہوں نے بکس کو اٹھایا اور دوسرے طرف سے میں نے اٹھایا۔ اسی طرح تھوڑی دیر میں ایک ایک کر کے سارے بکس باہر رکھوا دیئے۔ اس آگ سے اور دوکانداروں کا تو بہت نقصان ہوا لیکن بفضلہ تعالیٰ میرا سارا سامان بچ گیا۔ اس واقعہ کو سن کر احقرنے اس سے پوچھا کہ آپ نے حضرت والا سے یہ نہ دریافت کیا کہ آپ یہاں کہاں۔ اس پر انہوں نے کہا کہ اجی پوچھنے کا اس وقت ہوش ہی کہاں تھا میں تو اپنی پریشانی میں مبتلا تھا۔ [اشرف السوانح ج3/ص71]

ژباړه: ډیر وخت مخکې یو تن په خپله ما عاجز بنده ته، په دې خانقاه کې داسې کیسه کړې وه: حضرت صاحب په لیدلو خو دلته ښکاري خو دا معلومه نه ده چې حضرت صاحب به اوس کوم ځای کې وي؟ ځکه ما حضرت صاحب خپله یو ځل په علي ګړه کې لیدلی و، سره له دې چې حضرت صاحب په تهانه بهون کې و او علي ګړه کې نندارتون (نمائیش) او میله وه. سخت اور پکې لګیدلی و او ما هم هلته خپل دوکان خلاص کړی و.

په کومه ورځ چې دا اور لګیدلو نو په دې ورځ له مازیګر راهیسې زما په زړه کې ډار و، سره له دې چې همدغه د سودا خرڅیدو اصلي وخت و خو ما له وړاندې خپل سامان راټول کړ او په بکسونو (صندوقونو) کې مې ځای پر ځای کړ، کله چې له ماښام څخه وروسته اور ولګیده او شور جوړ شو خو زه یوازې وم او دا بکسونه درانده وه نو له دې امله زه ډیر خفه وم چې اې الله! دا بکسونه له دوکانه څنګه وباسم؟ په دې کې چې ګورم حضرت صاحب راښکاره شو او د یو بکس سر ته ودریدو او ماته یې وویل چې ژر اوچت کړه نو یو سر یې هغه ونیوه او بل

يـي مـا ونيـوه، پـه دې توګـه مـو ټـول بکسـونه لـه دوکان څخـه وويسـتل. د دې اور لـه امله نـورو دوکاندارانـو تـه ډيـر تـاوان واوښـت خـو زمـا ټـول سـامان وژغـورل شـو. مـا لـه دې کس څخـه پوښـتنه وکـړه چـې تـا تهانـوي صاحـب تـه دا ونه ويـل چـې تـه پـه دې ځـای کـې څـه کـوې؟ نـو هغـه ځـواب راکـړو چـې مـا سره پـه دې وخـت کـې خپـل غم و، د پوښـتنې کولـو وخـت راسره نـه وه.

دې مريد پـه دې وخـت کـې دا سـوچ نـه دی کـړی چـې مونـږ د بريليانـو پـه سـينو بانـدې وارونه کـوو او هغوی تـه دا پيغـور ورکـوو چـې د نبـي عليـه السـلام وجـود او صـورت يـوازې يـو دی او پـه يـو وخـت کـې د ميـلاد پـه بيلابيلـو غونـډو کـې څنګـه کـېدون کـولای شي؟ او نـن د خپـل حـضرت صاحب پـه حـق کـې دا خـبره ده چـې وايـي پـه ليدلـو خـو دې ځـای (تهانـه بهـون) کـې و خـو نـور حقيقـت يـې نـه دی ښرکنـد چـې چيرتـه بـه وې؟ لـه همدې املـه د بريليانـو مولـوي ارشـد دا خـبره ليکلـې ده چـې بريليـان يـوه خـبره د نبـي عليـه السـلام لپاره ثابتـوي نـو د (ديوبنديانـو پـه نـزد) هغـوی مـشرکان او کافـران ګرځـي خـو چـې همدغـه خـبره د خپـل کـور د بزرګانـو پـه حـق کـې وکـړای شي نـو بيـا د ايمـان، اسـلام او حقيقـت خـبره وي، دا بيـا څنګـه منافقـت دی او بيـا د مريـد صاحـب لـه ذهـن څخـه دا خـبره وتلـې ده چـې لـه ليدلـو او کـوم سـبب پرتـه، يـوه کيسـه معلومـول د غيبـو قـوت بلـل کيـږي، حـال دا چـې د غـير اللـه لپـاره داسـې قـوت ثابتـول شرک ده او پـه دې کيسـه کـې پـير صاحـب پـه تهانـه بهـون کـې دی او پـه عـلي ګـړ کـې د اور لـه پيښـې څخـه مخکـې خـبر شـوی دی او د مريـد کومـک تـه راغلـی دی نـو دا څنګـه توحيـد دی چـې د بـرق د پـرق پـه څېـر پـه يـو ثانيـه کـې هلتـه موجـود دی او د مصيبـت پـه وخـت کـې يـې د مريـد مرسـته کـول آيـا دا شـيان د غـير اللـه پـه اختيـار کـې منـل د ديوبنديانـو د ايمـان او اسـلام لپـاره شرط دی؟

دا خـو تاسـې د ژونديـو خلکـو لـه خـوا د نـورو د حاجـت (اړتيـا) پـوره کولـو کيسـه واورېـده، اوس لـږ د مـړو لـه لـوري د مشـکل لـري کولـو حـال وګـورئ:

***

مړی د مناظرې ميدان ته راغلی

د ”سـوانح قاسـمي“ کتـاب مصنـف يـوه کيسـه راوړې ده:

ایک بریلوی عالم اور ایک دیوبندی طالب علم کا مناظرہ طے ہوا۔ دیوبندی طالب علم نے مناظرے کا وعدہ ڈرتے ڈرتے کر لیا۔ تاریخ و محل و مقام سب کا مسئلہ طے ہو گیا۔ واعظ مولانا صاحب ”بڑا زبردست عمامہ طویلہ و عریضہ سر پر لپیٹے ہوئے کتابوں کے پشتارے کے ساتھ مجلس میں اپنے حواریوں کے ساتھ جلوہ افروز ہوئے۔ ادھر یہ غریب دیوبندی امام منحنی و ضعیف مسکین شکل، مسکین آواز، خوفزدہ لرزاں و ترساں بھی اللہ اللہ کرتے ہوئے سامنے آیا۔ سننے کی بات یہی ہے جو اس دیوبندی امام نے مشاہدہ کے بعد بیان کی۔ کہتے تھے کہ مولانا واعظ صاحب کے سامنے میں بھی بیٹھ گیا۔ ابھی گفتگو شروع نہیں ہوئی تھی کہ اچانک اپنے بازو میں مجھے محسوس ہوا کہ ایک شخص اور جسے میں نہیں پہچانتا تھا وہ بھی آکر بیٹھ گیا ہے اور مجھ سے وہ اجنبی اچانک نمودار ہونے والی شخصیت کہتی ہے، گفتگو شروع کرو اور ہرگز نہ ڈرو۔ دل میں غیر معمولی قوت اس سے پیدا ہوئی اس کے بعد کیا ہوا دیوبندی امام صاحب کا بیان سنئیے۔

کہ میری زبان سے کچھ فقرے نکل رہے تھے اور اس طور پر نکل رہے تھے کہ میں خود نہیں جانتا تھا کہ کیا کہہ رہا ہوں جس کا جواب مولانا واعظ صاحب نے ابتداء میں تو دیا لیکن سوال و جواب کا سلسلہ ابھی دراز بھی نہیں ہوا تھا کہ ایک دفعہ مولانا واعظ صاحب کو دیکھتا ہوں کہ اٹھ کھڑے ہوئے میرے قدموں پر سر ڈالے ہوئے رو رہے ہیں۔ پگڑی بکھری ہوئی ہے اور کہتے جاتے ہیں میں نہیں جانتا تھا کہ آپ اتنے بڑے عالم ہیں للہ مجھے معاف کیجئے آپ جو کچھ فرما رہے ہیں صحیح اور درست ہے۔ میں ہی غلطی پر تھا۔ یہ منظر ہی ایسا تھا کہ مجمع دم بخود تھا کیا سوچ کر آیا تھا اور کیا دیکھ رہا تھا۔ دیوبندی امام نے کہا اچانک نمودار ہونے والی شخصیت میری نظر سے اس کے بعد اوجھل ہو گئی اور کچھ نہیں معلوم کہ کون تھے اور قصہ کیا تھا۔ قصہ تو ختم ہو گیا۔ قصبہ کے مسلمان جو پہلے ہی سے دیوبندی امام صاحب کے معتقد تھے ان کے عقیدتمندوں میں اس واقعہ نے چار چاند لگا دیئے اور پہلے سے بھی زیادہ راحت و آرام میں دیوبندی امام صاحب کے اضافہ ہو گیا۔ حضرت شیخ الہند فرماتے ہیں میں نے ان مولوی صاحب سے دریافت کیا کہ اچانک نمودار ہو کر غائب ہو جانے والی شخصیت کا حلیہ کیا تھا۔ حلیہ جو بیان کیا فرماتے تھے کہ سنتا جاتا تھا اور حضرت الاستاد کا ایک ایک خال وخد نظر کے سامنے آتا چلا جا رہا تھا۔

جب وہ بیان ختم کر چکے تو میں نے ان سے کہا یہ تو حضرت الاستاد رحمۃ اللہ علیہ تھے۔ جو تمہاری امداد کیلئے حق تعالیٰ کی طرف سے ظاہر ہوئے۔ [سوانح قاسمي: ج1/ص331]

ژباړه: د يو بريلوي عالم او يو ديوبندي طالب مناظره وټاکل شوه، ديوبندي طالب، دې بريلي عالم ته په دار، دار د مناظرې وعده ورکړه، تاريخ، ځای او موضوع هر څه وټاکل شول، د بريليانو واعظ مولانا ډېر زيات په شان او شوکت، له غټې او پلنې پګړۍ (پټکي) او ډېرو کتابونو سره د خپلو ملګرو په ملتيا مجلس ته حاضر شو؛ بل لور ته ديوبندی امام په کمزوري حالت، بې کاره غړ او په ډېر دار سره د الله، الله په ذکر کولو مجلس ته حاضر شو، د اورېدو خبره دا ده چې هغه ديوبندي امام له ليدلو وروسته کيسه کړې ده. هغه ويل: زه د واعظ مولوي مخې ته کيناستم، په دې وخت کې خبرې لا نه وې پيل شوې، ناڅاپه يو سړی چې ما نه پېژندلو له ما سره يو ځای کيناست او هغه ما ته وويل: خبرې پيل کړه او مه ډارېږه نو په زړه کې مې ډېر قوت را پيدا شو، له دې وروسته څه شوي و نو دا خبرې له امام صاحب څخه واورئ: په دې دوران کې زما له خولې خبرې وتلې چې زه خپله نه پوهېدم چې زه څه وايم خو د دې پوښتنو، ځوابونه مولانا واعظ صاحب په ابتداء کې را کړل او دا سلسله لا دومره غځېدلې هم نه وه چې مولانا واعظ صاحب زما په پښو کې ولوېد او ژړل يې، پګړۍ يې ټولې ګډه وډه شوې وه او دا يې وويل: چې زه نه پوهېدم چې ته دومره ستر عالم يې، ما ته د الله لپاره بښنه وکړه او ته چې دا کومه خبره کوې، دا سمه خبره ده او زه په غلطه وم، دا منظر داسې و، چې د غونډې ټول خلک ورته حيران و چې په کوم سوچ راغلي وو او څه ګوري ؟ ديوبندي امام وويل: دغه ناڅاپه ښکاره کيدونکی انسان زما له مخې ورک شو او ما ته دا معلومات ونه شو چې دا څوک دی او دا څه کيسه وه!

دغه کيسه پای ته ورسيده او په دې سيمه او کلي کې چې څومره د ديوبندي امام پيروان و، هغوی دې سره وځليدل او د ديوبندي امام سکون او راحت له مخکې څخه نور هم ډېر شو.

حضرت شيخ الهند فرمايي: ما له دغه مولوي صاحب څخه پوښتنه وکړه: د دې انسان شکل او صورت څنګه و؟ نو هغه چې کوم شکل او صورت بيانوو نو د حضرت الأستاذ يوه يوه نښه زما نظر ته راتلله. چې هغه کيسه پای ته ورسوله نو ما ورته وويل: دا خو حضرت الأستاذ و چې ستا د کومک لپاره د الله رب العزت له خوا ښکاره شوی و.

لوستونکو! تاسو وګورئ، په دې يوه کيسه کې يې د څومره شرکي عقائدو ډېری (انبار) جوړ کړی دي.

1. ژوندی خو ژوندی دی خو هغه مړی چې د هغه په مرګ يې ډېر وخت شوی دی او په هغه باندې د خاورو ډېری بار شوی دی او د هغوی په اړه قرآن دا پريکړه کړې ده:

﴿أَمْوٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ [سُورَةُ النَّحل: 21] ژباړه: دا مړه دي، ژوندي نه دي او دوی ته د خپلو را پورته کېدو په اړه معلومات نشته.

په دې کيسه کې د دې خبرې برملا اظهار شوی چې هغه په عالم برزخ کې د خپل غيبي قوت په مرسته دا خبره معلومه کړې وه چې يو کمزوری طالب العلم، بې وسه امام، غريب، مسکين، ډارېدونکی د مناظرې ميدان ته د بې وسۍ په حالت کې روان دی، هغه ته حوصله ورکول اړين دي، د دې لپاره چې د هغه په زړه کې غير معمولي قوت پيدا شي! نو دا د کوم شريعت مسئله ده؟ چې يو مړی له قبر څخه په خپل ظاهري جسم راښکاره شي او په کوم ځای کې چې څه د هغه زړه غواړي نو هغه ترسره کولای شي او هيڅوک د ده منع کونکی نه وي، حال دا دی الله فرمايي: ﴿اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ [سُورَةُ الزُّمَر: 42] ژباړه: هغه همدغه الله دی چې د مړيني په وخت کښې

ساه‌کاني اخلي او څوک چې لا تراوسه پورې نه دی مړ شوي، د هغه روح په خوب کښې اخلي، بیا چې هغه پر چا د مرګ پرېکړه عملي کوي، هغه ستنوي (ایساروي) او د نورو ساه‌کاني تر یوې ټاکلې مودې بېرته جسدونو ته ورلیږي.

***

د پردې تر شا د پټو مخونو اصلي څېره

راځئ اوس له مرینې وروسته دویم ځلي نړۍ ته د روحونو د راتللو په اړه د دیوبند د علماوو عقیده واورئ. هغوی وايي: د مؤمن روح او په ځانګړې توګه د دې اُمت د اولیاء کرامو او نیکانو روحونه له بدن څخه تر وتلو وروسته، په دې نړۍ کې د تصرف ځواک او قوت لري او د دې روحونو تصرف د قانون په اساس دی. [اهل اللہ کی عظمت علمائے دیوبند کی نظر میں از حسین قاسمی صدر جمعیت علماء صوبہ دھلی]

او دغه شان په فتاوی امدادیه کې راغلي: استمداد ارواح مشائخ سے صاحب کشف الأرواح کے لئے قسم ثابت ہے۔ [فتاوی امدادیه ج4/ ص104] ژباړه: د مشائخو له روحونو څخه کومک ترلاسه کول، د روحونو د کشف کونکي لپاره یو قسم ثابت دی.

د روح بدن ته داسې راګرځېدل چې انسان د قبر له څیرلو (شکولو) څخه وروسته راوځي او د ژوندیو مشکل حل کړي او بیا قبر ته داسې ننوځي چې قبر هم په ځان سم برابر کړي. دا شیان په شریعت کې په کوم ځای کې راغلي؟ تر نن ورځې د عامو خلکو دا عقیده ده چې دیوبندیان له مړو څخه د کومک غوښتلو قائل نه دي او دې ته ورته تصور شرک بولي خو حقیقت "بل ډول" دی، د روحونو تصرف او له روحونو څخه د برکت ترلاسه کولو په اړه د دوی عقیده وګورئ، د زلزله در زلزله کتاب مصنف د ارشد القادري د کتاب "زلزله" په ځواب کې لیکي: علمائے دیوبند ہرگز یہ نہیں کہتے کہ اللہ کے علاوہ غیب کی کوئی بات کسی کو معلوم نہیں ہو سکتی۔ اسی طرح وہ اس بات کے بھی قائل نہیں ہیں کہ انسان اپنی زندگی میں یا مرنے کے بعد سرے سے کوئی تصرف نہیں کر سکتا۔ [زلزله در زلزله: ص101]

ژباړه: د دیوبند علماء هیڅکله دا نه وايي چې له الله عزوجل پرته بل څوک د غیبو په هیڅ علم نه پوهیږي، همدارنګه هغوی دا هم نه وايي چې انسان په خپل ژوند کې او یا له مرګ څخه وروسته هیڅ ډول تصرف نشي کولای.

***

خړی د برګي ورور دی

همدا ډول هغه لیکي: "ہر انسان کو چاہے وہ اس دنیا میں ہو یا عالم برزخ میں اسے اللہ کی اجازت اور اس کا فیض ضروری ہے جب تک اجازت ہے تب تک عالم برزخ سے بھی کچھ روحیں آکر دنیا والوں کی مدد کرتی ہیں اور انہیں بعض باتیں بتا دیتی ہیں۔ [زلزله در زلزله ص152]

ژباړه: هر انسان، که هغه په دنیا کې وي او یا په عالم برزخ کې وي نو د هغه لپاره د الله اجازه او برکت ډېر مهم او ضروري دی، ترڅو چې اجازه وي نو تر هغه وخته له عالم برزخ څخه ځینې روحونه دنیا ته د خلکو د مرستې لپاره راځي او دوی ته ځینې خبرې هم کوي.

***

آیا اوس هم دیوبندیان له بریلیانو کم دي ؟؟

د دیوبندیانو امام، پیر او مرشد حاجي امداد الله دا خبره کړې ده: "اویسیہ وہ گروہ ہے کہ کسی بزرگ کی روح سے مستفید ہوا ہو جیسا کہ حضرت حافظ روحانیت حضرت علی رضی اللہ عنہ سے اور حضرت ابو الحسن خاقانی روحانیت بایزید بسطامی قدس سرہ سے کہ سو سال بعد وفات حضرت کے پیدا ہوئے ۔ فیضیاب ہوئے۔ [شمائم امدادیه؛ دویمه برخه: ص54]

ژباړه: اویسیه هغه ډله ده چې د کوم بزرګ له روح څخه یې ګټه اخستې وي، لکه حافظ صاحب خپل روحانیت له حضرت علي رضي الله عنه څخه او حضرت ابو الحسن خرقاني خپل روحانیت له بایزید بسطامي قدس سره څخه کوم چې له حضرت صاحب څخه سل کاله وروسته پیدا شوی دی او بیا یې له هغه څخه فیض او برکت حاصل کړی دی.

که چېرې بریلیان له روحونو څخه د استفادې عقیده لري نو همدا دیوبندیان د توحید پرستۍ په غرور او تکبر کې بریلیانو ته د دې عقیدې له امله مشرکان، بدعتیان او قبر پرست وايي خو که همدا عقیده د دې ډلې شیخ ولري نو بیا دا اسلامي عقیده وي او د دې جماعت

د نیمايي پېړۍ مصنوعي کوښښونه ناکام او بې کاره کړي، کوم چې د همدې هدف لپاره ترسره شوي و چې له روحونو څخه کومک غوښتل شرك دی خو په دې ځای کې د خپل مولوي صاحب د عزت ساتلو لپاره دیوبندي عالم احسن ګیلاني د منافقت ځادر له ځانه راتاو کړی دی او د خپلې اصلي عقيدې اظهار يې په دې ټکو سره کړی دی:

وفات یافتہ بزرگوں کی روحوں سے امداد کے مسئلہ میں علمائے دیوبند کا خیال بھی وہی ہے جو عام اہلسنت والجماعات کا ہے آخر میں جب ملائکہ جیسی روحانی ہستیوں سے خود قرآن ہی میں ہے کہ حق تعالیٰ اپنے بندوں کی امداد کرواتے ہیں۔ صحیح حدیثوں میں ہے کہ واقعہ معراج میں رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کو حضرت موسیٰ علیہ السلام سے تخفیف الصلاۃ کے مسئلے میں امداد ملی اور دوسرے انبیاء کرام علیہ السلام سے ملاقاتیں ہوئیں بشارتیں ملیں تو اس قسم کی ارواح طیبہ سے کسی مصیبت زدہ مومن کی امداد کا کام قدرت اگر لے تو قرآن کی کس آیت یا حدیث سے اس کی تردید ہوتی ہے۔ [حاشيه سوانح قاسمی: ج1/ص334]

ژباړه: د مړو بزرګانو له روحونو څخه د کومک مسئلې په اړه، د ديوبند د علماؤ عقيده هم د عام اهل السنت والجماعت په څېر عقيده ده، په پای کې لکه څنګه چې الله تعالى د ملائکو روحاني مخلوق په واسطه چې قران په دې شاهد دی، د انسانانو مرسته او کومک کوي؛ صحيح احاديث په دې خبره ګواه دي چې د معراج په پیښه کې حضرت موسى عليه السلام د لمونځ په کمولو کې له نبي صلی الله علیه سلم سره مرسته کړې وه او له نورو انبياؤ سره د هغه ليدل شوي و، زېرې ورته ورکول شوي و نو که همدا ډول الله له يوه مصيبت وهلي انسان سره د پاکو روحونو په واسطه په ورته ډول مرسته وکړي نو د قران له کوم آيت يا له کوم حديث څخه د دې رد کيدای شي؟

يو بريلي عالم په دې اړه د خپلو خيالاتو داسې ښکارندوينه (اظهار) کړې:

”ان حالات میں ایک صحیح الدماغ آدمی یہ سوچے بغیر نہیں رہ سکتا روح کے جو تصرفات اختیارات اور غیبی علم و ادراک کی جو قوتیں دوسرے کے حق میں تسلیم کرنا کفر اور شرک ہے اپنے مولانا کے حق میں کیونکر اسلام و ایمان بن گیا۔ جبھی تو ہم کہتے ہیں کہ اگر دیوبندی حضرات میں خالص عقیدۂ توحید کا جذبہ کار فرما ہوتا شرک کے معاملے میں اپنے اور بیگانے میں کوئی رعایت نہ کرتے۔ اگر ہم مرسلین و انبیاء و شہداء مقربین اور اولیائے کاملین کی صرف روحوں کے بارے میں یہ عقیدہ رکھ لیں کہ خدائے قدیر نے انہیں عالم برزخ میں زندوں کی طرح حیات و تصرف کی قدرت بخشی ہے تو بدعت و شرک، مردہ پرستی اور جاہلیت کے طعنوں سے ہمارا جینا دوبھر کردیا جاتا ہے۔ دار الافتاء بادل کی طرح گرجنے اور برسنے لگتا ہے۔ آنکھوں میں دھول جھونک کر توحید پرستی کا سوانگ آخر کب تک رچایا جائے گا۔ [خلاصه از زلزله]

ژباړه: په دې حالاتو کې د سالم مغزو خاوند له دې سوچ پرته نشي پاتې کيدای چې د روح تصرفات، اختيارات او د علم غيب د موندلو قوت چې د نورو لپاره کفر او شرك مني نو دا هرڅه د خپل عالم په حق کې څنګه اسلام او ايمان دی؟! نو ځکه خو مونږ دا وايو که چيرې په ديوبندي حضراتو کې د توحيد خالصې جذبې او ريښتيني فکر شتون لرلی نو د توحيد په اړه به هغوی د خپل او پردي هيڅ توپير نه وای کړی، که مونږ د پيغمبرانو، مقربو شهيدانو او رسېدلو اولياء کرامو د روحونو په اړه دا عقيده ولرو چې الله رب العزت دوی ته په عالم برزخ کې د ژونديو خلکو په څېر ژوند او د تصرف واک ورکړی دی نو د شرك، بدعت، د مړو عبادت او د جاهليت پيغورونو له امله زمونږ ژوند راتنګ کړي، دار الافتاء د وريځې پشان ګړزيږي او وريږي، په سترګو کې شګې اچولو سره د توحيد پالنې خبره به تر کومه ډنګوئ ؟

***

د بريليانو عبارات راوړلو علت:

[امکان لري چې بعضې لوستونکي د بريليانو عبارات ووينې نو فکر وکړي چې دا د تاييد لپاره راوړل شوي دي خو حقيقت کې دا عبارات د الزام لپاره راوړل شوي دي ځکه چې ديوبنديان بريليانو ته مشرکان وايي نو مونږ د بريليانو عبارات راوړو چې ګورئ تاسې چې په کومو خبرو هغوی ته مشرکان واياست؟ هماغه کارونو کې تاسې له هغوی څخه څو قدمه مخکې تللي ياست او هغوی دربانډې ردونه کوي؟ نور خو

بریلیان او دیوبندیان دواړه د یو ډنډ اوبه دي. الله دې ټول مسلمانان د دوی له فتنو څخه وساتي]

او کله چې بریلوي عالم د احسن ګیلاني دا عقیده او لیک وموند:

"پس بزرگوں کی ارواح سے مدد لینے کے ہم منکر نہیں ہیں" [حاشیه سوانح قاسمی: ج1/ص334] ژباړه: "نو مونږ (دیوبندیان) د مړو له روحونو څخه د مرستې له غوښتلو منکر نه یو.

نو د هغه رګ بیا وپړسیدو، هغه لیکي: الله اکبر! دیکھ رہے ہیں آپ؟ قصد آرائی کو واقعہ بنانے کے لئے یہاں کتنی بیدردی کے ساتھ مولانا نے اپنے مذہب کا خون کیا ہے جو عقیدہ نصف صدی سے پوری جماعت کے ایوان فکر کا سنگ بنیاد رہا ہے اسے ڈھانے میں موصوف کو ذرا بھی تامل نہیں ہوا۔

آپ کے یہاں تو اس کے ایک مورچے پر نصف صدی سے جنگ لڑی جارہی ہے، معرکہ کار زار میں حقائق کی تڑپتی ہوئی لاشیں آپ نہیں دیکھ پاتے تو اپنے ہی قلم کی تلوار سے لہو کی ٹپکتی ہوئی بوند ملاحظہ فرمایئے۔ [زلزله]

ژباړه: الله اکبر! تاسې دا حال ګورئ؟ له سر زورۍ څخه د کیسې جوړولو لپاره دلته مولانا د خپل مذهب وینه توی کړې ده، کومه عقیده چې د نیمایي پیړۍ څخه د دغه ډلې د فکر بنیاد و، د هغې په نړولو کې مولانا هیڅ سوچ ونه کړو. ستاسو په نزد خو د دې په یوه مورچه نیمه پیړۍ څخه جنګ شروع دی، که د جګړې په ډګر کې د حقیقت غورځیدونکي جسدونه نه ګورئ نو د خپل قلم له توري څڅېدونکو د وینو څاڅکوته وګورئ.

***

کله چې دیوبندیان خپله دا اقرار کوي:

ہم قوم کے سامنے کھلے عام یہ اعلان کرتے ہیں علماء دیوبند کا معاذ اللہ یہ عقیدہ نہیں ہے کہ ... وفات یافتہ بزرگوں کو ہر طرح کے تصرف کی قدرت ہے۔ [زلزله در زلزله]

ژباړه: مونږ د قوم مخې ته په ډاګه دا اقرار کوو چې معاذ الله د علماء دیوبند دا عقیده نه ده چې مړه شوي مشران هر ډول تصرف کولای شي.

د دې ځواب یو دیوبندي عالم داسې ورکړی دی:

اس جملہ سے صاف طور پر یہ ظاہر ہوتا ہے کہ مرنے کے بعد بزرگوں کو ہر طرح کے تصرفات کی قدرت حاصل رہے یا نہ رہے لیکن کسی نہ کسی قسم کے تصرف کی قدرت لازما حاصل رہتی ہے اور تصرف کی قدرت کی اڑان کس قدر ہے۔ اس واقعے سے آپ خود اڑان کی قوت کا اندازہ لگا سکتے ہیں۔ [تجلّی دیوبند ستمبر 1975م ص 62]

ژباړه: له دې جملې څخه دا خبره ښکاریږي چې له مرګ څخه وروسته مشران د هر ډول تصرف واک لري او یا یې نه لري خو د څه نا څه تصرف واک ضرور لري او د دې تصرف اندازه څومره ده نو له دې کیسې څخه تاسې خپله د تصرف د قوت اندازه معلوموولای شئ.

***

د مړي پریکړه او جسد سره راتګ

قاری طیب صاحب وایي:

مدرسے دیوبند کے صدر مدرسین کے درمیان کچھ جھگڑا پڑا اس وقت رفیع الدین صاحب مہتمم مدرسہ تھے اور صدر مدرس محمود الحسن صاحب بھی اس جھگڑے میں شریک ہوگئے اور جھگڑا طول پکڑ گیا۔

اسی دوران میں ایک دن علی الصبح بعد نماز مولانا رفیع الدین صاحب رحمہ اللہ علیہ نے مولانا محمود الحسن صاحب کو اپنے حجرے میں بلایا (جو دار العلوم دیوبند میں ہے) مولانا حاضر ہوئے اور بند حجرے کے کواڑ کھول کر اندر داخل ہوئے موسم سخت سردی کا تھا۔ مولانا رفیع الدین رحمہ اللہ علیہ نے فرمایا، پہلے یہ میرا روئی کا لبادہ دیکھ لو۔ مولانا نے لبادہ دیکھا تو تر تھا۔ اور خوب بھیگ رہا تھا۔ فرمایا کہ واقعہ یہ ہے کہ ابھی ابھی مولانا نانوتوی صاحب رحمۃ اللہ علیہ جسد عنصری کے ساتھ میرے پاس تشریف لائے تھے جس سے میں ایک دم پسینہ پسینہ ہو گیا۔ اور میرا لبادہ تر بتر ہو یا اور یہ فرمایا کہ محمود الحسن کو کہہ دو کہ وہ اس جھگڑے میں نہ پڑے۔ پس میں نے یہ کہنے کے لئے بلایا ہے۔ مولانا محمود الحسن نے عرض کیا کہ حضرت میں آپ کے ہاتھ پر توبہ کرتا ہوں کہ اس کے بعد میں اس قصہ میں کچھ نہ بولوں گا۔ [ارواح ثلاثه ص261]

ژباړه: یوه ورځ د دیوبند دارالعلوم د مشرانو استاذانو په منځ کې څه جنجال رامنځته شو او په دې وخت کې د دار العلوم مهتمم رفیع الدین صاحب و او صدر مدرس محمود الحسن صاحب هم په دې جنجال کې شریک شوي وه، دا خبره لړه اوږده شوه. په دې دوران کې یوه ورځ د سهار له لمانځه څخه وروسته، رفیع الدین صاحب، مولانا محمود الحسن خپلې حجرې ته راوغوښت، مولانا صاحب راغی او د حجرې ور یې خلاص کړ او ننوتلو، د سختې یخنۍ موسم و، مولانا رفیع الدین صاحب وویل: ته اول زما د وړین

(وریو، سنیو یا مالوچو) ځادر ته وکوره. مولانا صاحب چې د هغه ځادر ته وکتل نو هغه لوند و او اوبه ورڅخه څڅېدلې، بیا یې ورته وویل: داسې کیسه ده، همدا اوس نانوتوي رحمه الله زما خواته په خپل دنیاوي جسم سره راغلی و چې ناڅاپه په خولو کې ډوب شوم او ځادر مې لوند شو او دا یې را ته وویل: محمود الحسن ته دا پیغام ورسوه چې له دې جنجال څخه لاس په سر شي نو ما ته د دې خبرې لپاره راوبللې. مولانا محمود الحسن وویل: حضرت! زه ستا په لاس توبه کوم چې له دې څخه وروسته به زه په دې کیسه کې هیڅ نه وایم.

اوس په دې کیسه، د دیوبندیانو د مشر اشرف علي تهانوي تبصره وګورئ:

یہ واقعہ روح کا تمثل ہے اور اس کی دو ہی صورتیں ہوسکتی ہیں ایک یہ کہ جسد مثالی تھا مگر مشابہ جسد عنصری کے، دوسری صورت یہ کہ روح نے خود عناصر میں تصرف کر کے جسد عنصری تیار کر لیا۔ [ارواح ثلاثه: ص464]

ژباړه: دا کیسه د روح د تمثیل ده او دا دوه ډوله کیدای شي، یو دا چې د هغه (قاسم نانوتوي) جسم مثالي دی خو له جسم عنصري سره مشابه دی او دویم دا چې د هغه روح په عناصرو کې له تصرف کولو څخه وروسته خپل عنصري جسم (فزیکي جسم یا بدن) جوړ کړی دی.

په دې یوه کیسه کې یې د شرکي عقائدو سیندونه بهیږي.

1. مولانا قاسم نانوتوي هغه چې مړ شوی، د هغه په حق کې یې د غیبو علم ومنلو چې هغه ته دا هم معلومه وه چې د دیوبند د دار العلوم په څلور دیوالې (داخل) کې د مسند د حصول لپاره، د مدرسینو شخړه ده او د یو بل د هلاکېدو لپاره تیار شوي دي.
2. دا هغه د روح لاسته راوړنه وه چې د تهانوي صاحب د وینا په اساس په دیوبند کې د جنګ د پای ته رسېدو لپاره د هغه روح خپله عناصرو (اور، اوبه، هوا او خاوره) کې تصرف کړی و او یو عنصري جسم یې جوړ کړی و.
3. د ارشد القادري د وینا په اساس، هغه خپله په دې جسم کې ننوتلی و.
4. د ژوند اثار، نقل او د حرکت د ارادي طاقت ورکړای شوی و.
5. له لحد څخه نیغ د دیوبند مدرسې ته راغلی و.
6. دا کېدای شي چې دا شیطان راتګ وي خو د فکر ځای دا دی چې د دې کیسې د صحت او ریښتینولی لپاره رفیع الدین صاحب ګواهي ورکړې وه.
7. د حیرانتیا خبره لا دا ده چې محمود الحسن پرته له کوم شك او شبهې څخه په دې کیسه ایمان راوړو او دومره سوچ یې نه ؤ کړ چې د روح د تصرف عقیده، مونږ د شرك په کړۍ کې داخله کړې ده نو اوس دا څنګه د ایمان او اسلام په صف کې داخله کړو؟
8. تهانوي صاحب له ټولو لویه خبره دا کړې چې روح یې د الله عزوجل په څیر خالق ګرځولی دی.
9. همدا خرافات قاری طیب صاحب په "ارواح ثلاثه" کې لیکلي دي او دې عقیدې ته شهرت ورکوي.

او د [زلزله در زلزله کتاب مصنّف د قول په اساس دیوبندیان تردې حده د روح تصرفات مني او له دې څخه پرته نور نه مني.

د روحونو اختیار او تصرف

د [انکشاف] مصنف او دیوبندي عالم په خپل کتاب کې له [احیاء علوم الدین للغزالي ج1/ص13-81) څخه دوه حوالې او یوه حواله له [عوارف المعارف] څخه د روحونو د واکونو (اختیاراتو) حوالې وړاندې کوي بیا وایي:

"اب مذکورہ اثبات سے آپ یہ بخوبی نتیجہ نکال سکتے ہیں کہ ارواح اولیاء کو کس قدر من جانب اللہ اختیارات ہیں۔ [انکشاف ص7]

ژباړه: چې اوس له دې ذکر شوي اثبات څخه دا نتیجه خه راویستلی شئ چې د اولیاءو روحونو ته د الله له لوري څومره واک ورکړل شوی.

په یو ځای کې لیکي:

ارواح اولیاء کا من جانب اللہ مدد کے لئے آنا بغیر مکروہات کا ارتکاب کئے یعنی مزارات پر جا کر براہ راست ان سے مدد مانگنا، ان کو غم والم ماحی جاننا، اپنے اختیار اور ارادے سے تمام حاجتوں کا پورا کرنے والا سمجھنا وغیرہ وغیرہ۔ [انکشاف ص91]

ژباړه: د الله له لوري د اولیاؤ روحونو د کومک

لپاره راتلل، له مکروهاتو پرته لکه قبرونو ته تلل او هغوی څخه مستقیما کومک غوښتل، هغوی د غم او درد ختمونکي ګڼل، په خپل واک او اراده د حاجتونو پوره کونکي ګڼل او نور، نور.

دا ډول په یو ځای کې یې د علامه غزالي په حوالې سره د قبر خاوندان په څلور ډولونو ویشلي، په اول قسم کې یې انبیاء او اولیاء راوړي، په اړه یې لیکي: "ان کے اندر بہت سے اختیارات رہتے ہیں"۔ [انکشاف ص69] ژباړه: دوی د ډېرو کارونو واک لري.

له دې څخه وروسته بیا لیکي: اب مذکورہ اثبات سے آپ بخوبی نتیجہ نکال سکتے ہیں کہ ارواح اولیاء کو کس قدر من جانب اللہ اختیارات ہیں. [انکشاف ص 70]

ژباړه: اوس له ذکر شوي ثبوت څخه دا خبره او نتیجه اخیستل کېدای شي چې د اولیاؤ روحونو ته د الله له لوري څومره واک ورکول شوی دی.

په یو ځای کې د صاحب انکشاف قلم په دې ډول حرکت پیل کړی: اولیاء اللہ کی ولایت اور ان کی کرامت انکی وفات کے بعد بھی باقی اور باذن اللہ جاری رہتی ہے۔ اس ضمن میں اتنا سمجھ لیجئے کہ اللہ کے حکم سے ارواح اولیاء دنیا میں بھی آسکتی ہیں اور بحکم الہی دوسرے کی بھی مدد کر سکتی ہیں". [انکشاف ص67]

ژباړه: د اولیاء الله ولایت او د دوی کرامت، د دوی له وفات څخه وروسته هم باقي او د الله په حکم سره جاري وي، په دې کې تاسو دومره خبره ذهن کې وساتئ چې د الله په حکم، د اولیاؤ روحونه دنیا ته هم راتللی شي او د الله په حکم د نورو مرسته هم کولای شي.

په یو ځای کې یې د "اصلاحات صوفیّه" نومي کتاب په حوالې سره دا خبره کړې ده: یہی لوگ مسند ارشاد کے وارث ہوتے ہیں۔ ان سے مخلوق کی حاجت روائی ہوتی ہے۔ [انکشاف ص450]

ژباړه: همدغه خلک د مسند ارشاد وارثان دي او له دوی څخه د مخلوق حاجتونه پوره کېږي.

په یو ځای کې اشرف علي تهانوي لیکي: بعض بزرگوں کو جو اہل تصرف ہوتے ہیں عناصر پر قدرت ہو جاتی ہے کہ وہ اس سے چند اجساد کو ترکیب دے کر شکل بدل لیتے ہیں چونکہ روح میں انبساط ہے۔ اس سے ایک روح کو ان چند اجساد کے ساتھ متفق کر کے چند شکلوں میں متشکل ہو سکتے ہیں۔ [مقالات حکمت ص41]

ژباړه: ځینې بزرګان کوم چې اهل تصرف وي، هغوی ته په عناصرو باندې قدرت حاصلیږي چې هغوی دې ته د یو څو عناصرو ترکیب ورکړي او خپل شکل بدل کړي ځکه په روح کې انبساط دی، په دې سره یو روح له څو جسمونو سره اتفاق کولو سره په مختلف شکلونو کې خپل صورت جوړولی شي.

یو ځل د [تذکرة الرّشید کتاب بیان هم واورئ:

***

پټ اوسیدل

ہم انہی دنوں سید صاحب کو ایک پہاڑ میں تلاش کر رہے تھے۔ دفعتہ کچھ ہی فاصلے پر گڑ گڑ آہٹ سنی۔ میں وہاں گیا تو دیکھوں کیا کہ سید صاحب اور ان کے دو ہمراہی بیٹھے ہوئے ہیں۔ میں نے سلام و مصافحہ کیا اور عرض کیا کہ حضرت کیوں غائب ہو گئے سب لوگ بغیر آپ کے پریشان ہیں۔ مجبور ہو کر ہم لوگوں نے فلاں شخص کو اپنا خلیفہ بنا لیا ہے اور ان سے بیعت کی ہے۔ آپ نے اس پر تحسین کی اور فرمایا ہم کو غائب رہنے کا حکم ہوا ہے اس لئے ہم نہیں آسکتے۔ [تذکرة الرّشید ج2/ص271]

ژباړه: مونږ په دې ورځو کې سید صاحب پسې په غرونو کې ګرځېدو، ناڅاپه له نږدې ځایه غبږ راغی، زه هلته ورغلم چې ومې لیدل، سید صاحب له خپلو دوه تنو نورو ملګرو سره ناست و، ما ورسره سلام او روغبړ وکړ او ورته مې وویل: حضرت صاحب! تاسو ولې ورک شوي یاست او ټول خلک درپسې خفه دي، مونږه له مجبورۍ فلانی کس خپل خلیفه ټاکلی او له هغه سره مو بیعت کړی دی. هغه دا کار وستایلو او ویې ویل: مونږ ته د پټ اوسېدو (ځان ورکولو) امر شوی دی نو ځکه مونږ نشو درتللی.

کېدای شي چې دیوبندیانو په نزد یې عناصرو کې تصرف کړی وي او حاضر شوی وي، یوه بله د تصرف کیسه هم واورئ:

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو !

د دیوبندیانو د شرکي عقایدو او خرافاتو په دې علمي ، تحقیقاتي، مالوماتي رسالې پنځمه برخه به د مجلې په پنځه ویشتمه ګڼه کې نشر شي ان شاء الله .

اسباب النصر والتمكين
٣
دریيمه برخه

الْحَمْـدُ لِلَّـهِ الَّـذِي صَـدَقَ وَعْـدَه وَنَـصَرَ عَبْـدَه وأعـزَّ جنـده، وَهَـزَمَ الْأَحْـزَابَ وَحْـدَه ، لاشـيأً قبلـهُ ولا شـيأً بعـده وأشـهدُ أن محمـداً عبدهُ ورسـولهُ أمـا بعـد.

دا چې د الله تعالی نصرت او تمکین ته ټول مسلمانان محتاج دي نو په همدې اساس د الله د نصرت اسباب ذکر کېدل چې دري اسبابو ذکر په تیرو برخو کې شوی و.

***

د الله د نصرت او تمکین اسباب (۳)

ځلورم سبب: الصَّبر:

ځلورم سبب د اسبابو د نصرت څخه صبر دی، د تقوی او د صبر هم سره یو خاص ربط دی، له همدې وجې مو د تقوی څخه وروسته د صبر تذکره وکړه بعضی اهل علم وايي چې (لا تقوم التقوی إلّا علی ساق الصبر) تقوی نه دریږي مګر په تنه د صبر، تقوی څانګې، لښتې او میوې د ونې دي او صبر یې تنه ده، د صبر څخه بغیر تقوی ممکنه نده، کله چې انسان د تقوی مرتبې ته ځان رسول غواړي لازمه ده چې دا شخص به د صبر ونه نالوي، په همدې اساس د دښمنانو له طرفه په تکلیفونو او نورو مصائبو صبر کول، د رب العالمین په لار کې ولږې تندې برداشت کول، د خپلو اولادونو ، ملګرو، خپلو خپلوانو په قرباني کېدلو زغم کول هغه څه دي چې مؤمن بنده د کامیابی پر لور بوځي، او د رب نصرت راجلب کوي ، مخکې له دې چې صبر باندی خبره وکړو باید صبر وپیژنو چې صبر څه ته ویل کیږي:

امام ابن القیم رحمه الله د صبر تعریف داسې کوی: **فالصبر حبس النفس عن الجزع واللسان عن التشكي والجوارح عن لطم الخدود وشق الثياب ونحوهما.** [عدة الصابرين وذخيرة الشاكرين لابن قيم]

ژباړه: پس صبر دا دی چې نفس له فریادونو منعه کول، ژبه له شکایته او اندامونه د اننګو وهلو او د جامو له څیري کولو څخه بندول او همداسی نور.

صبر هغه عمل او د نصرت سبب دی چې اهل علموا وربانديې مستقل کتابونه لیکلي لکه امام ابن قیم رحمه الله (عدة الصابرين و ذخيرة الشاكرين) په نوم د صبر او شکر په موضوع مستقل کتاب لیکلی:

صبر سره د دې چې ډیر ګران او تریخ دی، خو ثمرات او میوی او نتائج یې ډیر خوندور دي

*** الصبر شجرة جذورها مُرّة وثمارُها شهية!**

صبر یوه ونه ده چې ډډ او تنه یې ډیره ترخه ده خو میوی یې ډیری خوندوري دي!

*** الصبر يبدأ بالبكاء، وينتهي بالضحك!**

صبر په ژړا شروع کیږي خو ختمیږي په خندا.

*** إن الصبر قوة تُعيننا على مصاعب الحياة!**

صبر یو قوت دی چې زمونږ سره د ژوند په مصائبو کې کومک کوي.

له همدې وجې د سوره بقره نه واخله تر سورة عصر پوري بار بار رب العالمین خپلو بندګانو ته د صبر تذکره کوي، او ځای پر ځای یې فوائد هم بیانوي، زیري صبرناکو ته ورکوي، چې یوه لویه فائده یې همدا ده چې ددې په سبب د رب العالمین نصرت او مدد حاصلیږي، ددې په سبب رب مؤمنانو ته په خپلو دښمنانو غلبه ورکوي، سورة انفال کې رب العالمین ددې خبرې تذکره کوي چې یو وړوکی جماعت به وي خو چې صبر پکې وی دې خلکو ته زه په لویو لویو لښکرو غلبه ورکوم:

الله تعالی فرمايي: **يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوٓا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ** [سُورَةُ الأنفَال : 65]

ژباړه: اې پيغمبره مؤمنان (د کفارو په مقابل کې) جنګ ته وهڅوه. که ستاسې نه شل تنه صابران وي، نو هغوی به پر دوو سوو برلاسي شي؛ او که سل تنه (صبر کونکې) داسې وي، نو د حق د منکرانو پر زرو تنو باندې به برلاسي شي. ځکه

چې منکران داسي خلك دي چې پوهه نه لري.

نو پورته ايات کې رب العالمين په دوچنده دښمن د کاميابۍ لپاره د صبر شرط لږولی، کوم خلک کې چې صبر نه وي ددوی خپې بيا په هر ميدان او هر امتحان کې خويدلي وي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّبِرِينَ. [سُورَةُ البَقَرَة : 249]

ژباړه: ډېر ځله داسي شوېدي چې يو وړوکي ټولګی د الله په امر پر يوې لويې ډلې برلاسه شوېده. الله د صبر کوونکو ملګری دی."

تاريخ کې عملي نمونې وګورئ ،

فرعون په بني اسرائيلو څومره ظلمونه وکړل، خو هغوی د صبر او زغم څخه کار واخيست، عاقبت دا شو چې رب العالمين موسی عليه السلام ورته راوليږه او نتيجه کې يې د دې ظالم او بې رحمه دښمن څخه خلاص کړل او دښمن يې په بحرونو کې داسې ورګډ کړ چې بيا يې د خلاصون لاره يې نه وه، د هلاکت چيغې يې وهلې، او مؤمنانو يې سيالونه کول!

يوسف عليه السلام ته وګورئ څومره مشکلاتو سره مخامخ کېږي ، د ورونو تعصب او دښمني، کوهي ته غورځيدل، تهمتونه ورباندې لږيدل، زندانونو ته اچول کيدل، خو رب يې د کاميابۍ راز په څه کې بيانوي؟

سورة يوسف کې الله تعالی فرمايي: إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ. [سُورَةُ يُوسُف : 90]

ژباړه: حقيقت دا دی، که څوك له پرهېزګارۍ او صبر څخه کار واخلي، نو د الله په وړاندې د دغسي نيکو خلکو بدله نه ضايع کيږي."

د محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم او د صحابه کرامو د قيصو څخه خو دي باب کې کتابونه ډک دي ، چې د صبر په نتيجه کې رب هغوی ته کومې خوشحالې ورکړې وې،

> صبر د فلاح او د کاميابۍ لاره ده، د صبر نتيجه رب العالمين کاميابي ذکر کوي: الله تعالی فرمايي: يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 200]

ژباړه: اې مؤمنانو! له زغم څخه کار واخلئ، د باطل پرستانو په مقابل کښې ميړانه وښياست، د حق د خدمت لپاره ملا تېنګه وتړئ، او د الله څخه وېرېدونکي اوسئ، هيله ده چې بری به ومومئ.

* کله چې صبر وي د نړئ کفار به دې مقابل کې دسيسي جوړوي، خو رب به دې د هغوی نه ساتنه کوي،

الله تعالی فرمايي: وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ. [سُورَةُ آل عِمرَان : 120]

ژباړه: پدی شرط که تاسي له صبر څخه کار واخلئ او له الله څخه د وېرېدو سره عمل وکړئ

د هغوی هيڅ دسيسه ستاسي پر خلاف اغيزمنه کېدای نشي، . دوی چې هر څه کوي د الله د علم په چاپېريال کښې دي.

* په صبر کې د رب العالمين معيت پروت دی، يعنې د صبرناکو ملګری رب العالمين دی، او کله چې رب العالمين د چا ملګری شو نو خامخا د رب نصرت او مدد د دې خلکو سره وي، الله تعالی فرمايي: وَاصْبِرُوٓا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّبِرِينَ [سُورَةُ الأنفَال : 46]

ژباړه: اوله زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی.

> صبر دومره خايسته عمل دی، چې ددې عمل له وجې رب العالمين مؤمن صبرکونکي سره محبت او مينه کوي،

الله تعالی فرمايي: وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّبِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 146]

ژباړه: الله همداسي زغمونکي (صبر کوونکي) خوښوي .

* په صبر سره رب العالمين خپلو مؤمنو بندګانو ته امامت في الدين ورنصيب کوي، لکه دې خبرې ته شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله اشاره کړې چې امام ابن قيم ورڅخه نقل کړی، هغه فرمايي: بالصبر وَالْيَقِين تُنَالُ الْإِمَامَةُ فِي الدِّين، [مدارج السالکين]

ژباړه: په صبر او يقين سره په دين کې امامت او مشري انسان ته حاصليږي،

او د دې ايات څخه استدلال کوي چې الله تعالی فرمايي: وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ [سُورَةُ السَّجدَة : 24]

ژباړه: او کله چې هغوی صبر وکړ او زموږ په ایتونو باندې یې باور وکړ، نو په هغو کښې مو داسي لارښودونکي پيداکړل، چې زموږ په امر یې لار ښوونه کوله.

حسن بصري رحمه الله به فرمايل: إنكم لا تَنالون ما تُحِبُّون إلا بِتَرْكِ ما تَشْتَهُونَ، ولا تُدْرِكُونَ ما تُأْمُلُون إلا بالصبرِ على ما تَكْرَهونَ. [آداب الحسن البصري وزهده ومواعظه، ابن الجوزي]

ژباړه: تاسي نشئ حاصلولی هغه څه چې تاسي یې خوښوی مګر په پرېښودلو د هغه چې تاسي ورته رغبت کوئ، او تاسي نشئ راګیرولی هغه چې امیدونه چې تاسي یې لرئ مګر په صبر ده هغه څه چې تاسي یې بد ګڼئ.

* د صبر اهميت علي بن ابي طالب رضي الله عنه يو قول کې نا اشنا بيان کړی، هغه به ويل: "الصَّبْرُ مِنَ الْإِيمَانِ، بِمَنْزِلَةِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ" [ابن أبي شيبة في "المصنف" (6/ 172)، والبيهقي في "الشعب" (1/ 146)]

ژباړه: صبر د ایمان څخه، د سر په څیر دی د جسد نه، یعني لکه سر چې په بدن کې څومره مهم دی، او بغیر د سر څخه نور بدن کوم فائده نلري نو همدارنګه صبر هم په ایمان کې دی، کله چې صبر نه وي د انسان ایمان له مینځه ځي، او کله چې سر کې فرق راشي نو ټول بدن کې فرق راځي او تغیریږي، نو همدارنګه د صبر او ایمان مثال هم دی،

* د صبر په نتیجه کې به الله تعالی مؤمنانو ته غوره ژوند ورنصیب کوي، تمکین او د امن څخه ډکه زندګي په صبر باندي مؤمنان راګیرولی شي، لکه عمر رضي الله عنه همدي خبري ته اشاره کړي او فرمايي: إِنَّ أَفْضَلَ عَيْشٍ أَدْرَكْنَاهُ بِالصَّبْرِ، وَلَوْ أَنَّ الصَّبْرَ كَانَ مِنَ الرِّجَالِ كَانَ كَرِيمًا. [الصبر والثواب عليه) لابن أبي الدنيا ص 23]

ژباړه:مونږ غوره ژوند د صبر په سبب رالاندي کړ او که چیري صبر د سړیو څخه وای نو ډیر خایسته سړی به وای!

مؤمنانو ورونو!

د پورته ټولو نصوصو او د صحابه کرامو اقوالو څخه معلومه شوه چې، صبر کامیابي ده!

صبر د مشکلاتو او مصائبو د حل لاره ده!

صبر د الله د محبت او مینې سبب دی!

صبر د کفارو د دسیسو څخه د خلاصون سبب دی!

او صبر د الله تعالی د نصرت او تمکین لپاره یو اساسي سبب دی!

***

اقسام الصبر:
د صبر اقسام:

دا چې صبر یو اساسي سبب دی د الله تعالی د نصرت او تمکین لپاره نو مجاهدینو ته پکار ده چې د صبر مواضع او اقسام و پیژني، او پدې خبره ځان پوهه کړي چې کومو حالاتو کې باید صبر وکړو؟

د صبر مشهور درې قسمونه دي چې مجاهد مؤمن به دا ټول په ځان کې راولي:

اول قسم : الصبر على أداء الواجبات، او الصبر على طاعة الله:

د فرائضو او طاعاتو په ادا کولو صبر، د صبر په اقسامو کې دا قسم یوه لوه برخه ده د مؤمنانو په ژوند کې ، پدی قسمه صبر کې د مؤمن صداقت او ریشتنولي د خپل رب سره معلومیږی، او خپل ځان د مجاهَدي پته به دي انسان ته لږیږی چې زه په کومه اندازه کې یم، لمونځ د رب العالمین طاعت دی ، دیکې د رب سره صداقت د انسان معلومیږی چې ورځ او شپه کې څومره خپل رب ته ودریږی، او سړی ځان تللی شي چې دا طاعت مې څومره خپل رب ته اداء کړی، جهاد د رب العالمین طاعت دی ، په کومه اندازه یې مونږ عاملین یو، د جهاد او هجرت په لار کې څومره برداشت کولای شو، روژه د رب طاعت دی څومره په دیکې په ولږه تنده صبر کولای شو.

د امراو طاعت دا اصلا د الله او د رسول طاعت دی مؤمن ځان تللی شي چې دا طاعت مې تر کومه کړی دی، او رب سره پکې څومره صادقه یم!

الله تعالی دا قسم صبر په سورة کهف کې بیانوي او فرمايي: وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا [سُورَةُ الكهف : 28]

ژباړه: او خپل زړه د هغو خلکو په ملګرتیا کې صبر کړه، چې سهار او ماښام

خپل رب رابلي او د هغه مخ او رضامندتیا طلب کوي . او له هغو څخه هيڅکله سترګې مه اړوه. ایا ته د دنیا ښکلا خوښوې؟ - د یو داسي چا اطاعت مکوه چي د هغه زړه موږ له خپل یاد څخه غافل کړی دی او د خپل نفس پیروي يې غوره کړېده او کړنلاره يې په افراط او تفريط باندي ولاړه ده.

بل ځای فرمايي: وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَـٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ [سُورَةُ طه : 132]

ژباړه: خپلي کورنۍ ته د لمانځه توصیه وکړه او په خپله هم د هغه پابند اوسه. موږ ستا څخه کومه روزي نه غواړو؛ روزي خو موږ تا ته درکوو او د عاقبت ښېګڼه د پرهېزګارۍ لپاره ده.

نو د صبر د اقسامو څخه **اول قسم** ، (صبر على طاعة الله) دی.

بیا دا قسم صبر خپله درې قسمه دی، وللصبر على طاعة الله أقسام ثلاثة:

* أولها أن يكون العبد مقبلاً عليها مستعداً لها.

اول دا چي هر طاعت قبول کړی او لبیک ورته ووایي دا نه چي انسان احکام اداء کوی خو لیکن د زړه نه وربانـدي خوشحاله نه وي او نه وربانـدي راضي وي.

* وثانيها أن يؤدّيها كما أمر الله -تعالى- ويكون قلبه حاضراً وخاشعاً فيها.

دويم دا چي داسي يې ادا کړي لکه څرنګه چي الله امر کړی، او زړه يې حاضر او ويريدونکی وي په هغې کي، يعنې خپلو عباداتو او طاعاتو کي د فرائضو واجباتو مستحباتو خيال وساتي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه يې ادا کړي.

* وثالثها أن يتمّمها دون أن يلحق بها ما يبطلها من الرياء وطلب السمعة والمنّ والأذى وغيرها من مبطلات العمل.

دريم دا چي دا طاعات پوره کړي بغير د يو ځای کولو د باطلونکو څيزونو نه لکه رياء، ځان خودنه، بل باندی زباتنه، او يا ورته تکليف ورکول او غير له دي څخه نور باطلونکي د عمل نه.

دا قسم د صبر هم ډير مهم دی او ډيرو خلکو کي نه ليدل کيږی، اعمال ډير خلک وکړي خو ليکن بيا يې ساتلی نشي، د اعمالو په ساتلو صبر نشي کولای بيرته يې باطل کړی، رياء پکي وکړی یا پری دنیا طلب کړی یا یې چاته صدقه ورکړي وي نو زباتنه او تکلیف بیا ورکوي...

دويم قسم : الصبر عن المحرمات:

دويم قسم د صبر څخه د رب العالمين د محرماتو او معاصي څخه خپل نفس صبرول، خپل ځان ته د رب العالمين له طرفه ويره ورکول، او خپل نفس سره مجاهده کول چي معصيت او ګناه ته ورنـزدې نشي، ځکه نفس خو دا غواړي چي بدي وکړي لکه الله تعالی فرمایي:

إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ [سُورَةُ يُوسُف : 53]

ژباړه: نفس خو په بدی باندي هڅوونکی دی، مګر دا چي پر چا زما د رب رحمت وي. بېشکه زما رب ډېر بښونکی او رحم کوونکی دی.“

نو خپل نفس ته داسي تربيه ورکول چي د ګناه سره يې نفرت او بغض پيدا شي که هغه اقوالو کي وي که افعالو کي وي،

همدا وجه ده چي دا قسم صبر علماؤ بيا خپله درې قسمه ته تقسيم کړی:

* أولها: أن يصرف المسلم قلبه عن حبّها والتعلق بها، والتواجد في الأماكن التي تكون بها أو يجالس أصحابها ويأنس بهم،

* وثانيها: أن يمنع نفسه عن فعلها إن كان قادراً على ذلك، فلا يقربها ،

* وثالثها: أن يكون خروجه منها وإقلاعه عنها سريعاً إن وقع بها، ويسرع بالتوبة عنها.

ژباړه: اول دا چي مسلمان خپل زړه د ګناهونو سره د محبت څخه واړوي، او د هغې سره د تعلق نه، او په هغه ځايونو کي د موجوديت نه چي هلته ګناهونه وي، او د فاسقانو سره د کيناستلو نه او د هغوی سره د ساعت تيری نه.

دويم: دا چي خپل نفس د ګناهونو د کولو څخه منعه کړي که چيري قادر وي په هغې او چي هغې ته ورنـزدې نشي.

دريم دا چي که چيري په ګناه کي واقع شو نو چي د هغې څخه زر بيرته ووځي په توبې کولو سره.

دريم قسم : الصبر على المصائب:

دريم قسمه د صبر څخه په مصيبتونو او سختيو صبر کول، دا هغه موضع دی چي د رب العالمين له

طرفه امتحان وي په بنده او د بې صبرۍ له وجې ډير خلک دلته وخوېږي ، او ناکامۍ سره مخامخ شي، دا د الله قانون دی او رب ددې خبرې وعده کړې چې زه په تاسو دا قسم امتحانات خامخا کوم، الله تعالی فرمايي: وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ [سُورَةُ البَقَرَة : 155]

ژباړه: او موږ هرومرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خساره کښې په اخته کولو په تاسي ازمېښت کوو، او [اې پېغمبره] صبر کوونکو ته زېرى ورکړه؛

همدا وجه ده چې د دا قسم صبر اجر او د رب له طرفه بدلې يې هم اوچتې دي: الله تعالی فرمايي: إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ[سُورَةُ الزُّمَر : 10]

ژباړه: صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړ شي.

نو د ځلورم سبب خلاصه دا شوه که چيرې مؤمنان د تمکين او د رب العالمين د مددونو اميد لري نو د صبر صفت دې د پورته تفصيل موافق خپل کړي، رب العالمين به تمکين في الارض ورکړي.

***

پنځم سبب: الدعاء:

د رب العالمين څخه دعاګانې غوښتل، او هغه ذات ته لاسونه پورته کول چې (الذي يجيب دعوة المضطر إذا دعاه) د مجبورو دعاګانې قبلوي کله يې چې هغه څخه وغواړي!

او د هغه ذات څخه دعاګانې طلب کول چې(ويكشف كربة المكروب إذا ناجاه) د غمزپلو څخه مصيبتونه لري کوي کله چې هغه سره خبرې وشي!

او هغه ذات څخه مددونه غوښتل چې (ويزيل الغم والحزن ....) چې غمونه او خفګانونه ختموي!

دا قانون دی ورونو چې کله يو مؤمن بنده خپل خالق او مالک ته لاسونه پورته کړي ، او د هغه څخه مددونه وغواړي رب يې خامخا قبلوی. الله تعالی فرمايي: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِيَ أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ [سُورَةُ غَافِر : 60]

ژباړه: ستاسي رب وايي:"ما وبولئ، زه به ستاسي دُعاوې قبولي کړم، کوم کسان چې په غرور کولو سره زما له عبادت څخه مخ اړوي، هغوی به هرو مرو ذليل او خوار جهنم ته ورننوزي.

* دي ايات کې که مؤمن فکر وکړي نو د (ادْعُونِيَ) او (أَسْتَجِبْ) په مابين کې بله کلمه الله تعالى نده ذکر کړې، نو دا فائده تري مونږ اخيستلای شو چې کله يو مؤمن په شرطونو برابره دعاء وکړي رب يې خامخا قبلوی ځکه دعاء پسي نږدي قبوليت دی.

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله هم همدې خبري ته اشاره کړې او د عمر رضي الله عنه قول نقل کړی هغه وايي:

عن عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - أنه قال: إني لا أحمل همّ الإجابة ولكن همّ الدعاء فإذا ألهمت الدعاء فإن الإجابة معه ... (اقتضاء الصراط المستقيم) (ص 229).

ژباړه: د عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه وويل: ما سره فکر (سوچ) د دعاء د قبليدو نشته ليکن د دعاء کولو فکر راسره وي، پس کله چې يو چاته دعاء (زړه کې) واچول شوه نو قبوليت د هغه سره دی، همدارنګه شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله په (اقتضاء الصراط المستقيم) کې فرمايي : إذا أراد الله بعبد خيراً ألهمه دعاءه والاستعانة به .

ژباړه: کله چې الله تعالی يو بنده ته د خير اراده وکړي نو د هغه څخه د دعاء او کومک غوښتلو الهام او سوچ ورته (زړه کې) واچوي،

ابو درداء رضي الله عنه به هم نا اشنا خبره کوله، هغه به ويل: " جِدُّوا بِالدُّعَاءِ ، فَإِنَّهُ مَنْ يُكْثِرْ قَرْعَ الْبَابِ يُوشِكُ أَنْ يُفْتَحَ لَهُ" (أخرجه ابن أبي شيبة (7/24) والبيهقي في شعب الإيمان (2/52)

ژباړه: کوشش کوئ په دعاء کې يقينا څوک چې زياته دروازه ټکوي، نږدي ده چې ورته خلاصه کړای شي.

نو ورونو دا د رب العالمين د درګاه دروازې په دعاء سره ټکول پکار دي، بيا هغه پسې کلک نښتل پکار دي چې دا دعاګانې به راته خامخا قبلوي چې همديته الحاح ويلى کيږى، نو کله چې مؤمنان د خپل رب څخه په کلکه غوښتنه وکړي او دعاګانې ورڅخه وغواړي، نو همدا دعاګانې به يې شکست په غلبې سره بدلوي ، د مؤمنانو

د سترګو اوښکي به په خوشحالئ سره بدلوي،

* خاص طور چې بیا د مستضعفینو دعاګانې وي! حدیث کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ”إِنَّمَا يَنْصُرُ اللَّهُ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِضَعِيفِهَا ، بِدَعْوَتِهِمْ ، وَصَلَاتِهِمْ ، وَإِخْلَاصِهِمْ“ . ” (أخرجه النسائي: رقم ـ 3145)

ژباړه: یقینا الله تعالی د دې امت سره مرسته د دوی په کمزورو سره کوي، د هغوی په دعاګانو او لمونځونو او اخلاص د هغوی سره.

په همدې اساس مجاهدینو ته پکار ده چې د خپلو ضعیفانو او مستضعفینو په دعاګانو سره په خپله روانه مبارزه مرسته حاصله کړي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره الفاظو دا خبره امت ته بیان کړې ده.

* دعاء د مؤمنانو لپاره یوه بهترینه اسلحه ده خو په ډیر افسوس چې زیات خلک اوس د دې اسلحې څخه غافله شوي! إمام ابن القیم رحمه الله فرمایي : ”والدعاء من أقوى الأسباب في دفع المكروه، وحصول المطلوب [الجواب الكافي]

ژباړه: دعاء تر ټولو قوي سبب دی د مشکلاتو پر وړاندې، او د خپل مقصد د حاصلولو لپاره.

> دعاء هغه عمل دی چې الله تعالی په خپل مشیئت سره پرې تقدیر بدلوي حدیث کې نقل دي: عَنْ سَلْمَانَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ” لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ ، وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ“ (ترمذي: رقم ـ 2065)

ژباړه: د سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تقدیر نه بدلوي مګر دعاء او په عمر کې زیادت نه راولې مګر نیکي.

نو همدې له وجې ورونو په ټولو مشکلاتو کې رب العالمین ته رجوع کول، هغه نه د خپلو حاجاتو حل غوښتل، بیا رب العالمین د خپلو مؤمنو مخلصو بندګانو دعاګانې نه رد کوي، که د سلفو ژوند او زندګۍ ته لږ سر ورښکاره کړو نو وبه ګورو چې هغوی ټول حوائج خپل رب ته پیش کول، تر هر څه د مخه یې خپل رب ته زارۍ کولې، د دښمنانو پر وړاندې د کامیابۍ، نصرت او غلبې لپاره به یې همغه رب ته لاسونه پورته کړي و چې د نمونې او تذکیر به خاطر یې یو څو واقعې د الله تعالی په فضل ذکر کوو چې سلفو څنګه دعاګانې د رب څخه غوښتلې او الله تعالی ورته څنګه قبولې کړې دي :

١ـ الله تعالی د زکریا علیه الصلاة والسلام قصه ذکر کوي.

فرمایي : هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَآءِ [38] فَنَادَتْهُ الْمَلَٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّى فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّٰلِحِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 39]

ژباړه: ددې حال په لیدلو زکریا خپل رب ته دُعا وکړه، ویې ویل: ”زما ربه په خپل قدرت ما ته ښه اولاد په برخه کړه، همدا ته دُعا اورېدونکی یې.“ په ځواب کښې ملائکو ورته غږ وکړ او هغه (زکریا علیه السلام) په دې وقت کښې په محراب (عبادت خانه) کښې په لمانځه ولاړ ؤ، چې: ” الله تا ته د یحیا (علیه السلام) زیری درکوي، هغه به د الله له لوري د یو فرمان د رښتینوونکي په توګه راشي، په هغه کښې به د سردارۍ او لویۍ نښه وي، پر خپل نفس به په ټوله معنا حاکم وي، په پیغمبرۍ به سر لوړی وي او په ښو کسانو کښې به وشمېرل شي.

٢ـ واقعه د ایوب علیه السلام الله تعالی ذکر کوي.

هغه فرمایي : وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّٰحِمِينَ [83] فَاسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ [سُورَةُ الأنبيَاء : 84]

ژباړه: او همدغه (د زیرکۍ، حکم او علم نعمت) مونږ ایوب (علیه السلام) ته ورکړی ؤ. کله چې هغه د خپل رب څخه غوښتنه وکړه: ”زه ناروغ یم او ته د ټولو مهربانانو څخه مهربانه یې.“ موږ د هغه دُعا قبوله کړه او له هغه څخه مو تکلیف ایسته کړ، او یوازې د هغه د کورنۍ غړي مو هغه ته ورنه کړل، بلکې پر هغو سربېره مو هماغومره نور هم ورکړل، د خپل ځانګړي رحمت په ډول او ددې لپاره

چې دا د عبادت کوونکو لپاره یو درس وي.

۳ـ د یونس علیه السلام عجیبه واقعه الله تعالی ذکر کړې.

هغه فرمایي : وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّٰلِمِينَ [87] فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ [سُورَةُ الأنبيَاء : 88]

ژباړه: او مونږ د کب څښتن (یونس علیه السلام) هم ونازوه، کله چې هغه په غصه تللی ؤ او انګېرلي یې وه چې مونږ به هغه مواخذه نکړو. په پای کښې هغه په تږمیو کښې اواز وکړ: "بیله تا څخه بل هیڅ اله نشته، ستا ذات پاک دی، بېشکه ما کمی کړی ؤ."

نو مونږ د هغه دُعا قبوله کړه او له غم څخه مو وژغوره. او پدغه شان مونږ مؤمنان ژغورو.

۴ـ د نوح علیه السلام واقعه ذکر کوی.

الله تعالی فرمایي: وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ [سُورَةُ الأنبيَاء : 76]

ژباړه: او هغه وقت (در یاد کړه) چې نوح (علیه السلام) له دغو ټولو څخه مخکې هغه مونږ ته غږ کړی ؤ، مونږ د هغه دُعا قبوله کړه او هغه او د هغه کورنۍ ته مو د لوی کړاو څخه نجات ورکړ.

۵ـ د سلیمان علیه السلام واقعه رب العالمین ذکر کوی:

قَالَ رَبِّ اغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكًا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ [35] فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ [36] وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٖ وَغَوَّاصٖ [37] وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ [38] هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٖ [سُورَةُ صٓ : 39]

ژباړه: او یې ویل: "اې ربه ! ما ته بښنه وکړه او ما ته هغه بادشاهي راکړه، چې زما څخه وروسته د هیچا لپاره وړ نه وي، بېشکه همدا ته اصلي بخښوونکی یې."

نو مونږ هغه ته باد (تابع) کړ چې د هغه په امر به په نرمۍ سره لګیدی، چیرې چې هغه غوښتل؛

او شیطانان (پیریان) مو هم ورته (تابع) کړل، د هر ډول ودانیو جوړوونکي او غوټه وهونکي؛

او نور چې په زنځیرونو تړل شوي ول.

(مونږ هغه ته وویل) "دا زمونږ درکړه ده، ته واکمن یې، چا ته چې دي خوښه شي ور یې کړه او چا ته چې وغواړې ور یې نه کړې څه حساب نشته."

۶ ـ ابراهیم علیه السلام اوکورئ اولاد غواړی رب یې ورکوی، اورونو ته غورځول شوی، یو څو کلمات وایي رب ورسره نصرت کوي اورونو څخه ورته نجات ورکوي.

الله تعالی فرمایي : رَبِّ هَبۡ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ [100] فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ [سُورَةُ الصَّافات: 101] .

ژباړه: (کله چې ابراهیم (علیه السلام) د هجرت ځای ته ورسیدی، نو وې ویل) اې زما ربه ! ما ته داسي زوی راکړه چې له صالحانو څخه وي."

(د دې دُعا په ځواب کې) مونږ هغه ته د یو زغمونکي هلك (اسماعیل (علیه السلام) زیری ورکړ.

همدارنګه کله چې اور ته غورځیږي دا کلمات وایي چې (حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ) نو الله تعالی نا اشنا مدد ورسره کوي چې اور ته امر کوي چې ابراهیم علیه السلام باندې یخ شه او ضرر ورته ونه رسوي!

الله تعالی فرمایي: قُلۡنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرۡدٗا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ [6]وَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَخۡسَرِينَ [سُورَةُ الأنبيَاء : 70]

ژباړه: مونږ وویل: "اې اوره په ابراهیم باندې یخ شه او سلامتیا جوړ شه."

هغوی غوښتل چې ابراهیم (علیه السلام) ته دسیسه جوړه کړي، خو مونږ هغوی په ناوړه توګه ناکام کړل.

نو پورته ټول واقعات چې قرانکریم کې رب العالمین مونږ او تاسي ته ذکر کوی د دې هدف همدا دی چې اې مؤمنانو، ستاسي د حل لاره دا ده چې رب العالمین څخه دعاګاني وغواړئ، رب العالمین ته لاسونه پورته کړئ، او خپل رب ته رجوع وکړئ.

بیا مونږ او تاسي خو ډیر کمزوري یو، رب ته محتاج یو، کله چې انبیاء علیهم السلام رب ته محتاجه دي ما او تا خو باید شپه او ورځ رب العالمین ته لاسونه پورته کړی وي.

په ځانګړې توګه مجاهدینو ورونو!

مونږ او تاسي د ښمنانو پر

ورانـدي د جهـاد او قتـال لار انتخـاب کـړی، چـې دا لاره د امتحانـو او سـختيو ډکـه لار ده ، دې کـې خـو بـه د مجاهـد خصـوصي تعلـق وي د خپـل رب سره، او پـه هر ميدان او هـر سـنګر کـې بـه رب تـه لاس پـه دعـا وي، پـه هـر پـړاو د ژونـد کـې بـه يې رب العالميـن تـه لاسـونه پورته کـړی وي او د هغـه څخـه بـه مددونـه غـواړي او پـدې لار کـې دعاګانـې هـم اللـه تعالى تـه ډيـرې خـې قبليدونکـې وي حديث کـې نقـل دي:

عَـنْ سَـهْلِ بْـنِ سَـعْدٍ ، قَـالَ : قَـالَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ : " ثِنْتَـانِ لَا تُـرَدَّانِ أَوْ قَلَّمَـا تُـرَدَّانِ الدُّعَـاءُ عِنْـدَ النِّـدَاءِ ، وَعِنْـدَ الْبَـأْسِ حِـينَ يُلْحِـمُ بَعْضُهُـمْ بَعْضًـا (سـنن أبـي داود: رقـم ـ 2181)

ژبـاړه: د سـهل بـن سـعد نـه روايـت دی هغـه وايې: رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم فرمايـې: دوه (دعاګانـې) نـه رد کيـږي او يـا ډيـر کـم کـرت رد کـړای شي، دعـاء د آذان پـر وخـت او پـه وخـت د جنـګ کـې چـې بعضـې پـه بعضـو حملـه کـوي .

* دي بـاب کـې هـم اللـه تعالـی د سـلفو زيات قصص مونـږ او تـاسي تـه د منهج او يـوې تـګلارې پـه شـکل قـرآن کريـم کـې بيانـوي، او د دې خـبرې تذکـره کـوي چـې د هغـوی پـه جنګونـو کـې د خپـل رب سره خصـوصي تعلق و او د ثبـات او اسـتقامت او د خپـل رب څخـه بـه يـې نصرتونـه او مددونـه غوښـتل: اللـه تعالـی فرمايـې: وَكَأَيِّـن مِّـن نَّبِـيٍّ قَٰتَـلَ مَعَـهُۥ رِبِّيُّـونَ كَثِـيرٌ فَمَـا وَهَنُـوا لِمَـآ أَصَابَهُـمْ فِى سَـبِيلِ ٱللَّـهِ وَمَـا ضَعُفُـوا وَمَـا ٱسْـتَكَانُوا وَٱللَّـهُ يُحِـبُّ ٱلصَّٰبِرِيـنَ [146] وَمَـا كَانَ قَوْلَهُـمْ إِلَّآ أَن قَالُـوا رَبَّنَـا ٱغْفِـرْ لَنَـا ذُنُوبَنَـا وَإِسْرَافَنَـا فِىٓ أَمْرِنَـا وَثَبِّـتْ أَقْدَامَنَـا وَٱنصُرْنَـا عَـلَى ٱلْقَـوْمِ ٱلْكَٰفِرِيـنَ [سُـورَةُ آلِ عِمـرَان : 147]

ژباړه:لـه دې څخـه مخکـې ډيـر پيغمـبران داسي تيـر شـويدي چـې د هغـو پـه ملګرتيـا کښـې ډيـر اللـه والا خلـک وجنګيـدل، د رب پـه لار کښـې چـې کـوم غمونـه پـر هغـو راغلـل، هغـوی پـرې زړه ماتـي نـه شـول، هغـوی کمـزوري ښـکاره نـه کـړه، هغـوی (د باطـل پـه وړانـدې) سرټيټـي نـه شـول. اللـه همـداسي زغمونکـي (صـبر کوونکـي) خوښـوي.

د هغـو دُعـا صرف دا وه: "اې زمـونږ ربـه! زمـونږ خطـاوې او ګناهـوې او زمـونږ پـه کار کـې زمـونږ تيـرې راوبښـه، زمـونږ قدمونـه محکـم کـړه او پـر کافرانـو زمـونږ د برلاسـۍ لپـاره راسره مرسـته وکـړه."

> د طالـوت واقعـه هـم اللـه تعالـی ذکـر کـوي او فرمايـې: وَلَمَّا بَـرَزُوا لِجَالُـوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُـوا رَبَّنَـآ أَفْرِغْ عَلَيْنَـا صَبْرًا وَثَبِّـتْ أَقْدَامَنَـا وَٱنصُرْنَـا عَـلَى ٱلْقَـوْمِ ٱلْكَٰفِرِيـنَ [250] فَهَزَمُوهُـم بِـإِذْنِ ٱللَّـهِ وَقَتَـلَ دَاوُۥدُ جَالُـوتَ وَءَاتَىٰـهُ ٱللَّـهُ ٱلْمُلْـكَ وَٱلْحِكْمَـةَ وَعَلَّمَـهُۥ مِمَّـا يَشَـآءُ وَلَـوْلَا دَفْـعُ ٱللَّهِ ٱلنَّـاسَ بَعْضَهُـم بِبَعْـضٍ لَّفَسَـدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِـنَّ ٱللَّـهَ ذُو فَضْـلٍ عَـلَى ٱلْعَٰلَمِـينَ [سُـورَةُ البَقَـرَة : 251]

ژبـاړه: او کلـه چـې هغـوی د جالـوت او د هغـه د لښـکرو مقابلـې تـه ووتـل، نـو يـې دُعـا وکـړه: "اې زمـونږ ربـه! مـونږ تـه صـبر راکـړه، زمـونږ قدمونـه ټينـګ کـړه او پـدې کافـره ډلـه مـونږ بـرلاسي کـړه."

پـه پـای کښـې د اللـه پـه امـر هغـوی کافـران وځغلـول او داؤد جالـوت وواژه؛ او اللـه هغـه تـه سـلطنت او حکمـت ور پـه برخـه کـړ او هـر هغـه څـه يـې ور زده کـړل چـې د اللـه خوښـه وه. کـه دغـه شـان اللـه د يـوې ډلې مخنيـوی پـه بلـې ډلې نـه کـولای، نـو د ځمکـې نظـام بـه ګـډوډ شـوی وای؛ خـو پر نړيوالـو د اللـه لـوی فضل دی (چـې هغـه پـه دغـه ډول د فسـاد د مخنيـوي لاري چـاري برابـروي).

* د رسـول اللـه عليـه السـلام زندګـې تـاسي وګـورئ هـره غـزوه کـې د خپـل رب څخـه خصـوصي دعاګانـې غـواړي، رب العالميـن تـه لاسـونه د ضعـف او د احتيـاج پورتـه کـوي او بيـا د همـدې دعاګانو پـه وجـه رب العالميـن نـا اشـنا مددونـه راليـږی چـې پـه اسـبابو او افـرادو سـنبال او قـوي دښـمنان ورتـه رب ذليلـه کـوي او مؤمنانـو تـه پـر هغـوی غلبـه ورکـوي:

* د بـدر واقعـه درتـه د عمر رضـی اللـه عنـه پـه ژبـه مخـې تـه ږدو:

عـن عُمَـرُ بْـنُ الْخَطَّـابِ ، قَـالَ : " لَمَّـا كَانَ يَـوْمُ بَـدْرٍ نَظَـرَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ إِلَى الْمُشْرِكِـينَ وَهُـمْ أَلْـفٌ وَأَصْحَابُـهُ ثَـلَاثُ مِائَـةٍ وَتِسْـعَةَ عَـشَرَ رَجُـلًا ، فَاسْـتَقْبَلَ نَبِـيُّ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ الْقِبْلَـةَ ثُـمَّ مَـدَّ يَدَيْـهِ ، فَجَعَـلَ يَهْتِـفُ بِرَبِّـهِ اللَّهُـمَّ أَنْجِزْ لِي مَـا وَعَدْتَنِـي ، اللَّهُـمَّ آتِ مَـا وَعَدْتَنِـي ، اللَّهُـمَّ إِنْ تُهْلِـكْ هَـذِهِ الْعِصَابَـةَ مِـنْ أَهْـلِ الْإِسْـلَامِ لَا تُعْبَـدْ فِي الْأَرْضِ ، فَمَـا زَالَ يَهْتِـفُ بِرَبِّـهِ مَـادًّا يَدَيْـهِ مُسْـتَقْبِلَ الْقِبْلَـةِ

حَتَّى سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ مَنْكِبَيْهِ ، فَأَتَاهُ أَبُو بَكْرٍ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأَلْقَاهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ الْتَزَمَهُ مِنْ وَرَائِهِ ، وَقَالَ : يَا نَبِيَّ اللَّهِ ، كَفَاكَ مُنَاشَدَتُكَ رَبَّكَ ، فَإِنَّهُ سَيُنْجِزُ لَكَ مَا وَعَدَكَ ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ سورة الأنفال آية 9 فَأَمَدَّهُ اللَّهُ بِالْمَلَائِكَةِ" (رواه مسلم).

ژباړه: د عمر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: کله چې د بدر ورځ وه رسوالله صلی الله عليه وسلم وکتل مشرکينو ته چې تعداد يې زر تنه و او خپل ملګري يې دري سوه او نولس کسان و، نبي صلی الله عليه وسلم قبلې ته مخامخ شو ، بيا يې لاسونه اوږده کړل او د خپل رب څخه يې مدد غوښته او ويلي يي (اي الله پوره کړه هغه چې تا ما سره وعده کړی، اي الله راکړه هغه چې تا ما سره وعده کړی، اي الله که ته دغه ډله د مسلمانانو هلاکه کړی ، عبادت به (بيا ستا) ونه کړای شي په ځمکه کې، هميشه و رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د الله څخه يې مدد غوښته په داسي حالت کې چې لاسونه يې پورته کړي او مخ په قبله ناست و، تردي چې د اوږو څخه يې څادر ولويده، پس ابو بکر رضي الله عنه راغی او د هغه څادر يې راواخيسته او په اوږه يې ورته واچوه او بيا يې څان ته راجوخت کړ د وروسته نه او ورته يې وويل: اي د الله نبي کافی دي ستا زاری خپل رب ته ، زر ده چې پوره به کړي تاسره رب ستا هغه چې تاسره يې وعده کړی، بيا الله تعالی دا ايات نازل کړ (إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ). سورة الأنفال آية 9) هغه وخت چې کله تاسي خپل رب ته فرياد کاوه. په ځواب کښې هغه وفرمايل چې: زه ستاسي د مرستي لپاره پرله پسي يو زر (١٠٠٠) ملائکي درليږم.

نو الله تعالی يې به ملائکو سره مدد وکړ .

مؤمنانو ورونو! دي واقعي ته که فکر وکړو نو دي حقيقت ته به ورسيږو چې محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم معصوم هم دی، د نيکو اعمالو مثال يې هم نشته، الله ته يو مُقرَّب او نزدې بنده هم دی، خو سره له دې جنګ کې ناست دی، لاسونه يې پورته کړي، او بار بار د خپل رب څخه مدد طلب کوي، نو مونږ او تاسي خو بايد په طريق اولی سره په خپله مبارزه کې خپل رب ته هميش لاسونه پورته کړو او د هغه نه مددونه او نصرتونه طلب کړو!

همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم هره غزوة تاسي مطالعه کړئ چې هغه رب ته ځومره زاری يکې کړی دي د هغې له جملې نه يې بدر کې دا د عاءګاني هم ثابتې دي،

* حديث کې نقل دي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلَاثِ مِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ ، اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ ، اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَأَشْبِعْهُمْ " ، فَفَتَحَ اللَّهُ لَهُ يَوْمَ بَدْرٍ فَانْقَلَبُوا حِينَ انْقَلَبُوا ، وَمَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدْ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوْ جَمَلَيْنِ وَاكْتَسَوْا وَشَبِعُوا (سنن أبي داود: رقم ـ 2370)

ژباړه: د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدر په ورځ د دري سوه او پنځلس کسانو سره ووته، پس رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: (اي الله دوی (صحابه) پياده دي سورلی، ورکړه، اي الله دوی بې جامو دي جامې ورته ورکړه، اي الله دوی وږي دي ماړه يې کړه) ، پس الله دوی ته د بدر په ورځ فتح ورکړه پس راوګرځيدل کله چې راګرځيدل نو هيڅ يو تن د دوی څخه نه و مګر يو او دوه اوښان يې څان سره راوستل، او جامې يې حاصلې کړی او ماړه شول.

* د احد په غزوة کې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم اوږدې دعاګانې وکړي چې په روايت د مسند احمد کې هغه نقل دي:

عن عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ الزُّرَقِيِّ ، قَالَ : لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ ، وَانْكَفَأَ الْمُشْرِكُونَ ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اسْتَوُوا حَتَّى أُثْنِيَ عَلَى رَبِّي " , فَصَارُوا خَلْفَهُ صُفُوفًا ، فَقَالَ : " اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهُ ، اللَّهُمَّ لَا قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ ، وَلَا

بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ ، وَلَا هَادِيَ لِمَا أَضْلَلْتَ ، وَلَا مُضِلَّ لِمَنْ هَدَيْتَ ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ ، وَلَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ ، وَلَا مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ ، وَلَا مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ ، اللَّهُمَّ ابْسُطْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ، وَرَحْمَتِكَ ، وَفَضْلِكَ ، وَرِزْقِكَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ الْمُقِيمَ الَّذِي لَا يَحُولُ وَلَا يَزُولُ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ يَوْمَ الْعَيْلَةِ ، وَالْأَمْنَ يَوْمَ الْخَوْفِ ، اللَّهُمَّ إِنِّي عَائِذٌ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أَعْطَيْتَنَا ، وَشَرِّ مَا مَنَعْتَ ، اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْإِيمَانَ وَزَيِّنْهُ فِي قُلُوبِنَا ، وَكَرِّهْ إِلَيْنَا الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ، وَاجْعَلْنَا مِنَ الرَّاشِدِينَ ، اللَّهُمَّ تَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ، وَأَحْيِنَا مُسْلِمِينَ ، وَأَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِينَ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا مَفْتُونِينَ ، اللَّهُمَّ قَاتِلِ الْكَفَرَةَ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ رُسُلَكَ ، وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِكَ ، وَاجْعَلْ عَلَيْهِمْ رِجْزَكَ وَعَذَابَكَ ، اللَّهُمَّ قَاتِلْ الْكَفَرَةَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَهَ الْحَقِّ" (مسند أحمد: رقم ـ15189)

ژباړه: د عبید بن رفاعه الزرقي څخه روایت دی هغه وایي کله چې د احد ورځ وه او مشرکین وګرځېدل، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: برابر شئ چې په خپل رب ثناء ووایم، (صحابه) د هغه څخه وروسته صفونه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: "اې الله تا لره ټول حمدونه دي، اې الله نشته بندونکی د هغه څه لره چې ته یې پراخوې، او نشته خوشي کونکی د هغه څخه لره چې ته یې ونیسې، او نشته هدایت کونکی هغه چا لره چې ته یې ګمراه کړې، او نشته ګمراه کونکی هغه چا لره چې ته ورته هدایت وکړې، او نشته ورکونکی هغه چا لره چې ته یې تري منعه کړې او نشته منعه کونکی هغه چا لره چې ته یې ورکوې، نشته نږدې کونکی هغه چا لره چې ته یې لرې کړې، او نشته لرې کونکی هغه چا لره چې ته یې نږدې کړې، اې الله موږ باندې خپل برکتونه، رحمتونه، مهربانی، او خپل رزق پراخه کړه ، اې الله زه ستا څخه سوال کوم د همیشني نعمتونو هغه چې نه بندیږي، او نه ختمیږي، اې الله زه ستا نه سوال کوم د نعمتونو (د ستا) په ورځ د احتیاج کې، او د امن (سوال در څخه کوم) په ورځ د ویره کې، اې الله زه پناه غوښتونکی یم د هغه مصیبت څخه چې تا موږ ته راکړی او او د هغه شر نه چې تا زموږ څخه منعه کړی، اې الله موږ ته ایمان خوښ کړه او زموږ زړونه وربانډې خایسته کړه، او کفر، نافرمانې او ګناه راته بد وګرځوه، او موږ د هدایت موندونکو څخه وګرځوه، اې الله موږ ته مرګ راکړه په حالت د اسلام کې او ژوند راکړه په حالت د اسلام کې، او موږ د نیکانو سره یوځای کړه په داسې حالت کې چې شرمنده نه یو او نه په فتنه کې غورځېدونکي، اې الله هغه کفار ووژنه چې ستا د پیغمبر تکذیب یې کړی، او ستا د لارې څخه خلک منعه کوي، او په هغوی باندې ستا عذاب وګرځوه، اې الله ته کفار د یهودو او نصاراو ووژنه، اې حق اله.

* د احزاب په غزوه کې هم رسول الله صلی الله علیه د دښمنانو مقابل کې د خپل رب څخه دعاګانې غوارې،

امام نووی په صحیح مسلم کې باب لرولی: **"بَابُ اسْتِحْبَابِ الدُّعَاءِ بِالنَّصْرِ عِنْدَ لِقَاءِ الْعَدُوِّ"**، باب دی به قبلیدو د دعاء کې په نصرت سره د دښمن سره د مخامخ کیدو پر وخت.

بیا یې روایت ذکر کړی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى ، قَالَ : دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْأَحْزَابِ ، فَقَالَ : " اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ ، اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ" (صحیح مسلم: رقم ـ 3283)

ژباړه: د عبد الله بن ابي اوفی څخه روایت دی هغه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په احزاب (ډلو د کفارو) ښیرا وغوښتې او ویې ویل: اې الله د کتاب نازلونکیه، زر حساب کونکیه، ډلو (د کفارو) ته شکست ورکړه، اې الله هغوی ته شکست ورکړه او زلزله وربانډې راوله.

همدارنګه بعضې روایاتو دا دعاګانې هم ذکر کړی د احزاب په غزا کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: **(اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا ، وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا " ، قَالَ : فَضَرَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وُجُوهَ أَعْدَائِهِ بِالرِّيحِ ، فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِالرِّيحِ)** (مسند أحمد: رقم ـ 10783)

اي الله زمونږ عورتونه پټ کړه، او ويرې مو په امن کړه، راوي وايي: الله تعالی د دښمنانو مخونه په باد ووهل، الله عزوجل په باد شکست ورکړ.

همدارنګه په نورو غزاګانو او مواضعو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه زياتې دعاګانې نقل دي چې رب ته به يې زارۍ کولې، او مددونه به يې ورڅخه طلب کول،

نو هدف دا دی ورونو چې کله مجاهدين غواړي چې خپل رب يې ناصر او مددګار شي، او په خپلو دښمنانو ورته غلبه ورکړی، شرونه ورڅخه دفعه شي او خپل مقصود او هدف ته يې رب العالمين ورسوي نو د دعاء دا اساسي سبب دې له ياده نه وباسي، ددې قوي اسلحې څخه دې ځانونه نه لرې کوي ، ورځ او شپه دې رب ته وژاړي ، لاسونه د احتياج دې ورته پورته کړي او د زړه له تله دې د خپل رب څخه دعاګانې وغواړي، د دعاء د اهميت، شرطونو، آدابو، او موانعو باره کې د (الدعاء) په نوم د العزائم رساله وګورئ.

***

شپږم سبب:
الإکثار من ذکر الله تعالی:

د رب العالمين ذکر کول، خپله ژبه د رب العالمين په ذکر لمده ساتل، خاص طور د قتال او معرکو پر وخت ذکر کول او د دښمنانو سره د مخامخ کيدلو او د هغوی څخه دخوف د احساسولو پر وخت خپل رب يادول دا ذکر به بيا د مؤمنانو سره د نصرت او کاميابۍ سبب وي سورة الأنفال کې ددې خبری تذکره الله تعالی کوي:

هغه فرمايي: **يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَاثۡبُتُوا وَاذۡكُرُوا اللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ** [سُورَةُ الأنفَال : 45]

ژباړه: اي مؤمنانو! کله چې له کومې ډلې سره ستاسي مقابله وي، نو کلک ولاړ اوسئ او الله ډېر ډېر يادوئ. هيله ده چې تاسي ته به کاميابي درپه برخه شي.

امام سعدي په خپل تفسير کې فرمايي: **فالصبر والثبات والإكثار من ذكر اللّه من أكبر الأسباب للنصر.**

ژباړه: صبر، استقامت، او ډير ذکر کول د الله تعالی د نصرت او مدد د لويو اسبابو څخه دي.

نو دي ايات څخه معلوميږي چې د قتال او جنګ پر وخت د خپل رب يادول د هغه ذکر کول دا د فلاح او کاميابۍ سبب دی او دا د نصرت او مدد سبب دی.

تاسي وګورئ د يونس عليه السلام د نجات، او هغه د ماهي له ګيډې څخه راويستلو وجه رب العالمين څه ذکر کوی؟

د هغی وجه هم همدا وه چې هلته يې د رب العالمين ذکر وکړ، هلته يې د رب تسبيحات وويل: الله تعالی فرمايي : **فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ الۡمُسَبِّحِينَ [143] لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ** [سُورَةُ الصَّافات : 144]

ژباړه: نو که هغه له تسبيح کوونکو څخه نه وای،

نو د قيامت تر ورځې پورې به د هماغه ماهي په ګېډه کې پاته شوی وای.

امام قرطبی رحمه د دې ايات باره کې وايي : **أخبر الله - عز وجل - أن يونس كان من المسبحين ، وأن تسبيحه كان سبب نجاته .**

ژباړه: الله عزوجل خبر ورکوي چې يونس عليه السلام د الله پاکې بيانونکی وو او يقينا دا تسبيح د هغه لپاره د نجات سبب شو.

همدارنګه امام بغوي رحمه الله په خپل تفسير کې د دې ايات باره کې وايي: **من الذاكرين لله قبل ذلك ، وكان كثير الذكر .**

ژباړه: يونس عليه السلام د ذکر کونکو څخه و مخکې له دې (ابتلاء څخه هم) او هغه ډير ذکر کونکی و.

نو مجاهدينو ورونو!

مونږ او تاسي هم د هماغه رب بندګان يو د کوم رب تسبيح چې يونس عليه السلام بيان کړه او په بدل کې يې د مهلک ځای څخه نجات ورکړ، که مونږ کې هم دا يقين پيدا شو او په يقين سره مو د رب داسي تسبيحات بيان کړل او د هغه ذکر مو وکړ، رب به مونږ او تاسي ته هم هماغسي نجات راکړي او رب به راسره مرسته خامخا کوی.

کله چې يو مؤمن خپل رب ياد کړی، نو رب العالمين دا بندګان بيا همداسی نه پريږدي بلکې هغه يې بيا په مدد او نصرت سره يادوي:

الله تعالی فرمايي: **فَاذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَاشۡكُرُوا لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ** [سُورَةُ البَقَرَة : 152]

ژباړه: تاسي ما په ياد

ولرئ، زه به تاسي ياد کړم، او زما شکر اداء کړئ د نعمت ناشکري مه کوئ. بعضې مفسرينو د دې ايات معنى دا ذکر کړی چې: **اذکروني بالطاعة والاستجابة لما أمرتکم به والبعد عما نهيتکم عنه أذکرکم بالرعاية، والنصرة، وصلاح الأحوال في الدنيا، وبالرحمة وجزيل الثواب في الآخرة.**

يعنی تاسي ما ياد کړئ به طاعت او زما د اوامرو په قبولوالې او په لرې والې د هغه څه چې ما تاسي د هغه نه منعه کړې ياستی، زه به تاسي ياد کړم په حفاظت او نصرت سره او په اصلاح کولو د دنياوي احوالو او په رحمت او د دنيا او اخرت په غوره بدلو سره.

حديث کې راځی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى : " أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي ، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي ، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي ، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِشِبْرٍ تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا ، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً" (صحيح البخاري: رقم ـ 6880)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: نبي الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالی فرمايي: زه د خپل بنده په ګمان يم چې په ما يې کوي، او زه د هغه سره يم کله چې ما يادوي، که ما په خپل نفس کې ياد کړي نو زه يې هم په خپل نفس کې يادوم، او که ما په يو ټولګې (دخلکو) کې ياد کړي، زه يې د هغه څخه په غوره ټولګې (د ملائکو) کې يادوم، او که هغه ماته يو لويشت رانږدې کيږي زه ورته يو ګز ورنږدې کيږم، او که هغه يو ګز رانږدې کيږي زه دوچند ورنږدې کيږم، که هغه ماته به مزل راځي زه ورته په منډه ورځم!

ورونو دې حديث کې څومره عجيبه او خوشحالونکي جملې دي! هره جمله يې د دنيا او ما فيها څخه قيمتي ده!

که انسان د رب العالمين پدې هره خبره کې فکر وکړي شايد له سترګو يې اوبشکي لاړي شي چې رب العالمين ته خپل بندګانو څومره ګران دي!

او دا جمله **(وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي)** دليل دی چې په ذکر سره د الله مددونه او د رب معيت حاصليږي!

د رب العالمين ذکر د دښمنانو پر وړاندې د هغه ميزايلو او توپونو څخه ډير سخت اثر کونکی دی چې زمونږ په عصر کې دي، تاسی د کفارو او امريکانو رئيس جمهوران وګورئ چې د الوهيت دعوې کوي خو چې په مجلس کې يې يو شخص د تکبير اواز پورته کوي بيا په سټيج نشي ټينګيدلای، دا د رب العالمين د ذکر زور دی،

* امام طبري رحمه الله په خپل تاريخ کې نقل کړی چې د قادسيه په جګړه کې سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه خپلو ملګرو ته وايې :

الْزَمُوا مَوَاقِفَكُمْ لا تَحَرَّكُوا شَيْئًا حَتَّى تُصَلُّوا الظُّهْرَ ، فَإِذَا صَلَّيْتُمُ الظُّهْرَ فَإِنِّي مُكَبِّرٌ تَكْبِيرَةً ، فَكَبِّرُوا وَاسْتَعِدُّوا وَاعْلَمُوا أَنَّ التَّكْبِيرَ لَمْ يُعْطَهُ أَحَدٌ قَبْلَكُمْ ، وَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُعْطِيتُمُوهُ تَأْيِيدًا لَكُمْ ، ثُمَّ إِذَا سَمِعْتُمُ الثَّانِيَةَ فَكَبِّرُوا ولتستتم عُدَّتُكُمْ ، ثُمَّ إِذَا كَبَّرْتُ الثَّالِثَةَ فَكَبِّرُوا ، وَلْيُنَشِّطْ فُرْسَانُكُمُ النَّاسَ لِيَبْرُزُوا وَلِيُطَارِدُوا ، فَإِذَا كَبَّرْتُ الرَّابِعَةَ فَازْحَفُوا جَمِيعًا حَتَّى تُخَالِطُوا عَدُوَّكُمْ ، وَقُولُوا : لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِالله)

ژباړه: خپلو ځايونو باندې پاتې شئ، هيڅ شي ته حرکت مه ورکوئ تر دې چې د غرمې لمونځ وکړئ، کله مو چې د غرمې لمونځ وکړ، زه تکبير وايم تاسي يې هم ووايئ او ځان برابر کړئ، او پدې پوه شئ چې تکبير ستاسي نه وړاندې چاته ندی ورکړل شوی، او پوه شئ چې دا تاسي ته ستاسي د نصرت او ملاتړ لپاره درکړل شوی، کله مو چې دويم واوريده نو تاسي هم تکبير وکړئ او اسباب دې تيار کړای شي ، کله چې ما دريم تکبير وکړ تاسي هم تکبير وکړئ او تيزي دې ورکړي (يا تيار دې کړي) آسونو والا عامو خلکو لره ، چې ميدان ته يې راوباسي او راګير کړي (دښمنان) ، بيا چې ما کله څلورم تکبير وکړ نو بيا ټول حمله وکړئ او په دښمنانو کې ورګډ شئ، او وايئ چې (لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِالله) .

نو دې واقعه کې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

دي خبرې ته اشاره کوي چې په جنګ کې تکبیر دا تاسي ته درکړای شوی، ځکه د جنګ پر وخت د تکبیر ناره د دښمنانو په زړونو کې رعب اچوي، زړونه یې چوي او لکه د ټوپونو ورڅخه لار ورکوي! په اذکارو کې الله تعالی دومره قوت او زور اچولی، چې قسطنطینیة چې اوس ورته اسطنبول وایي دا به رب العالمین د قیامت څخه مخکې په کلمه د توحید او الله اکبر سره فتح کوي حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ ، وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ ؟ " ، قَالُوا : نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، قَالَ : " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَاقَ ، فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا ، فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ ، قَالُوا : لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ، فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا ، قَالَ : ثَوْرٌ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا ، قَالَ : الَّذِي فِي الْبَحْرِ ، ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ : لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ، فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ، ثُمَّ يَقُولُوا الثَّالِثَةَ : لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ، فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُوهَا ، فَيَغْنَمُوا فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ ، فَقَالَ : إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ" (صحيح مسلم: رقم ـ 5203)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: یقینا نبي الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسي په هغه ښار سره اوریدلي چې یو طرف یې په وچه او بل طرف یې په بحر کې دی؟ هغوی وویل: هو اې د الله رسوله هغه وویل: تر هغه به قیامت قائم نشي ترڅو چې اویا زره د بني اسحاق (غیر عرب) څخه په هغې غزا ونکړي، کله چې هغې ته راشي نو دیره به شي (محاصره به یې کړي)، نه به په اسلحه جنګ کوي او نه به غشي ولي، دوی به وایي (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) پس یو طرف به یې نسکور شي، ثور (راوي د حدیث) وایي زه ګمان نکوم (په ابوهريره) مګر ویې ویل چې دا به په بحر کې وي، بیا به دویم ځل ووایي (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) بل طرف به یې هم نسکور شي، بیا به دریم ځل ووایي (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) پس فتح به کړای شي دوی ته نو داخل به شي دوی هغې ته غنیمتونه به حاصل کړي پدي وخت کې دوی به غنیمتونه تقسیموي چې یو اواز کونکی به راشي او وبه وایي: یقینا د جا ل

راوتلـــی دی، دوی بـــه ټـــول شـیان پریـږدي او واپـس بـه شي .

نـــو مؤمنانـــو مجاهدینـــو ورونـــو!

د قتال او جهاد په سنګرونو کې د رب العالمين ذکر هغه اسلحه او قوی سبب دی د نصرت، چې ددې په سبب د دښمن قوي سنګرونه او قلعاګانې په زلزلی سره بدلیږي ، د همدې سبب په واسطه د رب العالمین دښمنان د جنګ د مورچو نه د تسلیمۍ ذلت ته راکوزیږي تاریخ پدې باندی ګواه دی چې د رسول الله صلی الله علیه په زمانه کې د الله اکبر په اوازونو به د دښمنانو زړونه چاودیدل، خپلی قلعاګانې به یې پریښودلې!

ډیر افسوس دی نن په هغه تنظیمونو چې د جنګ په میدان کې په ځای د دې چې خپل رب یاد کړي ، د رب العالمین ذکر وکړي ، هغوی رقصونه او ګډاګانې کوي ، هغوی هلته په ناز او نخرو اترونه کوي، خو له دوی ګیله نده پکار ځکه دوی د اسلام له مسير کاږه شوي ، د هغه اهدافو لپاره چې جهاد او قتال د کفارو سره کيږي هغه هدف دوی نلري ، د دې ترڅنګ بیا د داسې خلکو حال په جنګونو کې دا وي چې الله تعالی ثبات او استقامت نه ورپه برخه کوی، او نه ورسره د الله مرسته او کومک وي، نو په هره معرکه کې یې دښمن ته بیا شاه اړولې وي او د شکست، ذلت، او تاوان سره مخامخ شوی وي، نو حقیقي مجاهدین به د قتال او جهاد په صف کې، د معرکي او جنګ په وختونو کې هیڅکله هم خپل ر ب له

یاده نه باسي تر څو د خپل رب نصرت او مدد راخپل کړی ، دا و دري نور اسباب د نصرت او تمکین چې باید هر مجاهد یې خپل عمل کې راولي باقي نور اسباب به د الله په توفیق راتلونکې ګڼه کې ولولئ.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِه وصَحْبِه أجمَعِين .

نیـول د سـرو سـکروټو پـه جذبـې د مینـې راز دی
وړې وړې سـلګۍ، اوږدې سـجدې د مینـې راز دی

لـه پاسـه پـرې بـاران وي د بمونـو او کـروزونـو
پـه خولـه د مجاهـد تکبیـر نعـرې د مینـې راز دی

د رب لپـاره ولـړې، تنـدې، هـره سـختۍ زغمـي
دا مـات رامـات بـدن او سـترګې سـرې د مینـې راز دی

چانتـه، ټوپـک، بـدن یـې ټـول پـه وینـو کـې لـت پـت وو
مسـکی شـو ویـل سـینه کـې مـې چـرې د مینـې راز دی

بـارودو تـه چـې غـاړه ورکـوي د مـرګ سـودا کـړي
نـو پـه مـخ یـې د خنـدا خـورې خپـې د مینـې راز دی

دولـت د خلافـت چـې کـوم ثبـات اسـتقامت کـړي
دا سـتر فـولادي عـزم، ارادې د مینـې راز دی

زنـدان دی، کـه هجـران دی کـه زخمونـه شـهادت دی
دا ټولـې ښـې ښایسـته خـورې شـیبې د مینـې راز دی

غونـډ ملګـري، تـور بیـرغ د سـپین غـر څوکـه
زړه راښـکونکې مزیـدارې خاطـرې د مینـې راز دی

الله يې ارمان پوره کړ!

لنډه کیسه

الله يې ارمان پوره کړ!

امریکایي اشغالګرو په خراسان ولایت کې عملیات ترسره کول، د دې عملیاتو اته میاشتې شاوخوا شوې وې، پدې عملیاتو کې اربکیان، اردو، کمانډویان او د امریکایانو په شمول هر ډول مرتدین راجمع شوي و، او هوا هم د مختلفو ډولونو الوتکو څخه نه خالي کیدله، خو انغماسي کتیبو هم په لوړ مرال لومړۍ کرښه د الله تعالی په مدد ښه ټینګه ساتله، امریکایانو او ورسره نورو وحشیانو به ډیر کوښښ کاوه، چې مخکې تګ وکړي، خو خبر به نه وو چې د اسلامي دولت شازلمیان، د خالد بن ولید او ابو عبیده بن جراح بچیانو ورته سنګرونه نیولي دي او د هغوی هډونه به یې د الله عزوجل په مرسته ورمات کړل، ټوله خواري به یې ورته د الله تعالی په خاص مدد سره په اوبو وبوړله، امریکا او د هغوی سره اشر کوونکو د هیڅ شي صرفه نه کوله، جیټ الوتکو، (B52) الوتکو، هیلي کوپټرو، چار ماشینو، بې پیلوټه الوتکو، هاوانونو، کروز میزایلو او داسې نورو ټولو به خپله شیبه کوله.

خو هیڅ شي به ورته فائده نه ورکوله، یوه ورځ چارماشینه په بمبارۍ اخته وه یوه ملګري وخندل ویل دا خو سم ډیپو دی بیخي خالي کیږي نه!

ان تردې چې د بمونو مور یې د خراسان ولایت په یوه ساحه وغورځوله چې دا هم د چا نه پټه نده.

پدې کې به بیا هم بعضو جاهلو خلکو ویل چې دا د امریکا پروژه ده، او په سترګو یې پټې وې دا بمبارۍ او کروز توغندي یې نه لیدل!

نا بلکې دا هر څه یې لیدل مګر ډالرو یې سترګې پټې کړې وې.

یو طرفته د امریکا له خوا نه عملیات و او د بلې خوا نه د آی ایس آی او بایډن ملیشو هم پوره زور لګولی و، ترڅو اسلامي دولت باندې بریدونه وکړي، خو لله الحمد هغوی هم الله تعالی ناکامۍ سره مخ کړل او خوار او ذلیله په داسې حال کې وتښتېدل چې د مردارو څخه یې د خراسان غرونه ډک ول، او اسلامي لښکري نوري هم مخ په وړاندې لاړې، الله تعالی د پاک اسلامي نظام لپاره قرباني ورکوونکو شازلمیانو ته فتحې ورکړې او ډیرې ساحې د

مجاهدینو د تسلط لاندې الله عزوجل راوستلي، د امریکا او ټالب ملیشو تبلیغاتو او پروپاګندو د اسلامي دولت صف کمزوری نه کړ، بلکې ډلې ډلې خلک به را روان وو او د اسلامي نظام په خدمت کې به یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کولې، پدې کې درې ملګرو هم د اسلامي دولت (تمکین) ته هجرت کړی و چې د یوه نوم یې وقاص تقبله الله و، وقاص تقبله الله ډېر د ښو اخلاقو خاوند و، دنګه ونه یې درلودله، په سپین مخ یې د مبارکې ږیرې نري ویښتانو د وقاص تقبله الله ښکلا لا زیاته کړې وه، هر وخت به یې د مسکا په حالت کې خبرې کولې، وقاص تقبله الله ته په طاغوت کې مکتبونو خوند نه ورکاوه نو ځکه یې د اسلامي خلافت شرعي نظام ته اوږه ور لاندې کړه او خپله پسته زندګي یې د رب لپاره پرېښوده، وقاص تقبله الله په مرکز کې د خدمت سره سره په خط کې هم ډېر وخت تېراوه، اکثره وخت به خط کې وو، او کله به چې مرکز ته راغی نو ټول خدمت به هغه په خپله خوښه کاوه او بل ملګری به یې نه پرېښوده چې خدمت وکړي، کله به چې مجلس کې ناست و اکثره وخت به یې د جنت د نعمتونو او د جهنم د عذابونو تذکره کوله، او ویل یې چې د دنیا ښځې بې وفا دي د اخرت ښځې (حوري) ښایسته او وفادارې دي.

یوه ورځ مرتدینو د امریکایي الوتکو په بدرګه د اسلامي دولت په خطونو باندې هجوم راوړ، نو د دغه ساحې مسوول سعد امارتي تقبله الله و، زه او یو بل ملګری یې خط ته ولیږلو، ویل یې هلته سلیم او یو بل ملګری دی هغه دېخوا راولیږئ او تاسې هلته خط کې ایسار شئ ځکه سلیم او هغه بل ملګري په خط کې ډېر وخت تېر کړی و، کله چې مونږ ورغلو نو سلام او روغبړ مو ټولو ملګرو سره وکړ، له یوې خوا څخه سلیم او هغه بل ملګری خوشحاله شول او کله مو چې ورته وویل چې تاسې مرکز ته لاړ شئ، اوس هم راته یاد دي چې دواړو وژړل او ویل یې: اوس چې مرتدینو د رامخکې کېدو هوډ کړی مونږ لېږئ، مونږ نه ځو، کله مې چې ورته وویل چې امیر صاحب تقبله الله ویل چې تاسې مرکز ته لاړ شئ، روان شول خو هماغسې یې ژړل، بیا ما د هغوی د تسلۍ لپاره ورته وویل: ګوره مونږ او تاسې به اطاعت کوو، اوس ستاسې جهاد او قتال دا دی چې تاسې مرکز ته لاړ شئ ځکه امیر امر کړی دی، او تاسې ته به الله تعالی پوره اجر درکوي ان شاءالله کله چې تاسې اطاعت وکړئ، او که په بې اطاعتۍ دا ټوله دنیا فتحه هم کړئ نو هسې جنګ به مو کړی وي او اجر نشته، په جهادونو کې اطاعت ضرور دی، نو دواړه بیا لاړل او د امیر صاحب تقبله الله خواته ورغلل.

وخت تېرېده مرتدینو به ډېر کوښښ کاوه، چې مخکې لاړ شي خو د اسلامي دولت ننګیالیو شازلمو به د الله تعالی په مدد داسې منډه ورکړه چې بېرته به یې شاته نه کتل او هر څه به تري پاتې وو، یوه ورځ مرکز کې وم زمونږ امیر صاحب وویل: څوک به خط ته دا ډوډۍ یوسي؟ وقاص تقبله الله زر وویل زه یې وړم، امیر صاحب وقاص تقبله الله ته وویل ته ستړی یې ته نه، بلکې کوم بل ملګری به یې یوسي، مګر هغه ټینګار کاوه، امیر صاحب وقاص او ورسره یو بل ملګري ته د خط مجاهدینو لپاره ډوډۍ او څه نور سامان ورکړل چې هلته یې ور ورسوي.

دا چې خطونو د پخوانیو ځایونو څخه تغیر شوي وو

او وقاص او ورسره بل ملګري هغه د خط نوي ځايونه نه وو ليدلي، او مخابره هم ورسره نه وه او فکر يې کړی وو چې مجاهدين به په زاړه ځای کې وي، نو هلته چې تللي وو مرتدينو پرې سم د مردکيو باران جوړ کړی وو دواړه الله عزوجل بچ کړي وو او بېرته مرکز ته راغلل، او سامانونه يې يو پټ ځای کې ايښي وو، دوی چې راغلل او واقعه يې بيان کړه ملګرو ورته ويل الحمدلله چې تاسې الله تعالی بچ کړئ نور به کېږي، امير صاحب چې خبر شو، ورته يې وويل چې د الله تعالی بنده ګانو نن دربيمه ورځ ده چې مجاهدينو څه ندي خوړلي، او سامان هم ورسره په خلاصيدو دی، چې ځای در معلوم نه وو او مخابره مو هم ځان سره نه وه وړې بيا به نور ملګري تللي وای، تاسې دا څه وکړل نوره خو تياره کېږي بيا د شپې تلل ښه نه دي، تاسې ايسار شئ نور ملګري به يې يوسي، نو وقاص تقبله الله وويل: چې نه! مونږ ته سامان معلوم دی مونږ يې وړو، چې امير صاحب هر څومره ټينګار پرې وکړ ويل مونږ يې وړو بل چا ته سامان نه ورښايو، دا ځل پرې ځان شهيد کوم خو سامان ورته د الله تعالى په مدد سره رسوم ان شاءالله که هر څنګه وي مونږ يې وړو!!

امير صاحب ورته مسکی شو ويل مرتدين مردار کړه ځان پرې مه شهيد کوه، وقاص ما ته مخ را واړوو ويې ويل: الله تعالى خو دې دا ځل شهادت را په نصيب کړي هسې نه ګمراه نشو، او حرکت يې وکړ، سبا سهار بيا مرتدينو د امريکايي الوتکو په بدرګه په خطونو تعرض وکړ، مجاهدينو هم ورته سرونه ټيټ نکړل د الله تعالى په مرسته او کمک يې ترې ډېرې مرداري پاتې کړې، وقاص تقبله الله سره به ډېرى وخت پيکا وه په دغه وخت کې هم ورسره پيکا وه ډېر مرتدين يې مردار کړي ول، مرتدينو په تيښتې ځان خلاص کړی وو، نور مرتدين چې خبر شول نو د لاندې ساحو نه يې د ډېر زيات توپونو او هوانونو فايرونه وکړل، چې په آخره کې وقاص د هوان په چره په سر لګيدلی وو او زخمي شوی وو، د سهار لمر روښانه شوی وو په مرکز کې مو چای وڅښلو او د مرتدينو د تعرض په اړه مو خبرې کولې چې ناګهانه د خط يو ملګری مرکز ته را دننه شو، مونږ ورڅخه د حال پوښتنه وکړه ويل يې مرتدين الله تعالى ذليله کړل خو زمونږ ملګرى وقاص يې راوړ زخمي دی، دې خبرې اوريدو سره په مرکز کې يو ملګری پاتې شو او نور ټول د وقاص څنګ ته ورغلو، د وقاص سر يې تړلی دی او د سر څخه يې وينه بهېږي وقاص خبرې نشي کولی او سترګې يې پټې دي او دواړه لاسونو ته به يې د مسکا په حالت کې په داسې شکل زور ورکړ لکه يو کس چې چاته ټينګه غاړه ورکړي او مسکا به يې هم ورسره وکړه، مونږ به ورته غږونه کول وقاص جانه وه وقاص جانه!

وقاص بيخي داسې وو لکه يو کس چې ويده وي او په خوب کې خاندي، مونږ به ورته خبرې کولې هيڅ نه پوهېده خو ليکن مسکا به يې کوله داسې مسکا چې ډير وخت به موسکى وو، ډاکترانو صاحبانو ته دې الله عزوجل اجر عظيم ورکړي خپل کوښښ يې وکړ، زخمونه يې ورته پټی کړل او ستنې وغيره يې ورته وکړل، اخر د څو دقيقو وروسته يې د رب له خوا راليږل شويو ملايکو روح قبض کړ، تقبله الله.

ټولو ملګرو انا لله وانا اليه راجعون وويل او وقاص تقبله الله د ملګرو نه په دنيا کې تر ابده جدا شو.

[رواه الإمام أحمد في مسنده وهو حديث حسن]

نبي ﷺ وفرمایل: زر دې چې پر تاسې به ټول (کفري او باطل) امتونه له هر اړخه داسې راټول شي، لکه څنګه چې وږي خلک پر کاسه راټولیږي. ثوبان رضي الله عنه وايي: اې د الله رسوله! آیا مونږ به پدغه ورځ کم یو؟ هغه وفرمایل: تاسو به پدغه ورځ ډیر یاست، خو تاسې به د سیلاب د ځګ په څیر یاست، د دښمن له زړونو څخه به ستاسې رعب ووځي، او ستاسې په زړونو کې به د وهن مرض واچوي. مونږ ورته وویل: وهن مرض څه ته وايي؟ هغه وویل: د ژوند مینه او د مرګ بد ګڼل.

استدلال:

نبي ﷺ پدې حدیث کې ویلي چې پر تاسې به قومونه راټولیږي، دا یې ندي ویلي چې پر خوارجو به راټولیږي او نه هم په استخباراتي کړیو، او دا د اهل حق نښه ده او نن همدا حال زمونږ دی چې هر څوک خپل وار ته ګوري او په موږ قولي او فعلي اقدام کوي.

مؤسسة العزائم

يي وړاندې کوي